وَكَـــــــفَى بِرَبِّکَ هَادِيـــــــاًوَّنَصـــــــيْرًا

بُرْهَانُ الصَّرْفُ

مؤلف: العبدالاحقرعـــــــبيدالله عـــــبيد گلشاخيل

اهداء : تول امت محمدي ته

كـــــال: 25\ 7 \ 2019 ::: ١٣٩٨\ اسد\ ٤ :: ١٤٤٠\ ذى القعده

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat .com

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com



1	دکتاب نوم	برهان الصرف شرح بارشاد الصرف
2	لیکوال	العبدالاحقر طالب العلم عبیدالله عبید گلشاخیل
3	ترتیب کونکی	العبدالاحقر طالب العلم عبیدالله عبید گلشاخیل
4	تاریخ اختتام	25\7\2019* 1398\اسد\4*1440\ ذی القعدة
5	اهداء	زما والدینو او امت اسلامی ته
6	شماره تماس	0771508473

الخطبة التحميدية

الحمدلله الذي لامثل له ولاند له ولامثال له ولاضد له والذي اخرج الحى من الميت واخرج الميت من الحى والذي لاشريک له ولانظير له والصلاة والسلام على من لانبى بعده والذي سيدالانبياء والمرسلين وعلى اله الطيبين الطاهرين من النسبه ومن الحسبه وعلى اصحابه هم هم خير الخلائق بعد الانبياء ونشهد ان الا اله الله وحده لاشريک له ومن يشرک فى ذاته وصفاته واياته فعليه الخسران والوبال ونشهد ان سيدنا وحبيبنا وشفيعنا محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم من يتبرک به وبجماله وباثاره وباصحابه وبالاوليائه وبكل تقى ونقى كان من الافضلين والابرار

صدق الله مونا وصدق رسوله الكريم والحمدلله رب العلمين

Maktaba Tul Ishaat.com

۱	فائده	۱۰
۲	لومړی قانون د ضَرَبْنَ لومړی قانون	۱۰
۳	دوهم قانون د ضَرَبْنَ دوهم قانون	۱۱
۴	دریم قانون د ضَرَبْتُمْ او اَنْتُمْ قانون	۱۱
۵	څلورم قانون د ماضی مجهولی قانون	۱۲
۶	پنځم قانون د مضارع مجهولی قانون	۱۴
۷	شپږم قانون د اسم فاعل قانون	۱۵
۸	اووم قانون د اسم مفعول قانون	۱۷
۹	فائده	۲۰
۱۰	اتم قانون د مده زائده قانون	۲۴
۱۱	نهم قانون د اضافت قانون	۲۵
۱۲	لسم قانون دنون تنوین اونون خفیفه قانون	۲۸
۱۳	یوولسم قانون د نون اعرابي قانون	۲۹
۱۴	دولسم قانون د یرملون قانون	۳۱
۱۵	دریالسم قانون د یَنْبَغِیْ قانون	۳۳
۱۶	څوارلسم قانون د امر حاضر قانون	۳۴
۱۷	پنځلسم قانون د اِضْرِبْنَانِّ قانون	۳۸
۱۸	شپاړلسم قانون د اسم ظرف قانون	۴۱
۱۹	اووه لسم قانون دضُوْرِبَ اومَضَارِیْبُ قانون	۴۴
۲۰	فائده	۴۵
۲۱	اته لسم قانون دالف مکسوره اوالف ممدوده قانون	۴۵
۲۲	نولسم قانون د حلقی العین قانون	۵۳
۲۳	شلم قانون د تِعْلَمُ،اِعْلَمُ او نِعْلَمُ قانون	۵۴
۲۴	یوویشتم قانون د شَرَائِفُ قانون	۵۶
	۵۷25	
26	الفائدة العظيمة دمجردو صيغو پيژندنه	۵۷
27	فائده	۵۷

28	لومړی قانون د همزه وصلي او قطعي قانون	۵۹
29	دوهم قانون د يُكْرِمُ او يُصَرِّفُ قانون	۶۱
30	دريم قانون د يُكْرِمُ او يَتَصَرَّفُ قانون	۶۲
31	څلورم قانون د تَصَرَّفُ او تَضَارَبُ قانون	۶۳
32	پنځم قانون د تُصُرِّفَ قانون	۶۴
33	شپږم قانون د اُكْتُسِبَ قانون	۶۶
34	اووم قانون د اِتَّقَدَ او اِتَّسَرَ قانون	۶۷
35	اتم قانون د اِسَّمَعَ او اِشَّبَهَ قانون	۶۹
36	نهم قانون د اِطَّلَم او اِظَّلَمَ قانون	۷۰
37	لسم قانون د اِدَّكَرَ او اِذَّكَرَ قانون	۷۴
38	يوولسم قانون د اِثَّبَتَ او اِتَّبَتَ قانون	۷۷
39	دولسم قانون د خَصَّمَ او كَظَّمَ قانون	۷۹
40	دريالسم قانون د حروفو شمسي او قمري قانون	۸۳
41	څوارلسم قانون د لَمْيَحْمَرَّ،لَمْيَحْمَرِّاولَمْيَحْمَرِرْ قانون الفائدة العظيمة	۸۴
42	لومړی قانون د قَالَاوبَاعَ قانون	۸۷
43	فـــائـــده	۸۹
44	دوهم قانون د التقاءساكنين قانون	۹۱
45	دريم قانون د قُلْنَ،طَلْنَ قانون	۹۲
46	څلورم قانون د حِفْنَ،بِعْنَ قانون	۹۳

Maktaba Tul Ishaat.com

47	پنځم قانون د قِيْلَ،بِيْعَ قانون	۹۷
48	شپږم قانون د يَقُوْلُ،يَبِيْعُ قانون	۹۹
49	اووم قانون د يُقَالُ،يُبَاعُ قانون	۱۰۰
50	اتم قانون دقَائِلٌاوبَائِعٌ قانون	۱۰۱
51	فـــائـــده	۱۰۴
52	نهم قانون د قِيَالٌاورِيَاضٌ قانون	۱۱۰
53	لسم قانون د قُوَيِّلٌاوقُوَيِّلَةٌ قانون	۱۱۱
54	يوولسم قانون د قُوْلَنَّ قانون	۱۱۴
55	لومړی قانون د دُعَاءٌ او مِرْمَاءٌ قانون	۱۱۵
56	دوهم قانون د دُعِيَ قانون	۱۱۶
57	دريم قانون د دُعَا قانون	۱۱۹
58	څلورم قانون د يَدْعُوْ،يَرْمِيْ قانون	۱۲۳
59	پنځم قانون د يُدْعى قانون	۱۲۶
60	شپږم قانون د دِعِيٌّ اول قانون	۱۲۷
61	فـــائـــده	۱۲۷
62	اووم قانون د دِعِيٌّ دوهم قانون	۱۳۰
663	اتم قانون د لَمْيَدْعُ،لَمْيُدْعَ قانون	۱۳۲
64	نهم قانون د لِتُدْعَوُنَّ،لِتُدْعَيِنَّ قانون	۱۳۳
65	لسم قانون د فَتْوى او تَقْوى قانون	۱۳۵

66	يوولسم قانون د رَحَايَا او اَدَاوَا قانون	١٣٦
67	دولسم قانون د رُخَىٌّ،رُخَيَّةٌ قانون	١٣٧
68	ديارلسم قانون د قَوِيَتْ،طَوِيَتْ قانون	١٣٩
69	څوارلسم قانون د رَمُوَ قانون	١٤٠
70	لومړی قانون د يَامَنُ،يُوْمِنُ قانون	١٤١
71	دوهم قانون د آمَنَ،اِيْمَانٌ قانون	١٤٣
72	دريم قانون د جُوَنٌ،مِيَرٌ قانون	١٤٤
73	څلورم قانون د جَاءٍ،اُوَيْدِمُ قانون	١٤٥
74	پنځم قانون د يَسَلُ قانون	١٤٥
75	شپږم قانون د خَطِيَّةٌ،مَقْرُوَّةٌ قانون	١٤٧
76	اووم قانون د قِرَئْىٌ قانون	١٤٩
77	اتم قانون د سَالَ قانون	١٥١
78	نهم قانون د سُولَ قانون	١٥٢
79	لسم قانون د اَلْحَسَنْ،اَلْئَنْ قانون	١٥٢
80	فـــائـــده	١٥٢
81	لومړی قانون د مضاعف لومړی قانون	١٥٣
82	دوهم قانون د مضاعف دوهم قانون	١٥٥
83	دريم قانون د مضاعف دريم قانون	١٥٦
84	څلورم قانون د مضاعف څلورم قانون	١٥٧

Maktaba Tul Ishaat.com

85	الفوائد المهمة	۱۷۴
86	۵۰ مشكلو صيغو حل	۱۷۸
87	زماليكل شوي او ژبارل شوي كتابونه	۱۹۱

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَلَمِيْنَ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ وَالصَّلوٰةُ وَالسَّلامُ عَلى رَسُوْلِهِ مُحَمَّدٍ وَ اٰلِه وَ اَصْحَابِه اَجْمَعِيْنَ ط

(فـايـده)

دتانيث علامې

د تانيث علامې اته(۸)دي څلور په فعل کې او څلور په اسم کې ...

څلور علامې د تانيث په فعل کې دادي:

۱:- تاۍ سکنه به وي لکه:- ضَرَبَتْ

۲:- نون مفتوحه به وي لکه:- ضَرَبْنَ

۳:- تاۍ مکسوره به وي لکه:- ضَرَبْتِ

۴:- ياۍ ساکنه به وي لکه:- تَضْرِبِيْنَ

هغه څلور نښانې يا علامې د تانيث چې په اسم کې دي،هغه دادي:

۱:- تاۍ ملفوظه به وي لکه:- طَلْحَةُ

۲:- تاۍ مقدره به وي لکه:- اَرْضٌ

۳:- الف مکسوره زائده به وي لکه:- حُبْلٰى

۴:- الف ممدوده زائده به وي لکه:- حَمْرَاءُ

قانون: اجتماع دوعلامات تانيث درفعل مطلقا ممنوع است ودراسم وقتى كه ازيک جنس باشد

لـــــــومـــــرى قـــــــانـــــــــون

ديدې قانون نوم دى د ضَرَبْنَ لومړى قانون،پدې قانون کې يـــو حكم او درى شرطونه دي، له دريو شرطونو څخه يو شرط د فعل لپاره او دوه شرطونه د اسم لپاره دى.

حـــكـــم:- د دوو علاماتو تانيث څخه د يوه حذف كول واجب دي.

د فعل شرط :- په فعل کې دوه علامات تانيث مطلقاً جمع وي،اختررازي مثال: ضَرَبَتْ

اتفاقي مثال: د ضَرَبَتْنَ څخه د ضَرَبَنَ ويل واجب دى.

د اسم لومړى شرط :- دوه علامات تانيث به جمع وي،اختررازي مثال: ضَارِبَةٌ

Maktaba Tul Ishaat.com

د اسم دوهم شرط :- دوه علامات تانيث به له يوه جنس څخه وي،اختزازي مثال: ضُرْبَيَاتٌ اتفاقي مثال: د ضَارِبَتَاتٌ څخه د ضاَرِبَاتٌ ويل واجب دي.

تشريح: خلاصه دقانون داده چي كله دوه علامات تانيث راشي نوداعلامات تانيث به خالي نه وي يابه په فعل كي وي يابه اسم كي وي كه په فعل كي وو نوددغو دوه علاماتوڅخه به يوه ضرورحذف كيږي مطلقا دامعنى چي كه له يوه جنسه وي يا مختلف الجنس وي په فعل كي مطلقا دوه علامات ځكه حذفيږي چي فعل په نسبت سره اسم ته ثقيل دى ځكه فعل په حدث نسبت او زمان دلالت كوي يا ځكه فعل ثقيل دى په نسبت سره اسم ته چي فعل پوري ضمائربارزه ملحق كيږي اواسم كي بيا دادواړه صفات نشته نه په حدث نسبت زمان دلالت كوي اونه ورپوري ضمائرملحق كيږي دفعل مثال لكه ضَرَبْتُنَ كي چي دوه علامات راغلل يوه تاء ساكنه ده اوبل نون دجمع مونث دى نواوس داخبره چي كومه يوه علامه به حذف كيږي نوتاء حذف شوه ځكه چي نون نه حذف كيږي ځكه نون علامه دتانيث ده مګر ضمير هم دى والضميرلاتحذف تاء به حذف كيږي اوكه چيري دوه علامات په اسم كي راغلل نو اوس به كتل كيږي چي له يوه جنسه دي اوكه مختلف الجنس دي كه مختلف الجنس وو نوبيا نه حذف كيږي اوله يوه جنسه وو بيا به يوه علامه دتانيث حذف كيږي لكه ضَارِبَتَاتٌ دلته هم دوه علامي دتانيث راغلى دي چي يوه هغه تاء ده چي په مفردي كي وه(ضاربةٌ)اوبله علامه يى اخري تاء چي علامه دجمع مونث ده ده نو دوه علامي يوځاى شوي له يوه جنسه اوله تاء حذف شوه اودوهمه حذف نه شوه ځكه داعلامه دجمعي ده والعلامة لاتحذف (مراح الارواح)

سوال : ضربياتٌ كي دوه علامي دتانيث راغلي يوه ياء دوحدت ده اوبل اخري تاء ده كومه چي علامه دجمع مونث ده نوبايد يوه حذف شي الجواب دادوه علامي په اسم كي راغلي او مختلف الجنس دي

قانون: اجتماع اربع حركات متواليات دريک كلمه وحكم وى ممنوع است

دوهـــــم قـــــانـــــــون

ديدې قانون نوم دى د ضَرَبْنَ دوهم قانون،پدې قانون كې يــو حكم او درى شرطونه دي.
حـكـم:- په يوه كلمه كې د څلورو حركاتو څخه د يوه حركت حذف كول واجب دي.
لومړى شرط :- په يوه كلمه كې به څلور حركت وي،اختزازي مثال:ضَرَبَ

دوهم شرط :- په يوه كلمه كې به څلور حركت متصل وي،اختازي مثال: تَدَخْرَجَ
دريم شرط :- په يوه كلمه كې به څلور حركت يو ځای راغلی وي،هغه كه حقيقتاً يو كلمه كې وي يا حكماً،احترازي مثال: ضَرَبَكَ
اتفاقي مثال: له ضَرَبَنَ څخه د ضَرَبْنَ ويل واجب دي.

تشريح: خلاصه دقانون داده چي كله په يوه كلمه كي څلورحركات متصل سره راشي يوه كلمه عامه ده كه حقيقة يوه كلمه وي ياحكما نوددغه څلوروحركاتوڅخه به يوه حذف كيږي وجه دحذف يی داده چي كه حذف نشي نوبياتوالي داربع حركاتوراځي اوداتوالي په ژبه كي ثقل پيداكوي نوپه همدي بناء به يوحركت حذف كيږي داكلمه عامه ده كه حقيقة يوه كلمه وي لكه يَضْرِبُ چي كله ماضي وه نو ضَرَبَ وه كله چي فعل مضارع جوړيده نو حرف اتين ورسره پيوسته شو نو يَضَرِبُ شو وروسته مو دضربن دوهم قانون جاري كړو يَضْرِبُ شو تر څو توالی داربعه حركاتو رانشي ځكه دا مستكره ده (مراح)

خو دا خبره چي په يَضْرِبُ كي فاء كلمه ولي ساكنه شوه نو وجه داده چي توالي داربعه حركاتو دياء دزيادت له وجهي لازميدله نو اولی خبره داده چي هغه شی به ساكن شي چي قريب وي ياء ته

ياحكما يوه كلمه وي لكه ضَرَبَنَ نو دلته نون اګر كه يوه كلمه نده ليكن دشدت اتصال له وجهي چي نون ضمير دفاعل دی او فاعل متصل وي دفعل سره نو دا داسي شو لكه عين يوه كلمه اصل كي ضَرَبَ دنون دپيوسته كيدو له وجهي توالی داربعه حركاتو راتله نو هغه شی چي قريب وو نون ته چي باء ده ساكن شو (مراح)نوپه همدي بناء ضرب تري خارج شوځكه دلته دری حركات دي اوهمدارنګه تدحرج هم تري خارج شوځكه چي دلته اګركه څلورحركات شته ليكن متصل نه دي اوهمدارنګه ضربک هم تري خارج شوځكه دانه حقيقة يوه كلمه ده اونه حكما ځكه په ضربک كي ضرب ځانته اوک ځان ته ضميرمنصوب منفصل دی اوضميرمنصوب دفعل سره يوځای كيدای نشي ځكه ترمنځ يی شدت اتصال نشته ياځكه حكمايوه كلمه نشي كيدلی چي ک ضميرمنصوب منصوب دی اوضميرمنصوب فضله وي اودفضله څخه بغيرهم جمله تامه كيدی شي

اتفاقي مثال يی ضَرَبَنَ دی ټول شرائط پكي موجودشول نويوحركت حذف شو

Maktaba Tul Ishaat.com

(حقيقتة اوحكمايوه كلمه)

حقيقة يوه كلمه دامعنى چي داځلورحركاته به په نفس يوه كلمه كي راغلي وي

لكه يَضرِبُ الخ اوحكاما دامعنى چي داځلورحركآته په يوه كلمه كي نه وي مگردكوم مناسبت اومشابهت له وجهى داسي گرځيدلي وي لكه يوه كلمه لكه ضَرَبَنَ دااگركه يوه كلمه نده يعنى ضرب ځانته اونون ځانته دى ليكن دشدت اتصال له وجهي داسي وگرځيده لكه جزء دكلمي ځكه نون علامه دجمع مونثي ده اوفاعل ده اوفاعل خووي دخپل فعل سره متصل نوپه حكم ديوي كلمي كي شول

قانون هرواوكه واقع شود درآخراسم غيرمتمكن ماقبلش مضموم آن واو راحذف كنندمگرواو هُوَ

دريـــم قـــــانـــــــون

ديدې قانون نوم دى د ضَرَبْتُمْ او اَنْتُمْ قانون،پدې قانون كې يـو حكم او شپږ شرطونه دي.
حـكـم: د واؤ حذف كول او ما قبل يې ساكنول واجب دي.
لومړى شرط : واؤ به وي، اختررازي مثال: حَيُّ
دوهم شرط : واؤ به په آخر كې وي، اختررازي مثال: اَنْزَلْتُمُوْهُ
دريم شرط : واؤ به د اسم په آخر كې وي، اختررازي مثال: يَدْعُوْا
څلورم شرط : واؤ به د اسم غير متمكن په آخر كې وي، اختررازي مثال: دَلْوٌ
پنځم شرط : د واؤ ما قبل به مضموم وي، اختررازي مثال: ضَرَبْتَوْ
شپږم شرط : كلمه به له دري حروفو څخه كم نه وي، اختررازي مثال: هُوَ
اتفاقي مثال: د ضَرَبْتُمُوْ او اَنْتُمُوْ څخه د ضَرَبْتُمْ او اَنْتُمْ ويل واجب دي.

تشريح: دقانون خلاصه داده چي كله واوداسم غيرمتمكن په اخر كي راشي اواقل تعداد دحروفويى درى وي اوماقبل يى مضموم وي نودا واوبه وجوبا حذف اوماقبل به يى ساكن كيږي لكه په ضربتموا كي داځكه حذف كيږي چي تُمُوْا دلته په منزله داسم سره دى اوداقاعده ده چي داسي اسم هيڅ نشي راتلاى چي په اخركي يى واوماقبل مضموم راغلى وي داځكه چي دلته بيا دااسم موجب دثقل گرځي اوهمدارنگه ماقبل دحذف شوي حرف به ساكن

وي ځکه چي ضربتم فعل دی اوفعل په اعتبار دمعنی سره ثقيل وي نوبايد په لفظ کي خفيف شي اوداخفت په لفظ کي نه حاصليده مګرپه سکون دماقبل دميم سره لهذا ماقبل يی هم ساکن شو ياداچي که حذف نشي نوضَرَبَتُمْ به شي اواجتماع داربع حرکاتومتولياتولازميږي

اوپدي قانون سره اَنْزَلْتُمُوْهُ خارج شوځکه اګرکه نورشرائط يی پوره دي مګرپه اخردکلمي کي ندی واقع شوی اوهمدارنګه له دي قانون څخه هُوَ هم خارج شوه ځکه تعداد دحروفو يی له دری څخه کم دي اوقدرصلح دکلمي چي کلمه صحت په پيداکوي هغه دری دي ځکه په هره کلمه کي اول. اوسط او.اخروي وي اودادری واړه نه معلوميږي مګرچي کلمه دری حرفه ياهم زياته وي همدارنګه په اسم غيرمتمکن کي به وي ځکه چي اسم غيرمتمکن کلمه له تغير اونقصان څخه ساتي

(اسم په دوه قسمه دی حقيقي اومجازي)

۱- حقيقی هغه اسم دی چي داسم ټول شرائط اوعلائم اوهمدارنګه تعريف داسم پري صادق وي لکه الرجل .زَيْدٌ ....

۲- مجازي: داهغه اسم دی چي اګرکه په حقيقت کي اسم نه وي بلکي داسم حقيقي سره ديومناسبت له وجهی اسم ګرځيدلی وي لکه ضَرَبْتُمْ چي اګرکه حقيقة اسم ندی بلکي مناسبت يی داسم سره وو هغه داچي ميم اکثره اوقاتو کي علامه داسم وي اوکله کله علامي ته حکم دهغه شي هم ورکول کيږي نوپه همدي وجه دلته ميم هم مجازا اسم وشميرل شو(بارشادالصرف۲۷)

قانون درماضي مجهول ثلاثی مجرد ورباعی مجرد درباب افعال تفعيل مفاعله حرف اول راضمه ماقبل اخرراکسره می دهند وجوبا بشرطيکه قبل ازآن کسره نباشد.

څـلـــورم قـــانـــون

ديدې قانون نوم د ماضي مجهولې قانون،پدې قانون کې يو حکم او يو شرط دی.
حـکـم: حرف اول ته ضمه ورکول،ما قبل آخر ته کسره ورکول او باقي پخپل حال پرېښودل واجب دی.
شرط: د ماضي معلومې څخه د ماضي مجهولې د جوړولو اراده وي،اخترازي مثال: ضَرَبَ

Maktaba Tul Ishaat.com

چې اراده دی نه وي.
اتفاقي مثال: د ضَرَبَ څخه د ضُرِبَ ويل واجب دي

تشريح: قوله درماضی؛ خلاصه دقانون داده چې کله دماضي معلومي څخه ماضي مجهوله جوړوي نوحرف اول ته ضمه اوماقبل اخرته به کسره ورکول کيږي اوبس.

زده کړی چې: دثلاثي مجردوشپږبابونه دي اوهرباب کي ماضي مجهوله غواړي همدارنګه ثلاثي مزيد دولس بابونه دي اوهرباب ماضي مجهوله لري نوشپږ اودولس دااتلس همدارنګه رباعي مجرد اورباعي مزيد دری بابه دي اوهرباب ماضي مجهوله غواړي چې ټول دوه ويشت بابونه کيږي نودا دوه ويشت بابونودماضي مجهولي لپاره دری قوانين دي يودامذکوره اودوه نوردثلاثي مزيدوپه قوانينو کي راځي دغه مذکوره قانون دلسوبابونو لپاره دی شپږثلاثي مجرد اويورباعي مجرد لره اودری بابونودثلاثي مزيدولره(چې افعال تفعيل مفاعله دی) اودوهم قانون دتُصُرِّفَ دی دا دباب (تفعل. تفاعل.تفعلل) دماضي مجهولي لپاره دی اوبل قانون دأُكْتُسِبَ دی داقانون دباقي اوه ثلاثي مزيدوبابونو لپاره(افتعال.انفعال.استفعال. افعلال افعيلال.افعوال. افعيعال.)اوهمدارنګه درباعي مزيد دوه بابونو(افعنلال.افعلّال) لپاره دی

<u>قوله حرف اول را</u> اول حرف ته ضمه ورکول کيږي ځکه ماضي په دوه قسمه ده مبنی للفاعل(معلوم) اوبل مبنی للمفعول(مجهوله) نوهغه ماضي چې مبنی للفاعل وه په هغه کي فاء کلمه مفتوحه وه نودلته په مبنی للمفعول کي مضمومه شوه داځکه چې ضمه په نسبت سره فتحي ته فرعه ده اومفول هم په نسبت سره فاعل فرع دی نوفرع للفرع ورکړل شوه للتناسب بينهما(زنجانيـ١٧)

همدارنګه ماقبل اخربه يی مکسوروي داځکه چې دفعل معلوم څخه وروسته خوفعل ذکروي اودفعل مجهول څخه وروسته چې فعل ذکرنشواومحذوف وونوفعل خوتقاضی دفاعل اوياداسي څه چې قائمقام دفعل وي کوي نوفاعل محذوف ووکسره اوضمه دواړه قويه وو نودادواړه قائمقام دفاعل شول اويواځي اکتفاء په کسره يايواځي په ضمه هم ونشوه ځکه که صرف اکتفاء په ضمه شوي واى نود(أُكْرِمَ) دباب افعال واحدمتکلم سره به يی التباس راغلی واى اوهمدارنکه اکتفاء صرف پهکسري دماقبل اخرهم ونه شوه ځکه چې بيايی التباس دماضي مبنی للفاعل (معلوموصيغو)سره چې مکسورالعين وي التباس راتله لکه عَلِمَ

(د ماضي مجهولي نادره قاعده)

قاعده : دماضي مجهولي دجوړولو طريقه داده چي اول به ماقبل اخر ته کسره ورکړل شي باقي ټولو هغه حروفو ته چي متحرک دي ضمه ورکول کيږي بس ماضي مجهوله جوړيږي
(کتاب الصرف جديد)

تنبيه: لام کلمه کي به تغير نه راوړل کيږي ځکه هغه خپله محل دتغير ده

قانون درهرمضارع مجهول حرف اول را ضمه وماقبل اخررا فتحه ميدهند وجوبا بشرطيکي درمضارع معلوم ضمه وفتحه نباشد

پـــنـــځـــم قـــانـــون

ديدې قانون نوم دی د مضارع مجهولې قانون،پدې قانون کې يو حکم او يو شرط دی.
حـکـم: لومړي حرف ته ضمه ورکول،ما قبل آخر ته فتحه(زور)ورکول او باقي پخپل حال پريښودل واجب دي.
شرط: د مضارع معلومې څخه د مضارع مجهولې د جوړولو اراده دی وي،اختزازي مثال: يَضْرِبُ چې اراده دی نه وي.
اتفاقي مثال: د يَضْرِبُ څخه د يُضْرَبُ ويل واجب دي.

تشريح: خلاصه دقانون داده چي کله دمضارع معلومي څخه مضارع مجهوله جوړوي نوحرف اول ته ضمه اوماقبل اخرته به فتحه ورکول کيږي اوبس.
نوزده کړه داخبره چي دمضارع مجهولی لپاره همدايوقانون دی اوس داچي حرف اوته به ضمه اوماقبل اخرته به فتحه ورکول کيږي اوصرف اکتفاء په ضمه دحرف اول اوياهم اکتفاءپه فتحه دماقبل اخرسره ونشوه ځکه که صرف اول حرف ته ضمه ورکړونو يَضْرِبُ دی يُضْرِبُ به شي نودباب افعال دمضارع معلومي سره التباس راځي اوکه صرف ماقبل اخرته فتحه ورکړو نويَضْرِبُ څخه به يَضْرَبُ شي اودباب يَعْلَمُ معلومي سره به التباس راشي نودالتباس ددفع له وجهی داقاعده پري جاري شوه همدارنګه حرف اول ته يی کسره ورنکړه اګرکه فرق په کسره سره هم حاصليده ځکه چي حرف اول ياء ده نوکسره په ياء باندي ثقيله تماميدله چي يِضْرَبُ دويلي واى

Maktaba Tul Ishaat.com

قانون هراسم فاعل غالبا بروزن فاعل می ايدوازغيرثلاثي مجرد بروزن فعل مضارع ان باب می ايد ميم مضمومه بجای حرف اتين كسره دادن به ماقبل اخررا اگرنه باشد وتنوين

شـــپـــږم قـــــانـــــون

ديدې قانون نوم دی د اسم فاعل قانون،پدې قانون کې دوه حکمونه او د هر حکم لپاره يو،يو شرط دی.
لومړی حکم: اسم فاعل په وزن د فَاعِلٌ ويل واجب دي.
شرط: ثلاثي مزيدفيه به نه وي(ثلاثي مجرد به وي)،اخترازي مثال: اَكْرَمَ،يُكْرِمُ
اتفاقي مثال: د ضَرَبَ،يَضْرِبُ څخه د ضَارِبٌ ويل واجب دي.
دوهم حکم: اسم فاعل د خپل مضارع معلوم په وزن ويل واجب دی،په دومره توپير سره چې د حرف (اتين) پر ځای ميم مضمومه راوړل،ما قبل آخر ته کسره ورکول او په اخر کې يې تنوين جاري کول واجب دي.
شرط: ثلاثي مجرد به نه وي (ثلاثي مزيد فيه به وي)،اخترازي مثال: ضَرَبَ،يَضْرِبُ
اتفاقي مثال: د اَكْرَمَ،يُكْرِمُ څخه د مُكْرِمٌ ويل واجب دي.

تشريح: خلاصه دقانون داده چې دثلاثي مجردوڅخه اسم فاعل په وزن دفاعل سره راځي اوغيردثلاثي مجردوڅخه اسم فاعل دهغې باب دفعل مضارع معلومي په وزن سره راځي خوحرف اتين پرځای به ميم مضمومه اوماقبل اخرته کسره اوپه اخرکي به تنوين تمکن راوړل شي

قوله بروزن فَاعِلٌ ۱- اول راځودثلاثي مجردوڅخه اسم فاعل بناء ته اول به حرف اتين حذف کړل شي ځکه چې ترڅو دفعل مضارع اواسم فاعل ترمنځ فرق حاصل شي اودافرق نه حاصليده مګريا په حذف دحرف سره اواوياپه زيادة دحروفوسره زيادة مورِ ونګړځکه چې په زيادت دحروفو سره کثرة زيادة لازميدو لهذا حرف حذف شواوپه حذف کي بيا حرف اتين مختاره شوځکه چې دازائد وو اوزائد احق اواولی بالحذف ۲- وروسته دحرف اتين دحذف

څخه دفاء اوعين کلمي ترمنځ الف فاصل راوړل شو اول داچي اصل په زيادة کي حرف علة دی چي واو. الف.ياء. ده ليکن دلته په حرف علة کي الف زايدشوداځکه چي اصل په اسماء کي حفت دی اوالف دواو اوياء په نسبت خفيف وو بل داچي الف دفاءاوعين کلمي ترمنځ زايدشو ځکه که په شروع کي زايد شوی وای نوبيابه اَضْرَبُ شوی وای نودواحدمتکلم اواسم تفضيل سره به التباس راغلی وای اوکه چيري په اخرکي زائد شوی وای نوبيادتثنيه سره التباس راتله (زنجانی صفـ۴۲)

قوله عِلٌ اوبل داچي ماقبل اخربه يی مکسوروي ځکه کچيري مفتوح وای نوضَارَبَ راتله دباب مفاعله دماضي سره التباس راتله اوکه ضمه ورنکړل شوه ځکه بياضَارُبَ کيده اوثقل لازميدواوساکن هم نه کړل شوځکه بيا التقاء الساکنين راتله اوپه کسره سره اګرکه بياهم دباب مفاعله دامر سره التباس راځي ليکن دومره خبره ده چي دادضرورت په بناء پاتي شواوځيني داهم وايی چي التباس دامرسره په نسبت سره ماضي ته دا اولی دی ځکه دواړه مشتق دفعل مضارع څخه دي(زنجانی صفـ۴۲ مراح صفـ۷۵)

قوله غَالبا اوبل داخبره چي اسم فاعل دثلاثي مجردوڅخه په وزون دفاعل سره غالبا راځي ځکه سوی دفاعل څخه په وزن د فعيل سره هم راځي لکه نَصِيْرٌ په معنی دنَاصِرٌ سره اوپه وزن دفَعُوْلٌ سره هم راځي لکه صَبُوْرٌ په معنی دصَابِرٌ سره (مراح صفـ۸۰-۸۱)

قوله وازغيرثلاثي مجرد په دغه عبارت سره اشاره ده دوهم حکم ته هغه داچي اسم فاعل دهغه باب دفعل مضارع په وزن سره ويل شي سره دلږمذکوره تغيراتونه

قوله باوردن ميم مضمومه بجای حرف مضارعت نودبناء کولوطريقه يی داده چي حرف اتين به حذف شي پرځای به يی ميم مضمومه راوړل شي اګر که اصل په زيادت کي حرف علة دی ليکن دلته زيادت دحرف علة دتعذرپه بناء ترک شوځکه که الف زائد شوی وای ابتدا په ساکن راتله ځکه الف ساکن وضعي دی اوکه ياء زائده شوي وای نوالتباس دواحدمذکر غائب مضارع سره راتله اوکه واوزائد شوی وی نوبيا داموجب دثقل کيده اوميم ځکه ورته اختياراکړل شو چي ميم واو ته قريب دی هغه واوچي دحروف علة څخه دی اوقرب يی په دي کي دی چي دواړه شفويه دي اوميم ته بيا ضمه ورکړل شوه ځکه چي بيايی دثلاثي مجرددداسم ظرف سره التباس راتله (مراح)

قوله کسره دادن ماقبل اخر را اوماقبل اخرته به کسره ورکړل شي ترڅوفرق حاصل شي داسم مفعول سره ځکه هلته مفتوح وو(زنجانی) اوياداچي ماقبل اخرمکسورشوتبعا دثلاثي مجردو(مراح صفـ۸۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

اوپه اخرکي يی تنوين تمکن راوړل شو ترڅودکلمي په متمکن والي دلالت وکړي

فايده: بعضي الفاظ په فتحي دماقبل اخر سره هم راغلي په طريقي دشذوذ سره

لکه مُسْهَبٌ ای رجل مُطيلٌ فی الکلام مُحْصَنٌ ای متزَوِّجٌ مُلْفَجٌ ای مفلِس ومُهْتَرٌ ای الذاهب العقل من کبر او حزن او مرض

فايده: بعضي الفاظ د اَفْعَلُ په وزن سره راځي او معنی يی داسم فاعل وي په طريقه دشذوذ سره لکه اعشَب المکانُ ای عاشب ايفع الغلام ای يافع و اورسَ الشجرُ ای وابقل المکان

قانون هر اسم مفعول ازثلاثی مجرد بروزن مفعول می اید وازغيرثلاثی مجردبروزن فعل مضارع مجهول ان باب می آيد باوردن ميم مضمومه

اووم قـــــانـــــــون

ديدې قانون نوم دی د اسم مفعول قانون،پدې قانون کې هم دوه حکمونه او د هر حکم لپاره يو،يو شرط دی.
لومړی حکم: اسم مفعول په وزن دی مَفْعُوْلٌ ويل واجب دي.
شرط: ثلاثي مجرد به وي،احترازي مثال: اَکْرَمَ،يُکْرِمُ
اتفاقي مثال: د ضُرِبَ،يُضْرَبُ څخه د مَضْرُوْبٌ ويل واجب دي.
دوهم حکم: اسم مفعول دهغي باب د مضارع مجهول په وزن ويل واجب دي په دومره توپير سره چې د حرف اتين پر ځای ميم مضمومه راوړل،ما قبل آخر ته فتحه ورکول او په آخر کې يې تنوين جاري کول واجب دي.
شرط: ثلاثي مجرد به نه وي،اختزازي مثال: ضُرِبَ،يُضْرَبُ
اتفاقي مثال: له اُکْرِمَ،يُکْرَمُ څخه د مُکْرَمٌ ويل واجب دي.

تشريح: خلاصه دقانون داده چي اسم مفعول دثلاثي مجردوڅخه دمفعول په وزن سره اوغيردثلاثي مجردوڅخه دهغه باب دفعل مضارع مجهول په وزن سره ويل شي ليکن حرف اتين پرځای به ميم مضمومه اوماقبل اخرته فتحه اواخرکي به تنوين راوړل شي

قوله مَفْعُوْلٌ ۱-اول راځودي خبري ته چي اسم مفعول ولي دفعل مضارع څخه بناء کيږي ؟ نوداځکه چي اسم مفعول دفعل مضارع مجهولي سره مناسبت لري په تعداد دحروفو حرکاتو سکناتو کي ياځکه دفعل مضارع مجهولي څخه بناء کيږي چي فعل مضارع مجهولي اسنادهم فعل مالم يسم فاعله ته کيږي اوداسم مفعول اسناد هم فعل مالم يسم فاعله ته کيږي

۲-دوهمه خبره داچي حرف اتين حذف شوپه ځای يی ميم راوړل شو اگر که اصل په زيادت کي حرف علة دی ليکن دلته زيادت دحرف علة دتعذرپه بناء ترک شوځکه که الف زائد شوی وای ابتدا په ساکن راتله ځکه الف ساکن وضعي دی اوکه ياء زائده شوي وای نوالتباس دواحدمذکر غائب مضارع سره راتله اوکه واوزائد شوی وی نوبيا داموجب دثقل کيده اوميم ځکه ورته اختياروکړل شو چي ميم واو ته قريب دی هغه واوچي دحروف علة څخه دی اوقرب يی په دي کي دی چي دواړه شفويه دي اوميم ته بيافتحه ورکړل شوه ځکه چي که ضمه ورکړل شوي وای ن نودباب افعال داسم مفعول سره يی التباس راتله اوکه کسره ورکړل شوي وای نوبيا ددثلاثي مجرداسم اله سره التباس راتله (زنجانی صفـ۴۴)

۳- دريمه خبره داچي عين کلمه به مضمومه وي ځکه که مفتوحه شي نومَفْعَلٌ راځي دثلاثي مجردهغه ابواب چي مُفتوح العين دي ياناقص ، مضاعف او،لفيف دي داسم ظرف سره التباس راځي اوکسره هم نه ورکووځکه بيا مَفْعِلٌ راځي دثلاثي مجردوهغه ابواب چي مضارع يی مکسورالعين وي يامثال وي التباس راځي نولهذا ضمه ورته اختياروکړل شوه کله چي ضمه ورکړل شوه نوضمه يی اشباعي کړه اوواو تري پيداشو نومَفْعُوْلٌ وزن تري جوړ شوسوال داپيداکيږي چي ضمه ولي اشباعي شوه ؟ جواب دادی چي که اشباعي نه وی نوبيا مَفْعُلًا راتله اوداوزن په کلام دعربوکي نشته اوکه ته وايی چي فتحه ياکسره عين ته ورکړه بيا يی اشباعي کړه (مَفْعَالٌ اومَفْعِيْلٌ يی ووايه)؟ نوجواب دادی دادول وزن په کلام دعربوکي اگرکه راځي ليکن ډيرشاذ اونادردی الاقليلا راځي (زنجانی صفـ۴۴)

قوله وازغيرثلاثي مجردبروزن فعل مضارع مجهول ان باب مي ايد په دغه عبارت سره اشاره ده دوهم حکم ته نوبناء يی داسي ده چي حرف اتين به حذف شي په ځای به يی ميم راوړل شي اگر که اصل په زيادت کي حرف علة دی ليکن دلته زيادت دحرف علة دتعذرپه بناء ترک شوځکه که الف زائد شوی وای ابتدا په ساکن راتله ځکه الف ساکن وضعي دی اوکه ياء زائده شوي وای نوالتباس دواحدمذکر غائب مضارع سره راتله اوکه واوزائد شوی وی نوبيا داموجب دثقل کيده اوميم ځکه ورته اختياروکړل شو چي ميم واو ته قريب دی هغه واوچي دحروف علة څخه دی اوقرب يی په دي کي دی چي دواړه شفويه دي اوميم ته بيا ضمه ورکړل شوه ځکه چي بيايی دثلاثي مجرداسم ظرف سره التباس راتله (مراح)

Maktaba Tul Ishaat.com

عولداځکه چي اسم مفعول دفعل مضارع مجهولي څخه بناء شوی دی هلته مفتوحه وه دلته هم مفتوحه شوه ترڅوفرع موافق داصل سره شي (زنجانی صفـ۴۷)

(الفائدة العظيمة)

۱- فائده کله کله اسم فاعل اواسم مفعول یوشان راځي په حالت دادغام کي لکه مُحْمَارٌّ، مُسْوَدٌّ، لیکن ددوی فرق تقدیري دی اوداستواء عارضي ده اوپه تقدیرسره ددواړوفرق کول اسان دي چي خپل اصل ته یی واړوي (زنجانی صفـ۴۷)

۲-فائده کله کله اسم فاعل اواسم مفعول دواړه دفعیل په وزن سره هم راځي لیکن پوښتنه داپیداکیږي چي څرنګه به یی پیژنوچي دااسم فاعل اوداسم مفعول دی ؟ جواب دادی چي داوزن دفعیل به خالي نه وي یابه دابواب لازمي څخه وي یابه دابواب غیرلازمي څخه که دابواب لازمي څخه وو دافعیل به په معنی دفاعل سره وي لکه شَرِیْفٌ په معنی دشَارِفٌ سره اوکه دغیرلازمي یعني متعدي ابوابوڅخه ووافعیل به دمفعول په معنی سره وي لکه ضَرِیْبٌ په معنی دمَضْرُوْبٌ سره (زنجانی صفـ۴۵) اوباب شرف لازمی دی همیشه لپاره

فائده: کله کله دفاعل وزن راځي خو مراد ورڅخه اسم مفعول وي خو دا قلیل دي لکه داقول دالله تعالی (فهو في عيشة الراضية) ای مرضية اصله مرضوی وو (جامع الدروس العربية)

(فائده)

لومړی فائده: علت په اعتبار د استعمال سره په درې قسمه دی:
۱:- مدّه:حرف علت ساکن ما قبل یې موافق له خپل جنس څخه وي،لکه: أُوْتِیْنَا
۲:- لین:حرف علت ساکن ما قبل یې موافق له خپل جنس څخه نه وي،لکه: خَوْفٌ،سَیْفٌ

۳:- علت تام: مطلقاً حرف علت ته وایي که ما قبل یې موافق وي او که مخالف لکه: خَوْفٌ،سَیْفٌ،أُوْتِیْنَا

قانون: اجتماع دوعلامات تانیث درفعل مطلقا ممنوع است ودراسم وقتی که ازیک جنس باشد

دوهمه فائده:د جمعي اقصى تعريف:
جمع اقصى هغه جمعه ته وايي چې د جمع جمع وي اودهغه مزيد د دوهم ځل لپاره نه جمع كيږي او د جمع الجموع ،منتهى الجموع او جمع غيرمنصرف په نومونو سره هم يادیږي.
دجمعي اقصى اوه(۷) مشهور اوزان په لاندې ډول دي:
۱:- اَفَاعِلُ ۲:- اَفَاعِيْلُ ۳:- مَفَاعِلُ ۴:- مَفَاعِيْلُ ۵:- فَوَاعِلُ ۶:- فَوَاعِيْلُ ۷:-

دجمعي اقصى د جوړولو طريقه:
دجمعي اقصى دجوړولو طريقه دا ده چې: لومړى دوو حرفونو ته فتحه(زور)وركول، وروسته يې په دريم ځاى كې الف علامه د جمعي اقصى راوستل،د علامي څخه وروسته به كتل كيږي:
۱:- كه د علامي څخه وروسته يو حرف وي نو پخپل حال يې پريږدو(مراد له يو حرف څخه حرف مشدد ده). لكه:- د دَابَةٌ جمع دَوَابٌّ (د مشدد والى په صورت كې)يا په هغه صورت يا حال كې چې دا حرف مشدد وي.
۲:- كه دعلامي څخه وروسته دوه حرفونه وي،نو لومړى حرف ته يې‌كسره(زير)وركوواو دوهم پخپل حال پريږدو. لكه:- د مَضْرِبٌ جمع مَضَارِبُ
۳:- كه د علامي څخه وروسته دري حرفونه وي،نو لومړى حرف ته يې كسره،دوهم يې ساكنول او دريم په خپل حال پريږدو. لكه:- د مِضْرَابٌ جمع مَضَارِيْبٌ

فائده: ::::::

(قوله مشهور اوزان)

افاعل لكه انامل په دي وزن دوه شيان جمع كيږي اول: افعل چې صفت وي داسم تغضيل لپاره لكه افضل افاضل خو كه افعل وزن راغاى وو خو صفت داسم تفضيل لپاره نه وو لكه احمر ارزق اسود اعرج وغيره چې صفت داسم تفضيل لپاره ه دي يعني په زيادت دمعنى دلالت نكوي كوي احمر دسور په معنى سره او اسود دتور په معنى سره خو دا افعل وزن چې صفت داسم تفضيل لپاره نه وي مقصد افعل صفتي وي اسمي نه وي نو يې په فُعْلٌ وزن سره جمع كيږي لكه احمرُ جمع حمْرٌخو كچيږي دا افعل صفتي دمعنى وصفي نه رانقل شي معنى

Maktaba Tul Ishaat.com

اسمي ته يعني ديو چالپاره اسم وګرځي نو بيا په افاعل وزن سره جمع کيدی شي لکه اسود اسم دی دتور مار لپاره نو جمع يی اساود راځي

دوهم افاعل وزن باندي هر هغه اسم جمع کيږي چي څلور حرفيزه وي او اول کي يی همزه زائده هم راغلي وي لکه اِصْبَعٌ جمع اصابِعُ

دوهم ' افاعيل په دي وزن هم هرهغه اسم جمع کيږي چي دڅلورو حروفو نه زيات وي او ماقبل اخر کي يی حرف مده راغلی وي لکه د اُسْلُوْبٌ جمع اسالِيْبُ د اضبارة جمع اضابيرُ

دريم: مفاعلُ: په دي وزن هرهغه اسم جمع کيږي چي څلور حرفيزه وي او شروع کی يی ميم زائده راغلی وي لکه مسجد جمع مساجد مضرب جمع مضارب

څلورم مفاعيل: په دي وزن هر هغه اسم جمع کيږي چي دڅلورو حروفو نه زائد وي او شروع کي يی ميم زائده راغلی وي او ماقبل اخر کي يی مده وي لکه دمضراب جمع مضاريب دمصباح جمع مصابيح دمطمورة جمع مطامير الخ

پنځم فواعل: په دي وزن دری شيان جمع کيږي اول: هر هغه اسم جمع کيږي چي څلور حرفيزه وي او دوهم حرف يی واو يا الف خو دواړه زائدتين وي لکه دکوثر جمع کواثر دخاتم جمع خواتم او دجائز جمع جوائز خو که چيري معتل الام يا معتل العين وو بيا په فَعَالَی وزن سره جمع کيږي لکه دزاويَةٌ جمع زوايا درخائی جمع رخايا دخطائی جمع خطايا الخ

دوهم هرهغه صفت چي خاص وي ترمونث پوري او په وزن دفاعِلٌ سره راغلی وي دا هم په فواعل سره جمع کيږي لکه دحائض جمع حوائض دطالق جمع طوالق دناهد جمع نواهد والناهد من برز ثديها و تکعب وارتفع و

دريم هرهغه صفت چي دفاعلة په وزن راغلی وي داهم په فواعل سره جمع کيږي لکه دکاتبة جمع کواتب دضاربة جمع ضوارب

شپږم فواعِيْلُ : په دي وزن هرهغه اسم چي دڅلورو حروفو نه زائد ثاني يی واو يا الف مزيدتين راغلي وي خو ماقبل اخر يی مده وي لکه دطاحونة جمع طواحين دطومارٌ جمع طوامِيْرُ

اووم فعائِلُ په دي وزن دوه شيان جمع کيږي

اول هغه اسم مونث چي څلور حرفيزه وي او اخر کي يی حرف مده زائده وي عام لدينه که تانيث يی بالعلامة وي لکه دسحابة جمع سحائب دصحيفة جمع صحائفُ يابغير دعلامي څخه وي لکه دشَمال شِمال جمع شمائل دعقاب جمع عقائب دعجوز جمع عجايز

او د حُرَّة او ضَرَّة جمع حرائر او ضرائر شاذ دي ځکه ماقبل اخر کی يی حرف مده زائده نشته او دصحيح او وصيدٌ جمع صحايح او وصائد داهم شاذ ده ځکه چي دا اسم دمذکر دي دمونث ندي (جامع الدروس العربية)

دريمه فائده: د تصغير تعريف:
دقلت،شفقتاوحقارتمعنی حاصلولو لپاره په کلمه کې تغيراوتبديل راوستلو ته تصغيروايې.

د تصغير د جوړولو طريقه:
دتصغيردجوړولوطريقه داده چې: لومړی حرف ته يې ضمه(پيش)،دوهم حرف ته يې فتحه ورکول،په دريم ځای کې يائی ساکنه علامه د تصغير راوستل،وروسته له علامې څخه به کتل کيږي:
۱:- که يو حرف وي نو پخپل حال يې پريږدو. لکه:- د رَجُلٌ تصغير رُجَيْلٌ
۲:- که دوه حرفونه وي نو لومړی حرف ته يې کسرهورکوواو دوهم يې پخپل حال پريږدو. لکه:- د مِضْرَبٌ تصغير مُضَيْرِبٌ
۳:- که دري حرفونه وي نو لومړی حرف ته يې کسره ورکوو،دوهم حرف يې ساکنوو او دريم يې پخپل حال پريږدو. لکه:- د مِضْرَابٌ تصغير مُضَيْرِيْبٌ

تشريح:

اوله فايده:

دتصغير جوړولو اصلا څو مقاصد دي

اول: چي تصغير دلالت وکړي په کوچينوالي دحجم ديو شي باندي لکه کتاب څخه کتيب چي دلته دحجم کوچينيوالی تري مراد دی

Maktaba Tul Ishaat.com

دوهم: چي تصغير دلالت وکړي په کموالي دعدد باندي لکه ورقات څخه وريقة يا لقمات څخه لقيمة

دريم: چي تصغير دلالت وکړي په قرب دزمان يا مکان باندي لکه سافر قبيل العشاء

او الحديقة دوين المسجد

څلورم: چي تصغير دلالت وکړي په تعظيم ديو شي باندي

پنځم: چي تصغير دلالت وکړي په تحبيب او محبتوالي ديو شي باندي

شپږم: چي تصغير دلالت وکړي په تحقير ديو شي باندي

دوهمه فايده:

او مخکي چي کومه طريقه دتصغير دجوړولو ذکر شوه داصرف دثلاثي اوزانو لپاره ده

يعني دثلاثي دتصغير وزن به په فُعَيْلٌ سره راځي لکه درَجُلٌ څخه رُجَيْلٌ

او درباعياتو وزن فُعَيْعِلٌ راځي لکه دجعفر څخه جُعَيْفِرٌ

او دخماسياتو څخه په وزن د فُعَيْعِيْل سره راځي لکه دعصفور تصغير عُصَيْفِيْرٌ

دريمه فايده:

هغه مونث ثلاثي چي مونث وي په تانيث معنوي سره نو دهغه څخه دتصغير دجوړولو په وخت کي په اخر ددغه مونث کي تا زايده کيږي لکه شمس تصغير شُمَيْسَةٌ دعين تصغير عُيَيْنَة دارض تصغير اُرَيِّضَةٌ اوداسي نور ....

څلورمه فايده:

کوم اسم څخه چي حرف حذف شوی وي نو دتصغير دجوړولو په وخت کي حذف شوی حرف بيرته رامعاد کيږي لکه يَدٌ چي اصل کي يَدَىٌ وو نو دتصغير جوړولو وخت کي يُدَيْيَةٌ بيا يُدَيَّةٌ شو همدارنګه دم اصل کي دَمَوٌ وو دتصغير جوړولو وخت کي دُمَيْوٌ شو دقويل قويلة قانون له وجهي (چي اجوفو قوانينو کي به راشي) دُمَىٌّ شو

پنځمه فايده

تصغير صرف په معرباتو کي راځي په مبنياتو کي نه راځي اګر که بعضي

داسماءاشاراتو او موصولاتو کي لکه اَللُّذَيَّا اللتَيَّا چي تصغير دالذي او التي دى همدارنګه ذُيَّا تصغير د ذا دى همدارنګه بعضي دافعال تعجب لکه اُمَيْلَحُ الْغَزَالُ دي ليکن داشاذ دي غير معتبر دي ولايقاس عليه الغير

(مفتاح الاعراب الغيربحث تصغير)

قانون هرمده زائده که واقع شود درمفرد مکبربدوم جا وقت بناء کردن جمع اقصى وتصغيران رابه واومفتوحه بدل کنند وجوبا

اتـــم قـــــانـــــون

ديدي قانون نوم دى د مده زائده قانون،پدي قانون کي يو حکم او شپږ شرطونه دي.
حـکـم: د مده زائده په واؤ مفتوحه سره بدلول واجب دي.
لومړىشـرط: مده به وي،اختزازيمثال: حَوْفٌ،سَيْفٌ
دوهـمشـرط: مده زائده به وي،اختزازيمثال: بَابٌ،بِيْرٌ
دريـمشـرط: مدّه زائده به په مفرد کي وي،اختزازيمثال: ضَارِبَانِ،ضَارِبُوْنَ
څلورمشرط: مده زائده به په اسم کي واقع وي،اختزازيمثال: قَالَ،بَاعَ
پنځمشرط: مده زائده به په دوهم ځاى کي وي،اختزازيمثال: ضُرْبىٰ
شپږمشرط: د مده زائده څخه د جمعي اقصىٰ اوتصغير د جوړولو اراده دى وي،
اختزازيمثال: ضَارِبَةٌ (خو دا په هغه صورت کي چي اراده دى نه وي).
اتـفـاقـيمـثـال: د ضَارِبَةٌ څخه د ضَوَارِبُ او ضُوَيْرِبُ ويل واجب دي.

تشريح: خلاصه دقانون داده چي هرکله مده زائده په مفرد کي راشي اودامفرد اسم وو اوپه دوهم ځاى کي واقع وو نوکه جمع اقصى اوتصغير جوړوي نودامده زائده به په واو سره بدلوي لکه ضوارب جمع اقصى دضاربة څخه جوړه شوه نو دپورته فايدي موافق دضاربة اول دوه حروفوته فتحه دريم ځاى الف دجمع اقصى اومابعد دالف جمع اقصى دوه حرفه وو

Maktaba Tul Ishaat.com

اول صرف مکسور شو نو دضاربة څخه ضاارِبة شو وروسته اول الف مده زائده راغی په واومفتوحه سره بدل شو ضواربة شو بیایی تاء وحدة حذف کړه ځکه تاء په وحدت دلالت کوي اوجمع اقصی په کثرت همدارنګه تنوین تمکن یی هم حذف کړو ځکه جمع اقصی غیرمنصرفه ده اوغیرمنصرف باندي تنوین نشي راتلای ځکه غیرمنصرف دفعل سره مشابهت لري په دوه فرعیتینو کي اول داچي فعل محتاج دی خپل فاعل ته اودوهم داچي په اشتقاق کي محتاج دی مصدرته اوغیرمنصرف هم محتاج دی دوه اسبابو دغیر انصراف ته نوپه احتیاج احتیاج کي یی مشابهت راغی نو ځکه تنوین حذف شو

اوداچي مده زائده ولي په واو مفتوحه سره بدلیږي نوداځکه چي که ابدال ونشي بیا دالتقاء الساکنین له وجهي به یو الف حذف شي نو ضارب به شي اوبیا یی التباس دباب مفاعله دماضي سره راځي ځکه نوپه واو مفتوحه سره بدل شو

قانون: هر نون تنوین وقت دخول لام واضافت حذف کرده شود ونون تثنیه وجمع وقت اضافت حذف کرده شود وجوبا

نـــهـــــمقـــــانـــــون

دیدې قانون نوم دی د اضافت قانون،پدې قانون کې یو حکم او دری شرطونه دي،له دریو شرطونو څخه یو شرط د نون تثنیې او جمعې لپاره او دوه شرطونه د نون تنوین لپاره دی.
حـکـم: نون د تثنیې،نون د جمعې او د نون تنوین حذف کول واجب دي.
د نون تثنیه او جمعې شرط: د نون تثنیې او جمعې کلمه به مضاف وي، اخترازيمثال: ضّارِبَانِ،ضَارِبُوْنَ (دا په هغه صورت کې چې اراده دی نه وي).
اتـفاقـيمـثـال: د ضَارِبَانِ،ضَارِبُوْنَځخه د ضَارِبَا زَيْدٍ او ضَارِبُوْا زَيْدٍ ويلواجبدي.
د نون تنوین اول شرط: د نون تنوین د کلمې په شروع کې به(الف،لام)وي، اخترازيمثال: حَمْدٌ . اتـفـاقـيمـثـال: د حَمْدٌ څخه د اَلْحَمْدُ ویل واجب دي.
د نون تنوین دوهم شرط:د نون تنوین کلمه به مضاف وي،اخترازيمثال: غُلَامٌ
اتـفـاقـيمـثـال: د غُلَامٌ څخه د غُلَامُ زَيْدٍ ویل واجب دي

تشريح: خلاصه دقانون داده چي هركله دنون تثنيى اوجمع كلمي مضاف شي نو نون دتثنيى اوجمع حذف كيږي اوكه دنون تنوين كلمه مضاف شي يا الف لام پري داخل شي نو نون تنوين ساقط كيږي

قوله ونون تثنيه وجمع وقت اضافت اوس داچي نون تثنيه اونون جمع ولي داضافت په وخت كي حذف كيږي؟ الجواب په نون تثنيه اوجمع كي څلور مذاهب دي مذهب اول مذهب الكيسان دوهم مذهب الزجاج دريم مذهب ابن ولاد څلورم مذهب اين مالک

اول كيسان وايى چي دانون تثنيه اوجمع عوض دي له هغه تنوين نه چي هغه په مفرد كي دى فقط يعنى صرف به له هغه تنوين نه عوض وي چي هغه په مفرد كي وي اوعوض نه دى له هغه حركت نه چي په مفرد كي دى اودانون دهغه تنوين په عوض كي ځكه راوړل شو ترڅو ماده دمفرد له مادي دتثنيى اوجمع سره مختلطه نشي اودوهمه خبره داچي عوض دتنوين كي ولي شو اوعوض دحركت كي ولي نشي كيدلى؟ نوداځكه چي لكه څرنګه چي تنوين داضافت په وخت كي حذف كيده نودانونات هم داضافت په وخت كي حذف كيږي نومعلومه شوه چي دانونات عوض دي له تنوين څخه

دوهم مذهب زجاج: زجاج وايى چي دانونات عوض دي له هغه حركت نه چي هغه په مفرد كي دى فقط يعنى دكيسان له مذهب سره يى دافرق شوچي دهغه په نزد عوض عن التنوين وو اوده په نزد عوض عن الحركة التي كان فى المفرد دده په نزد ځكه عوض له حركة څخه دى چي حركت په مفرد كي دائمي وي يعني په معرف بالام اوغيربالام دواړوكي حركة وي اوعوض له تنوين څخه ځكه نشي كيدلى چي هغه په معرف بالام كي نشي راتلاى او وجه دحذف دنوناتو دتثنيه اوجمع عنده داده چي په سقوط سره تقصير تخفيف اوتقليل دكلام راځي سره ددي چي تمامه معنى هم ورسره حاصليږي اوحال داچي هغه كلام چي قليل وي اواتمام دمعنى هم پري حاصليږي دا اولى دى له هغه طويل كلام نه چي په هغه سره هم اتمام دمعنى حاصليږي

دريم مذهب ابن ولاد: ابن ولاد وايى چي دانونات دتثنيى اوجمع داعوض دي له هغه حركة اوتنوين څخه چي هغه په مفرد كي دي يعني عوض له دواړو څخه دي عنده داځكه چي حركة په حالت دالف لام كي ثابت وي اوتنوين په حالت داضافت كي ساقطيږي نو معلومه شوه چي دانونات عوض دي له دواړو څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

څلورم ابن مالک: ابن مالک وايی چي دانونات له يوه هم عوض ندي نه له حرکة څخه اونه له تنوين څخه اونه له دواړو څخه اودلته دانونات په تثنيه اوجمع کي صرف ددفع دالتباس دي چي التباس يی له مفرد سره رانشي

نوحاصل دکلام داشوچي دانونات داضافت په وخت کي حذف کيږي ځکه چي دانونات عندبعض المذاهب عوض له تنوين څخه وو اوتنوين خوداضافت په وخت کي حذف کيده نوهغه څه چي عوض دتنوين څخه دي هغه به هم داضافت په وخت کي حذف کيږي

يا لنډه وجه يی داهم کيدی شي چي داضافت فايده دوه قسمه ده اول په لفظ کي دوهم په معنی کي په لفظ کي يی فايده تخفيف دی او په معنی کي يی فايده دتخصيص يا تعريف ده نو تنوين او ماقام مقامه چي نونات دتثنيی او جمع دي داخو دلالت کوي په اتمام دکلام باندي خو کله چي همداکلمه دبلي کلمي سره مزج او پيوسته کوي نو اوس اوله کلمي د دوهمي څخه کسب دتخصيص ياتعريف يا دتخفيف کوي لهذا چي کله يی کسب کولو ديوي معنی ددي معانيو ثلاثه وو څخه نو په دي پيوسته کولو داولي کلمي ددوهمي سره هغه څه چي متمِم وو اولي کلمي لره هغه حذف شولو کلمه تامه شوله په ثاني کلمي سره (شرحه ملاجامي)

<u>قوله هرنون تنوين وقت دخول الام .....</u> دوهمه خبره نون تنوين هم دالف لام او اضافت په وخت کي حذف کيږي ځکه ترمنځ يی منافات دی هغه داچي الف لام تقاضی دتعريف کوي اوتنوين تقاضی دتنکيرکوي نوددواړو ترمنځ منافات دی همدارنګه تنوين اواضافت هم نشي يوځای راتلای ځکه تنوين تقاضی دانفصال کوي اواضافت تقاضی داتصال کوي نوبيا ددواړو ترمنځ منافات وو ځکه نشي جمع کيدلی

<u>فائده:</u>

نوتنوين په لغت کي منون کردن ته وايی اوپه اصطلاح کي تنوين هغه نون ساکن دی چي دکلمي په اخرکي پيوسته کيږي خواولی تعريف يی دادی چي تنوين هغه نون ساکن دی چي تلفظ پري کيږي خوليکل کيږي نه لکه زيدٌ اصله زيدُنْ

دتنوين اقسام

تنوين په پنځه قسمه دی ۱ تنوين تمکن ۲ تنوين تنکير ۳ تنوين عوضي ۴ تنوين مقابله تنوين ترنم

۱ تنوين تمکن :داهغه تنوين دی چي داسم په متمکن والي دلالت وکړي لکه په زَيْدٌ کي تنوين

۲ تنوين تنكير: داهغه تنوين دى چي داسم په نكره والي دلالت وكړي لكه په صَهٍ كي تنوين

چي په معنى د اُسْكُتْ سُكُوتًا مَّا فِيْ وَقْتٍ او مَهْ په معنى د اُسْكُتِ السُّكُوْتَ الْآنَ سره دى

۳ تنوين عوض: داهغه تنوين دى چي دمضاف اليه دحذف كولوپه عوض راغلى وي لكه حِيْنَئِذٍ چي په اصل كي حِيْنَ اِذَا كَانَ كَذَا وو

۴ تنوين مقابله: داهغه تنوين دى چي دجمع مذكر سالم په مقابل كي دجمع مونث په اخركي راشي لكه په مُسْلِمَاتٌ كي تنوين

فائده: دتنوين پورته څلور اقسام داسم پوري خاص دي

۵ تنوين ترنم : داهغه تنوين دى چي د شعر په اخر كي راځي لكه په لاندي شعر كي

« اَقِلِّيْ اللَّوْمَ عَاذِلَ وَالْعِتَابَنْ «««» وَقُوْلِيْ اِنْ اَصَبْتُ لَقَدْ اَصَابَنْ »

قانون:هر نون تنوين وخفيفه را موافق حركت ماقبل به حرف علت بدل می كنن وجوازا در حالت وقف

لـــــســـــمقـــانـــــون

ديدې قانون نوم دى د نون تنوين او خفيفه قانون،پدې قانون كې يو حكم او يو شرط دى.
حـكـم: نون تنوين او نون خفيفه د خپل ما قبل حركت موافق په حرف علت بدلول جائزدي.
شـرط: نون تنوين او خفيفه به د وقف په حال كې وي،اختيارې مثال: اِضْرَبَنِالْقَوْم
اتـفـاقـي مـثـال د نـون تـنـويـن: د تُرَابَاً څخه د تُرَابَا،د غَفُوْرٌ څخه د غَفُوْرُوْ،د رَحِيْمٍ څخه د رَحِيْمِيْ
اتـفـاقـى مـثـال د نون خـفـيـفـه: د اِضْرِبَنْ څخه د اِضْرِبَا،د اِضْرِبُنْ څخه د اِضْرِبُوْا او د اِضْرِبِنْ څخه د اِضْرِبِيْ ويل جائز دي

تشريح:

Maktaba Tul Ishaat.com

خلاصه دقانون داده چي کله نون تنوين يانو خفيفه راشي او وقف پري کوي نو دوقف په حالت کي به دانون تنوين او نون خفيفه دماقبل حرکت موافق په حرف علة سره بدلول جايز دي لکه ترابًا دی نو که وقف پري کوي نو ترابَا يی ويلی شي همدارنګه دنون خفيفه مثال لکه اضربَنْ دی دوقف په حالت کي يی اضربَا ويلی شي خو دارشاد الصرف محشي ليکلي چي دا قانون تريوه حده سم ندی اصل قانون وايی دادی که چيري نون تنوين او ساکن ماقبل مفتوح وي نو دهغه بدلول په الف سره جايز دې نو دده د رأيی موافق صرف دنون تنوين او خفيفه بدلول په الف سره کيدلی شي خو صاحب دتنوير شرحه ارشاد الصرف او اکثرو شارحينو بيا داخبره رد کړيده دوی وايی چي دنون تنوين او نون خفيفه بدلول دابه خالي نه وي يابه يی ماقبل مفتوح او يابه مضموم او مکسور وي که ماقبل يی مفتوح وو نو په الف سره يی بدلول کثير او عدم ابدال يی قليل دی او که ماقبل يی مضموم او يا مکسور وو نو په واو او ياء سره يی بدلول قليل او ابقائه على حاله يعني عدم ابدال يی کثير دی اودا اوفقه رأيه هم ده والله اعلم بالصواب

قانون: هر نون اعرابی وقت دخول جوازم ونواصب ولحوق نون ثقيله ونون خفيفه وبناکردن امر حاضر حذف کرده شود وجوبا

يـــووڵـــــســـــمقـــــانـــــون

ديدې قانون نوم دی د نون اعربی قانون،پدې قانون کې يو حکم او پنځه(۵)شرطونه دي.

حـکـم: د نون اعرابی حذف کول واجب دي.
اولشـرط: د نون اعرابي په شروع کې به يو حرف له حروفو جوازمو څخه وي،
اختـرازيمثال:يَضْرِبَانِ،يَضْرِبُوْنَ
دوهـمشـرط: د نون اعربي په شروع کېبه يو حرف له حروفو ناصبهوو(نواصبو)څخه وي،
اختـرازيمثال:يَضْرِبَانِ،يَضْرِبُوْنَ
دريـمشـرط:د نوناعربي په آخرکې به نون ثقيله ور سره ملحق وي،اختـرازيمثال:يَضْرِبَانِ، يَضْرِبُوْنَ
اتـفـاقـيمـثـال: د يَضْرِبَانِ،يَضْرِبُوْنَ څخه د لَمْيَضْرِبَا،لَمْيَضْرِبُوْا،لَنْيَّضْرِبَا،لَنْيَّضْرِبُوْا، لَيَضْرِبَانِّ،لَّيَضْرِبُنَّ ويل واجب دي.
څلورمشرط: د نون اعرابي به آخر کې به نون خفيفه ور سره ملحق وي،اختـرازيمثال: يَضْرِبُوْنَ،تَضْرِبُوْنَ

اتفاقيمثال: د يَضْرِبُوْنَ،تَضْرِبُوْنَ څخه د لَيَضْرِبُنْ،لَتَضْرِبُنْ ويل واجب دي.
پنځمشرط: د نون اعرابي څخه د امرحاضر د جوړولو اراده دى وي ، اختزازيمثال:
تَضْرِبَانِ،تَضْرِبُوْنَ
اتفاقيمثال:د تَضْرِبَانِ،تَضْرِبُوْنَ څخه د اِضْرِبَا،اِضْرِبُوْا ويل واجب دي

تشريح

دقانون خلاصه داده چي كله په داسي كلمه چي اخر كي يى نون اهرابي راغلى وي يو حرف دجوازمو يا دنواصبو داخل شي يا دنون اعرابي دكلمي سره نون تاكيد ثقيله اوخفيفه پيوسته شي يا د مضارع څخه دامر جوړولو اراده وكړي نو په دي پنځه صورتونو كي به نون اعرابي حذف كيږي

وجه دحذف دنون اعرابي په دخول دجوازمو او نواصبو سره داده چي دانون عوض دهغه اعراب څخه دى چي هغه په مفرد كي دى مثلا په يضربُ كي ضمه او يضربان كي دانون دهغي ضمي څخه عوض او قائمقام دى نو كله چي نو هغه اعراب چي ضمه ده په دخول دجوازمو او نواصبو سره حذف كيدله نو هرهغه شى چي قايمقام ددغه اعراب (ضمي) وي هغه به هم حذف كيږي

نو ځكه دنون تثنيى او جمع او واحد مونث حاضري ته نون اعرابي هم واى ځكه چي دا هم عوض او قايمقام دهغه اعراب دى چي په مفرد كي دى

خو كه ته وايى چي نون اعرابي دعوامل جوازمو دوجه حذف شو ځكه چي په مفرد كي يى اعراب حذف كيدله نو په تثنيه او جمع كي به يى قايمقام دتثنيى حذف كيږي داخبره به په حروفووازمو كي درسره ومنم اما په عواملو نواصبو كې خو په مفرد كي دهغي له وجهي اعراب نه حذف كيږي نو په تثنيى او جمع كي يى ولي حذفوي حال داچي دهغه په مفرد كي اعراب ندى حذف شوى نو جواب دادى چي نواصب حمل دي په جوازمو باندئ دا ځگه چي جزم خاص دى په فعل پوري او جر خاص دى تر اسم پوري او جزم خاص دى تر فعل پوري نو په اسم كي ددتثنيى او جمع حالت نصبي حمل وو په حالت جري باندي په فعل كي هم حالت نصبي حمل شو په حالت جزمي باندي

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله ولحوق نون ثقيله وخفيفه

دوهمه داخبره چي کله دنون اعرابي دکلمي په اخر پوري نون ثقيله او خفيفه متصل شي بيا هم نون اعرابي حذف کيږي دا ځکه چي کله نون ثقيله او خفيفه دکلمي اخر کي پيوسته شي نو نون اعرابي قايمقام داعراب دی نو بيا اعراب دکلمي په مابين کي راځي او محل داعراب اخر دکلمي وي (زنجاني) يا ځکه به نون اعرابي حذف کيږي چي اجتماع دنوناتو راځي او دامستکرهه ده (فصول اکبري) ياځکه نون اعرابي حذف کيږي چي په وخت دلحوق دنون ثقيله کي اخر دکلمي مبني ګرځي نو تحمل داعراب نشي کولای کماقال امام کسي(فصول اکبري صفـــخوارلس)

قوله وقت بناءکردن امر حاضر

همدارنګه کله چي دنون اعرابي دکلمي څخه دامر حاضر دجوړولو اراده وکړي نو دغه صورت هم نون اعرابي حذف کيږي دا ځکه چي امر حاضر خپله دفعل مضارع مجزومي سره مشابهت لري نو فعل مضارع مجزوم کي، نون اعرابي حذف کی ه دلته به هم حذف کيږي (زنجاني صفـدوه ديرش حاشيه ــدوهمه)ــ

فايده: نون اعرابي په اوه صيغو کي وي هغه دادي

تثنيه مذکر غايب جمع مذکر غايب (يضربان يضربون) تثنيه مونثه غايبه (تضربان) تثنيه مذکر مخاطب (تضربان)جمع مذکر مخاطب(تضربون) واحده مونثه حاضره(تضربين) تثنيه مونثه مخاطبتين(تضربان)

قانون: هر نون ساکن وتنوين را در حروف يرملون ادغام می کنند وجوبا در يمون بغنه ودر لر بغير غنه

دولـــســـمقـــــانـــــون

ديدې قانون نوم دی د يرملون قانون،پدې قانون کې دوه حکمونه او د هر حکم لپاره دوه،دوه شرطونه دي.

اولحـــکـم:نون ساکن او نون تنوين د يرملون له جنس څخه ګرځول او جنس په جنس کې ادغامول واجب دي.

اولشـرط:د نون ساکن او نون تنوين څخه وروسته به يو حرف له حروفو يرملون

څخه وي،اختر ازي مثال:مِنْ عَاسِقٍ،مِنْ حَاسِدٍ
دوهم شرط: نون ساكن به د كلمې په منځ كې نه وي،اختر ازي مثال:صِنْوَانٌ،بُنْيَانٌ
اتفاقي مثال:د لَنْ يَضْرِبَ څخه د لَنْ يَّضْرِبَ او د دَافِقٍ يَخْرُجُ څخه د دَافِقٍ يَّخْرُجُ ويل واجب دي.
دوهم حكم: نون متحركه د يرملون له جنس څخه گرځول جائز او جنس په جنس گې ادغامول واجب دي.
اول شرط: د نون متحركه څخه به يو حرف له حروفو يرملون څخه وي،
اختر ازي مثال:اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا
دوهم شرط: نون متحركه به د كلمې په منځ كې نه وي،اختر ازي مثال:صُنْىَ،بُنْىَ
اتفاقي مثال:د اَلَّذِيْنَ يَضْرِبُوْنَ څخه د اَلَّذِ يَّضْرِبُوْنَ ويل جائز دي.

_____

تشريح

دقانون خلاصه داده چې كله نون تنوين او نون ساكن راشي په دي شرط چې وررسته ورنه يو حرف دحروف يرملون څخه راغلى وي او دواړه نونات دكلمې په مابين كې هم نه وي نو نون تنوين او نون ساكن ديرملون دجنس څخه گرځول او جنس په جنس كې ادغام كول واجب دي خو كه چيري نون متحركه راغي وروسته ورنه يو حرف دحروف يرملون څخه راغلى وو نو نون متحركه ديرملون دجنس څخه گرځول جايز او بيا جنس په جنس كې ادغام كول واجب دي

حروف يرملون يـر مـلـون دي خو دومره خبره ده چې كله نون تنوين اودنون ساكن نه بعد يـمـون راشي نو ادغام سره له غُني كيږي لكه لنْ يَّضْرِبَ ـْ دافِقٍ يَّخْرُجُ ـ سراجًاوَّهَّاجًا الخ

او كه چيري دنون تنوين او ساكن نه وروسته لـ ر راغلل نو دغه وخت كې ادغام بغير دغُني څخه كيږي لكه غفُوْرٌ رَّحِيْمٌ منْ لَّدُنَّا (حاشيه ارشادالصرف)

فايده: دادغام تعريف : ادغام دپه لغت كې الباث او لبث نغښتلو او يا داخلو ته وايى

په اصطلاح كې دحرف اول ساكن كول او په دوهم كې يى داخلولو ته ادغام وايى

وجه : كله چې نون تنوين او ساكن راشي نو دا ديرملون دجنس څخه ک

Maktaba Tul Ishaat.com

گرځي او جنس په جنس کي ادغام کيږي وجه دادغام يی خفت دی

قانون:هر نون ساکن وتنوين که واقع شود قبل باء مطلقا ان را به ميم بدل می کنند وجوبا قبل ازحروف حلقی ظاهر خوانده می شوند وجوبا وقبل از الف نمی ايد ودر باقی حروف اخفاء کرده وجوبا

د يـــارلـــــســـمقـــــانـــــون

د دې قانون نوم دی د يَنْبَغِيْ قانون په دې قانون کې دريې حکمونه او د هر حکم لپاره يو،يو شرط دی.

اولحـکـم: نون ساکناوتنوين په ميم سره بدلول واجب دي.)چ

شـرط: د نون ساکن او تنوين څخه به وروسته حرف با وي،اختزازيمثال:مَنْضَرَبَ

اتـفـاقـيمـثـال:د يَنْبَغِيْ څخه د يَنبَغِيْ او د لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِية څخه د لَنَسْفَعًا بِالنَّاصية ويل واجب دي.

دوهمحـکـم: په نون تنوين او ساکن کې اظهار کول واجب دي.

شـرط: د نون تنوين او ساکن څخه به وروسته حرف حلقي يا اظهار وي،اختزازي مثال:مَنْضَرَبَ

اتـفـاقـيمـثـال: د مِنْعَاسِق،مِنْحَاسِدٍ څخه د مِنْعَاسِقٍ،مِنْحَاسِدٍ ويل واجب دي.

دريـمحـکـم: په نون تنوين او ساکن کې اخفاء کول واجب دي.

شـرط: د نون ساکن او تنوين څخه به وروسته يو حرف له حروفو اخفاءوو څخه وي،اختزازيمثال:مِنْعَاسِقٍ، مِنْحَاسِدٍ

اتـفـاقـيمـثـال: د مَنْضَرَبَ څخه د مَنْضَرَبَ ويلواجبدي.

تشريح

خلاصه دقانون داده چي دنون تنوين او نون ساکن مابعد لپاره دری حالتونه دي

مابعد به يی خالي نه وي يابه ورنه مابعد باء راغلي وي يابه يو حرف دحروف حلقي څخه يو حرف راغلی وي يابه يو حرف دحروف اخفاء څخه راغلی وي نو که چيري باء

راغلي وي نو دلته به اقلاب کيږي يعني نون تنوين او نون ساکن په ميم سره بدليږي او که چيرى وروسته ورنه يو حرف دحروفو حلقي څخه راغلى وي نو اظهار کيږي يعني په خپل حال پريښودل کيږي او که چيري يو حرف دحروفو اخفاء څخه راغلى وي نو بيا اخفاء کيږي يعنى پوزي ته داواز وړل

يادونه: نون تنوين او نون ساکن دالف څخه مخکي نشي راتلای ځکه که راشي يابه دالتقاء الساکنين له وجهي حذف کيږي يابه په نون متحرکه سره بدليږي).

قانون: هر امر حاضر معلوم از فعل مضارع معلوم مخاطب معلوم باين طور بناء می کند گر بعد از حذف کردن حرف مضارعت مابعدش ساکن ماند همزه وصلی مضموم دراولش در آرند بشرطيکه مضارع نيز مضموم العينذباشد وگرنه مکسور واگر مابعدش متحرک ماند امر همون شد بوقف اخر.

څـــوارلـــســـمقـــانـــون

ديدي قانون نوم دى د امرحاضر قانون،پدي قانون کي دري حکمونه دي،د اولو دوو حکمونو لپاره دوه،دوه شرطونه او د دريم حکم لپاره يو شرط دى.

اولحـکـم: د فعل مضارع حاضر معلوم څخه د امر حاضر معلوم د جوړولو په وخت کي،د حروف اتين خذف کول،په شروع کي يي همزه وصليه مضمومه راوستل او په آخر کي يي وقف کول واجب دي.

اولشـرط: د حروفو اتين څخه وروسته حرف به ساکن نه وي،اختزازيمثال:تَعِدُ، تُصَرِّفُ

دوهـمشـرط: فعل مضارع معلوم به مضمومالعين وي،اختزازيمثال:تَضْرِبُ،تَمْنَعُ

اتـفـاقـيمـثـال: د تَشْكُرُ څخه د اُشْكُرْ او د تَنْصُرُ څخه د اُنْصُرْ ويل واجب دي.

دوهـمحـکـم: د فعل مضارع حاضر معلوم څخه د امر حاضر معلوم د جوړولو په وخت کي،د حروفو اتين خذف کول،په شروع کي يي همزه وصليه مکسوره راوستل او په آخر کي يي وقف کول واجب دي.

اولشـرط: د حرف اتين څخه وروسته حرف به ساکن وي،اختزازيمثال: تَعِدُ، تُصَرِّفُ

دوهـمشـرط: مضارع به مضموم العين نه وي،اختزازيمثال:تَشْكُرُ،تَنْصُرُ

Maktaba Tul Ishaat.com

اتـفـاقــيمـثـال: د تَضْرِبُ او تَمْنَعُ څخه د اِضْرِبْ او اِمْنَعْ ويل واجب دي.
دريـمحـكـم: د فعل مضارع حاضر معلوم څخه د امرحاضر معلوم د جوړولو په وخت کې،د حروفو اتين خذف کول او په آخر کې صرف يا يوازي وقف کول واجب دي.
شــرط: د حرف اتين څخه وروسته حرف به ساکن نه وي،اختر ازيمثال:تَشْكُرُ،تَمْنَعُ
اتـفـاقــيمـثـال: د تَعِدُ او تُصَرِّفُ څخه د عِدْ او صَرِّفْ ويل واجب دي.

تشريح::

خلاصه دقانون داده کله چې دفعل مضارع حاضر معلوم څخه دامر حاضر معلوم جوړولو اراده وکړي نو حرف اتين به حذف کړي په ځای به يی همزه وصليه راوړي که مضارع يی مضموم العين وه او که چيري مفتوح العين يا مکسور العين وه بيا به همزه وصليه مکسوره راوړي خو دا ټول په هغه صورت کي چې دحرف اتين څخه وروسته حرف ساکن وي او که متحريک وو نو بيا دهمزي وصليی راوړلو ته ضرورت نشته خو د دي دريو واړو دصورتونو دامر حاضر په اخر کي وقف وکړي

امر په لغت کي فرمودن کار او په اصطلاح کي امر هغه جمله انشائيه ده چې واسطه سره يی متکلم ديو چاڅخه طلب دفعل کوي لکه اضرب عد وغيره

<u>قوله هر امر حاضر معلوم از فعل مضارع حاضر معلوم باين طور</u>

امر حاضر معلوم دفعل مضارع حاضر معلوم څخه جوړيږي نو کله چې امر حاضر معلوم جوړوي نو تاء حرف مضارعت به حذف کړي ځکه چې تاء زائده ده او زائد احق بالحذف ياځکه به حذف کيږي چې فرق حاصل شي دامر حاضر دفعل مضارع حاضر سره يا تاء حذف شوه دکثرت استعمال له وجهي نه

خو کله چې تاء حرف مضارعت حذف شي نو همزه وصليه به يی په شروع کي راوړل شي ځکه بيا ابتداء په ساکن راځي نو اوس که چيري عين کلمه مضمومه نه وه مفتوحه يامکسوره وه نو همزه وصليه مکسوره به راوړي ددي دواړو حالتونو لپاره به ځکه همزه مکسوره راوړل شي چې همزه مکسوره په نسبت سره مفتوحي او مضمومي ته اصل ده ځکه که همزه مضمومه راوړل شي نو التباس دامر حاضر راځي دفعل مضارع دمجهولو صيغو سره په حالت دوقف کي لکه أُعْلَمْ أُمْنَعْ أُكْرَمْ.....

او همزه مفتوحه هم رانه وړل شوه ځکه بيا التباس دامر حاضر دفعل مضارع معلوم دواحد متکلم سره راتله لکه اَمْنَعْ. اَعْلَمْ .....په حالت دقف کي داخو په هغه صورت کي که چيري فعل مضارع مکسورالعين او مفتوح العين وه او که چيري مضموم العين وه نو همزه وصليه مضمومه به راوړل شي مکسوره به ځکه نه راوړل شي چي بيا خروج لازم نشي دکسري حقيقي څخه ضمي حقيقي ته او خروج دکسري حقيقي نه ضمي حقيقي ته عندالعرب مستکره دي نو کله چي خروج دکسري حقيقي نه ضمي حقيقي ته مستکره وو ځکه بيا ثقل لفظي لازميدلو چي اِكْتُبْ دويلی وايی دا داسي راتله لکه دښکته طرف نه پورته طرف ته ختل (مراح الارواح)

دهمزي وصليی راوړل په هغه صورت کي وو که چيري عين کلمه ساکنه وه او چيري دحرف اتين نه ورورسته حرف متحرک وو بيا دهمزې وصل راوړلو ته ضرورت نشته ځکه ابتداء په ساکن نه راځي

سوال: دلته وويل شول چي حرف اتين به حذف شي همزه وصليه به راوړل شي که مابعد ساکن وو او وجه دې دا وښوده چي داکثيرالاستعمال دی چي خفت راشي نه منم داخبره چي دحرف مضارعت دحذف څخه وروسته دخفت راغلی وي بلکي نور هم ثقل راغی چي هغه اتصال دهمزي وصليی مضمومي يامکسوري دی الجواب دهمزي وصليی وجود دامر حاضر په هره صيغه کي لازم ندی لکه عِدْ . كَلِّمْ. خَفْ وغيره او په کومو صيغو کي چي همزه وصل راځي هغه بيا دوصل په حالت کي حذف کيږي نو هغي محذوفي ته اعتبار نشته(مراح الارواح)

سوال: امر حاضر کي دابتداء بالساکن ددفع لپاره دحروف زوائدو څخه همزه اول کي راوړل انتخاب کړه بل شی دولي نه انتخابولو الجواب همزه ځکه متعينه شوه چي دا په حروف زوائدو کي اقوی وه والابتداء بالاقوی اولی يا ځکه همزه انتخاب شوه چي دا دمخارجو په مبدأ کي ده يعني دابتدأ دمخارجو څخه ده

Maktaba Tul Ishaat.com

قانون: چون نون تاكيد بانون ضمير متصل شود الف فاصله ميان ايشان در آرند وجوبا

پـــنـــځـــلـــســـمقـــانـــــون

ديدې قانون نوم دی د اِضْرِبْنَانِّ قانون،پدې قانون کې يو حکم او يو شرط دی.
حــکــم: د نون ضمير او نون ثقيله په منځ کې الف د فاصلې راوستل واجب دي.
شــرط: نون ضمير او نون ثقيله به متصل راغلی وي،اختترازيمثال:اِضْرِبْنَ
اتـفـاقــيمـثـال: د اِضْرِبْنَنَّ څخه د اِضْرِبْنَانِّ ويل واجب دي.

-

تشريح:

دقانون خلاصه داده چي کله نون ضمير د نون ثقيله سره پيوسته شي نو ددواړو ترمنځ په الف سره فاصله کول واجب دي

الف فاصله ددواړو ترمنځ ځکه راوړل ضرور دي چي بيا اجتماع ددريو نوناتو راځي او داموجب دثقل وي

ددواړو نونينو ترمنځ فاصله کول دا په حرف علة الف واو اوياء سره کيدلی شي خو دلته فاصله په الف سره وشوه يعني الف دفصل لپاره انتخاب شو داځکه الف په نسبت سره واو او ياء ته خفيف دی

خو په دواړو نونينو کي يو حذف کيدلی هم نشي ځکه که نون ضمير حذف کړي نو هغه ضمير دی والضمير لا يتغير ولا تحذف همدا شان نون ثقيله کي هم يو حذف نشو ځکه که حذف شي نو اِضْرِبْنَنْ به شوی واى نو بيابه پته نه لګيده چي دا نون ثقيله دی که نون خفيفه (مراح الارواح)

فائده: دنون اقسام

نون په اوه قسمه دی اول نون قطني دوهم نون وقايه دريم نون علامتي څلورم نون اعرابي پنځم نون بنائی شپږم نون ثقيله اووم نون خفيفه

نون قطني دقطن څخه دی قطن پمبي ته وايی او دقطن نه هم تار جوړيږي چي يو شی پري وپيی ده سره هم دوه کلمات يا شيان ترل کيږي لکه محمدن المصطفی صل الله عليه وسلم يا زيدن العالم

نون وقايه هغه نون دی چي دفعل اخر دکسري څخه ساتي لکه جائِنِيْ اصل کي جاءِیْ راتله

نون علامتي هغه نون دی چي دباب انفعال افعلال افعلاء لپاره علامه ده

نون اعرابي دا هغه نون دی چي دفعل مضارع دتثنيی او جمع صيغو په اخر کي دهغه حرکت اعرابي په مقابل کي راغلی وي يضربان يضربون

نون بنايی هغه نون دی چي دفعل اخر دمعربوالي څخه ساتي لکه يَضْرِبْنَ تَضْرِبْنَ

نون ثقيله او خفيفه هغه نونات دي چي دفعل مضارع په اخر کي دتاکيد لپاره پيوسته شي په نون ثقيله کي تاکيد دنون خفيفه په نسبت تاکيد زيات وي (قواعد النحويه لصاحب زاده صاحب)

دومه فائده: دالف نه وروسته چي کوم نون ثقيله راغي دابه مکسور وي ځکه مشابهت لري دنون تثنيی سره په وقوع کي ځکه نون تثنيه هم بعد له الف څخه وي او مکسور وو دا نون ثقيله هم الف نه وروسته راغی نو مکسور به وي يا ځکه که مضموم شي نو خروج داخف نه اثقل ته لازميږي او که فتحه ږرکړل شي نو بيا کلام دبلغاءوو او فصحاوو دکلام نه مخالف راځي يعني خلاف الاستعمال لازميږي (زنجاني صفـــاته ديرش)

قانون: ظرف يَفْعِلُ ومثال مطلقا بروزن مَفْعِلٌ می ايد واز غير يَفْعِلُ وناقص ولفيف ومضاعف بروزن مَفْعَلٌ می ايد وجوبا وماسوی ايشان شاذ اند واز غير ثلاثی مجرد بروزن اسم مفعول ان باب می ايد وجوبا

شـــــپـــــارلـــــســـــمقـــــانـــــون

ديدي قانون نوم دی د اسمالظرف قانون،په دی قانون کي دري حکمونه،د اولو دوو حکمونو لپاره دوه،دوه شرطونه او د دريم حکم لپاره يو شرط دی.
اول حـکم: د ثلاثي مجرد نه د صحيح،مهموز او اجوف اسم الظرف په وزن د مَفْعِلٌ

Maktaba Tul Ishaat.com

ويل واجب دي.
اول شرط: د صحيح،مهموز او اجوف مضار به په وزن د يَفْعِلُ وي،اختر ازي مثال: نَصَرَ،يَنْصُرُ
اتفاقي مثال د صحيح: د ضَرَبَ،يَضرِبُ څخه د مَضْرِبٌ
اتفاقي مثال د مهموز: د آزَدَ،يَئْزِدُ څخه د مَئْزِدٌ
اتفاقي مثال د اجوف: د طَوَحَ،يَطْوِحُ څخه د مَطْوِحٌ ويل واجب دي.

دوهم شرط: د مثال باب به مطلقاً وي،اختر ازي مثال: ضَرَبَ،يَضرِبُ
اتفاقي مثال: د وَعَدَ،يَوْعِدُ څخه د مَوْعِدٌ ويل واجب دي.
دوهم حكم: د ثلاثي مجرد نه د صحيح،مهموز او اجوف اسم الظرف په وزن د مَفْعَلٌ ويل واجب دي.
اول شرط: د صحيح،مهموزاو اجوف مضار به په وزن د يَفْعِلُ نهوي،اختر ازي مثال: ضَرَبَ،يَضْرِبُ
اتفاقي مثال د صحيح: د نَصَرَ،يَنْصُرُ څخه مَنْصَرٌ
اتفاقي مثال د مهموز: د اَمَرَ،يَئْمُرُ څخه د مَئْمَرٌ
اتفاقي مثال د اجوف: د قَوَلَ،يَقْوُلُ څخه د مَقْوَلٌ ويل واجب دي.
دوهم شرط: ناقص،لفيف او مضاعف باب به مطلقاً وي،اختر ازي مثال:وَعَدَ،يَوْعِدُ

اتفاقي مثال د ناقص: د دَعَوَ،يَدْعُوُ څخه د مَدْعَوٌ
اتفاقي مثال د لفيف: د وَقَىَ،يَوْقَىُ څخه د مَوْقَىٌ
اتفاقي مثال د مضاعف: د مَدَدَ،يَمْدَدُ څخه د مَمْدَدٌ ويل واجب دي.
دريم حكم: اسم الظرف د هغې باب د اسم مَفْعُوْلٌ په وزن ويل واجب دي.
شرط: ثلاثي مجرد به نه وي،اختر ازي مثال:ضَرَبَ،يَضْرِبُ
اتفاقي مثال: د اُكْرِمَ،يُكْرَمُ څخه د مُكْرَمٌ ويل واجب دي

تشريح

خلاصه دقانون داده چي اسم ظرف چي راځي دابه يا دثلاثي مجردو څخه وي يا بغير ثلاثي مجردو څخه وي نو ددواړو احكام بيلابيل دي چي تفصيل يې دادى

كه چيري اسم ظرف دثلاثي مجردو څخه وي نو بيا به خالي نه وي يابه د صحيحو يا داجوفو يا دمهموزو يادمثالو ياد ناقصو ياد لفيفو يادمضاعفو يڅخه وي كه چيريمهمو

اسم ظرف دصحيحو اجوفو او مهموزو څخه وو نو مضارع به يې يا غير مضموم العين وي يا به مضموم العين وي كه غير مضموم العين وه نو اسم ظرف به دمَفْعِلٌ په وزن سره ويلى شي

او كه دصحيحو اجوفو مهموزو مضارع مضموم العين وي نو اسم ظرف به دمَفْعَلٌ په وزن سره ويل شي البته دمثالو باب به مطلقا دمَفْعِلٌ په وزن سره ويل شي عام له دي نه كه مضارع يې مضموم العين وي يانه وي

همدارنګه دناقصو او لفيفو او مضافو اسم ظرف به مطلقا بيا برعكس دمَفْعَلٌ په وزن سره ويل شي

خو كه اسم ظرف دثلاثي مجردو نه علاوه دبل شي نه جوړيده مثلا دمريداتو رباعي مجرد او مزيدو وغيره څخه نو دغه وخت كي به اسم ظرف دهماغه باب داسم مفعول په وزن سره ويل شي

(دپورته اجمال دښه ذهن كي كينولو لپاره)

پدي قانون كي دلاندي شيانو څخه بحث كوو

اول اسم ظرف دفعل مضارع څخه بناء كيږي كه فعل مضارع معلومه وي يامجهوله

دوهم: داسم ظرف دجوړولو په وخت كي حرف مضارعت حذف كيږي په ځاى يې ميم مفتوحه وړل كيږي

دريم: اسم ظرف ماقبل اخر به مفتوح وي كه مضارع يې ومكسورالعين نه وه اوكه مكسورالعين وه بيابه ماقبل اخر مكسور وي

څلورم: دمثال دباب داسم ظرف مطلقا مكسورالعين راځي

پنځم دناقصو لفيفو مضاعفو دباب اسم ظرف ماقبل اخر مطلقا مفتوح راځي

شپږم: اسم ظرف غير دثلاثي مجردونه دخپل باب داسم مفعول په وزن سره ويل واجب دي

اوله خبره اسم ظرف دفعل مضارع څخه جوړيږي دا فعل مضارع كه معلومه وي يامجهوله همدارنګه داسم ظرف يوه صيغه هم دزمان لپاره راځي هم دمكان لپاره ځكه چې يوكار چې كيږي نو زمان او مكان دواړو ته حاجت لري يا داسي تعبير بايد وكړو چې اسم زمان او مكان دواړه داسي اسمونه دي چې دلالت كوي په زمان او مكان دواړو

Maktaba Tul Ishaat.com

باندې به اعتبار دوقوع سره دفاعل نه په مفعول باندي يعني دا دواړه داسي اسمونه دي چي کله فاعل په مفعول باندي يو فعل ترسره کوي نو په زمان او مکان دواړو دلالت کوي ورسره (مراح زنجاني)

دوهمه خبره

داسم ظرف دجوړولو په وخت کي حرف مضارعت حذف کيږي ځکه دا زائد وو او زائد احق بالحذف خو اصل په زيادت کي حرف علت وو چي بايد زايد شوی وای ليکن دلته ميم زايد شو ځکه دا مشابهت لري داسم مفعول سره په وقوع دفعل عليه کي ليکن صرف فرق يی داسم مفعول سره دادی چي اسم مفعول ماوقع عليه الفعل والظرف ماوقع فيه الفعل

وجه دفتحي دميم ـ: اوله وجه ميم ته فتحه ورکړل شوه ځکه چی مشابهت يی داسم مفعول سره وو هغه هم مفتوح وو

دوهمه وجه ياځکه فتحه ورکړل شوه چي نفس حرکت ميم ته ځکه ورکړل شو چي ابتدا بالساکن لازمه نشي اما فتحه ورکول يی ځکه چي اخف الحرکات ده

دريمه وجه: ياځکه فتحه ورکړل شوه چي دا ميم عوض دحرف مضارعت دی هغه مفتوح وو دا هم مفتوح شو

څلورمه وجه: ياځکه فتحه ورکړل شوه چي که ضمه ورکړل شوي وای نو دباب افعال داسم فاعل سره يی التباس راتله لکه مُضْرَبٌ او که کسره ورکړل شوي وای نو داسم آلي.
سره التباس راتله لکه مِضْرَبٌ (زنجاني صفـــشپږ نوي) (مراح)

دريمه خبره داوه چي داسم ظرف ماقبل اخر به مکسور وي که مضارع يی مکسور العين وه او که مکسورالعين نه وه بيا داسم ظرف ماقبل اخر مفتوح وي

خو اصلا دلته اسم ظرف ماقبل اخر تابع دی دفعل مضارع دعين کلمي نو که عين کلمه مکسوره وه نو اسم ظرف ماقبل اخر به مکسور وي داځکه تر څو يی توافق داصل بناء سره (چي فعل مضارع ده) .راشي (مراح)

اوکه چيري مفتوح العين وه بيا به د اسم ظرف ماقبل اخر مفتوح وي ترڅو موافقت بيا داسم ظرف داصل چي فعل مضارع ده راشي

خو كه چيري فعل مضارع مضموم العين وه اسم ظرف ماقبل اخر مضموم نشي راتلای ددوه وجهو نه اوله وجه داده چي دا وزن په كلام دعربو كي نشته دوهمه وجه دثقل دضمي نه چي ضمه ثقيله ده

څلورمه خبره داچي داسم ظرف دمثالو دباب څخه مطلقا ماقبل اخر مكسور وي مطلقا دامعني كه مثال واوي وي يا يايی وي مضارع يی مكسورالعين يامفتوح العين يا مضموم العين وي

ددريو وجهو څخه

اوله وجه؛ ماقبل اخر به مكسور وي ځكه چي خروج دحرف علة نه كسري ته دا خفيف وي على اللسان په نسبت سره دخروج دحرف علة نه ضمي او فتحي ته دا مقصد چي مَوْعِدٌ كي واو راغلی دی وروسته ورنه كسره دا خفيفه ده على اللسان په نسبت سره هغه واو (حرف علة) ته چي وروسته ورنه فتحه ياضمه راغلي وي (مراح صفـشپږ اتياشپږ حاشيـــــيولسمه)

خو دا توهم دپيدا نشي چي كه كسره وروسته دواو نه وركړل شي بيا خو خروج لازميږي دضمي نه كسري ته هغه داسي چي واو جوړ دی ددوه ضمو څخه او دا ثقيل څه چي اثقل دی ليكن دفع دتوهم داده چي دلته دايو واو ساكن دی والساكن في حكم الميت نو ثقل نه پيدا كوي

دوهمه وجه: داده چي دمثالو اسم ظرف ماقبل اخر به مطلقا مكسور وي چي اسم ظرف ماخوذ وي دفعل مضارع نه او دمثالو فعل مضارع اكثره مكسور العين وي په نسبت سره مفتوح اومضموم العين ته

نو اسم ظرف ماقبل اخر دمثالو مكسور شو دوجه دتبعيت دكثير نه يعني تابعوالی دكثير وشو اما هغه ابواب دمثالو چي مفتوح يا مضموم العين وو نو هغه هم طردا للباب مكسور شول والله اعلم (مراح ص شپږ اتيا حاشيـــــيولسمه)

دريمه وجه داسم ظرف دماقبل اخر دكسري داده چي دمثالو باب مطلقا مكسورالعين شو دناقصو سره دتقابل دوجه نه يعني مثال مقابل دناقصو دي (ځكه مثال دكلام په شروع كي دي او ناقص دكلام په اخر كي دي نو متقابلين شول) ناقصو كي ماقبل اخر مفتوح وو په مثالو كي مو مكسور كړلو للتقابلِ

Maktaba Tul Ishaat.com

پنځمه خبره: دناقصو مضاعفو او لفيفو دباب داسم ظرف ماقبل اخر(عين كلمه) مطلقا مفتوح العين راځي دمطلقا هماغه معنى ده كه واوي وي يا يايى مفتوح العين يامضموم العين او ياهم مكسور العين وي

دلته دوه وجهي ذكر كوو دناقصو او لفيفو (لفيف عام دي كه مفروق وي يامقرون) لپاره مشتركه وجه او دمضاعفو لپاره ځانته وجه ذكر كوو

اوله وجه دناقصو او لفيفو اسم ظرف به مفتوح العين وي دا ځكه كه مَدْعِوٌ يا مَطْوِىٌ يا مَخْشِىٌ يى ووايى نو مدعِوٌ كي واو د دُعِىَ قانون له وجهي په ياء سره بدليږي بهر حال دلته بيا توالي دكسراتو راځي مثلا مَدْ عِىٌ كي يوه كسره دعين او ياهم جوړه ده ددوه كسرو څخه اوباقي امثالو كي هم توالي راځي (مراح)

دوهمه وجه دمضاعفو لپاره دمضاعفو اسم ظرف بايد مطلقا دمَفْعَلٌ په وزن سره وويل شي خو دي كي اختلاف دى او دوه قوله دي

بعضي علماء وايى چي اسم ظرف دمضاعفو به مَفْعَلٌ وي دليل يى دادى چي قران كي هم راغلي لكه قوله تعالى (اَيْنَ المَفَرُّ) مَفَرٌّ دفرَّ يَفِرُّ دباب اسم ظرف دى په داسي حال كي چي مضارع يى مكسورالعين ده خو صاحب علم الصيغه بيا وايى چي دمضاعفو داسم ظرف به دصحيحو مهموزو او اجوفو پشان وي يعني اعتبار به عين كلمي دفعل مضارع ته وي كه مكسور العين وه اسم ظرف مَفْعِلٌ او كه مكسوره نه وه بيا به اسم ظرف مَفْعَلٌ ويل شي دليل يى دا قول دالله تعالى دى (حتَّى يَبْلُغَ مَحِلَّهُ) مَحِلٌّ دباب حَلَّ يَحِلُّ اسم ظرف دى مضارع مكسور العين وه نو اسم ظرف هم دهغه تابع شو (خيرالزاد شرح ارشادالصرف صفـيوسل درى) اكثرو شارحيتو دصاحب علم الصيغة قول ته ترجيح وركړيده

شپږمه خبره دا ده اسم ظرف دهغي باب داسم مفعول په وزن سره ويل كيږي داځكه چي اسم ظرف خپله يو قسم داسم مفعول دى صرف يى فرق په وقوع كي ده ياعليه يا هم فيه يعني دواړه دفعل دمتعلقاتو څخه دي (زنجاني)

(دڅو فايدو بيان)

اوله فايده: كله كله اسم ظرف په اخر كي تاء هم راځي همدارنګه دمَفْعَلَةٌ په وزن سره راځي لكه مقبرَةٌ مشرَفَةٌ مغفِرَةٌ خو دا تاء اكثرا دمبالغي وي دتانيث لپاره نه وي (زنجاني)

دوهمه فايده: اسم ظرف چي مفعِلٌ او مفعَلٌ په وزن سره راځي

اسم ظرف چي دمفعِلٌ په وزن سره راځي بحسب التتبع والاستقراء دادي

منسِكٌ ـ مجزِرٌ ـ منبِتٌ ـ مطلِعٌ ـ مشرِقٌ مغرِبٌ ـ مرفِقٌ مسقِطٌ مسكِنٌ مسجِدٌ مفرِقٌ

او ددي نه ماسوى ټول دمفْعَلٌ په وزن سره راځي (مراح)

بعضي اسم ظرف دمَفْعُلَةٌ په وزن سره هم راځي لكه مقبُرةٌ مشرُفَةٌ ..فهو شاذ

كله كله چي اسم ظرف دمَفْعَلَةٌ په وزن راشي نو دا لپاره ددي چي دلالت وكړي په كثرة دشي باندي په مكان كي يعني لپاره ددي چي په يو مكان كيډير شيان دي لكه مَطْبَخَةٌ مسبعَةٌ .....(جامع الدروس العربية)

دريمه فايده: داسم ظرف لپاره څلور صيغي دي مضرِبٌ مضربانِ مضارِبُ مضيْرِبٌ چي ټولي يى دزماني څخه خالي دي ځكه فعل ندى همدا شان په تذكير او تانيث كي هم برابر دي.

څلورمه فايده: مسجِدٌ اسم ظرف دباب سجَدَ يَسْجُدُ څخه دى او دقاعدي مخالف راغلى دى ليكن دا شاذ دى او په شاذ كي هغه قسم دى چي مخالف القياس موافق الاستعمال وي

پدي قيد سره اشاره وشوه چي شاذ په درى قسمه دى اول حسن دوهم احسن دريم قبيح

اول قسم شاذ حسن ـ: ديته وايى چي موافق القانون مخالف العادة وي لكه ديسْجُدُ څخه دمسجَدٌ ويل دقاعدي موافق ليكن دعادت مخالف دى ځكه چي قران كريم كي مسجِدٌ رانقل شوى دى

دوهم شاذ احسن: داهغه شاذ دى چي موافق العادت مخالف القانون وي لكه ديَسْجُدُ څخه د مسجِدٌ ويل دقانون مخالف ليكن دعادة موافق دى

دريم قسم: .شاذ قبيح ـ: هغه دى چي دقانون او عادة دواړو مخالف وي لكه ديسْجُدُ څخه د مسْجُدٌ ويل (معارف الصرف صفــ يوسل نولس)

قانون: هر الف كه حركت ماقبلش مخالف شود ان را بوفق حركت ماقبل بحرف علت بدل كنند وجوبا

Maktaba Tul Ishaat.com

اوولـــــــســـــــمقـــــــانـــــــون

ديدې قانون نوم دی د ضُوْرِبَ او مَضَارِيْبُ قانون،په دی قانون کې يو حکم او يو شرط دی.
حـکـم: الف د خپل ما قبل حرکت موافق په حرف علت بدلول واجب دي.
شـرط: الف به د خپل ما قبل حرکت نه مخالف وي،اختـرازيمثال:قَالَ
اتـفـاقــي مـثـال: د ضَارَبَ څخه د ضُوْرِبَ او د مِضْرَابٌ څخه د مَضَارِيْبُ او مُضَيْرِيْبٌ ويل واجب دي.

_____-

تشريح

دقانون خلاصه داده چې کله الف دماقبل حرکت مخالف راشي نو دا الف به دماقبل حرکت موافق په حرف علة سره بدليږي لکه همدا مثال ضُورِبَ دضَارَبَ څخه ضارب ماضي معلومه ده چې کله ماضي مجهوله جوړوي حرف اول ته ضمه ماقبل اخر ته کسره ورکړه نو ضَارَبَ وو ضُارِبَ شو اوس الف دماقبل ضمي له مجهي په واو سره بدل شو ضُوْرِبَ شو دا ځکه که په خپل حال پريښودل شوی واى نو تلفظ کول پري ممکن نه وو يا له وجه دتقاضی د ضمي نه

د څـــــو فـــــائـــــدو بـــــيـــــان

لومړی فائده: هغه الف چې د اسم په آخر کې راځي په دوه قسمه دی.
١:-الف مقصوره ٢:-الف ممدوده
دالفـمقصوره تعريف: هغه الف ته وايي چې د هغه څخه وروسته همزه نه وي،لکه؛ حُبْلىٰ
دالفـممدودهتعريف: هغه الف ته وايي چې د هغه څخه وروسته همزه وي هغه که اصلي وي او که غيراصلي.
الفـممدودهپهدريقسمهدی: ١:-الفـاصلي ٢:-الفـتانيثي ٣:-الفـغيراصلي
دالفـاصليتعريف: هغه الف ته وايي چې د لام کلمې په مقابل کې وي او د څه شي څخه عوض نه وي راغلی،لکه؛قُرَاءُ
دالفـتانيثيتعريف: هغه الف ته وايي چې د کلمې په مؤنثوالې باندې دلالت کوي،لکه؛حَمْرَاءُ
دالفـغيراصليتعريف: هغه الف ته وايي چې نه اصلي وي او نه تانيثي،لکه؛کِسَاءٌ نو کِسَاءٌ

ځکه اصلي نه دی چې همزه يې د عين کلمې په مقابل کې راغلی دی او تانيثي ځکه نه دی چې د کلمې په مؤنثوالې باندې دلالت نه کوي.

قانون: هر الف مقصوره سوم جا بدل ازواو يا اصلی که اماله کرده نشود وقت بناء کردن وجوبا دغيرش را بيا بدل کنند وممدوده اصلی را ثابت دارند وتانيثی را بواو بدل کنند وجوبا ودر غيرش هردو وجه خواندن جايز است

اتـــــلـــــســـــمقـــــانـــــون

ديدې قانون نوم دی د الف مقصوره او الف ممدوده قانون،په دې قانون کې پنځه(۵)حکمونه،د اولو دوو حکمونو لپاره دوه،دوه شرطونه اود نورو دريو حکمونو لپاره يو،يوشرط دی.

اولحـکـم: الف مقصوره د تثنيې او جمعې مؤنثې سالمې د جوړولو په وخت کې په واؤ مفتوحه سره بدلول واجب دي.

اولشـرط:په واؤ سره بدل شوی الف به په دريم ځای کېواقع وي،اختـرازيمثال:هُدیٰ

اتـفـاقـيمـثـال: د عَصَا څخه د عَصَوَانِ،عَصَوَاتٌ ويل واجب دي.

دوهـمشـرط: الف مقصوره به اصلي وي او په دې کې به اماله نه وي شوی،اختـرازيمثال:بَلیٰ

اتـفـاقـيمـثـال: د اِلیٰ څخه د اِلَوَانِ،اِلَوَاتٌ ويل واجب دي.

دوهـمحـکـم: الف مقصوره دتثنيې او جمعې مؤنثې سالمې د جوړولو په وخت کې په يايې مفتوحه سره بدلول واجب دي.

اولشـرط:پهيا سرهبدلشوی الفـبهپهدريمځایکېوي،اختـرازيمثال:عَصَا

اتـفـاقـيمـثـال:د هُدیٰ څخه د هُدَيَانِ،هُدَيَاتٌ ويل واجب دي.

دوهـمشـرط:الف مکسوره به اصلي وي او په دې کې به اماله جائز وي،اختـرازي مثال:اِلیٰ

اتـفـاقـيمـثـال: د بَلیٰ څخه د بَلَيَانِ،بَلَيَاتٌ ويل واجب دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

دريـمحـكـم: الف مكسوره د تثنيې او جمعې مؤنثې سالمې د جوړولو په وخت کې پخپل حال پريښودل واجب دي.
شـرط: الف ممدوده به اصلي وي،اختـرازيمثال:حَمْرَاءُ
اتـفـاقـيمـثـال: د قُرَاءٌ څخه د قُرَاءَانِ،قُرَاءَاتٌ ويل واجب دي.
څـلـورمحـكـم: الف ممدوده ، د تثنيې او جمعې مؤنثې سالمې د جوړولو په وخت کې په واؤ مفتوحه سره بدلول واجب دي.
شـرط: الف ممدوده به تانيثي وي،اختـرازيمثال: قُرَاءٌ
اتـفـاقـيمـثـال: د حَمْرَاءٌ څخه د حَمْرَاوَانِ،حَمْرَاوَاتٌ ويل واجب دي.
پـنـځـمحـكـم: الف ممدوده ، د تثنيې او جمعې مؤنثې سالمې د جوړولو په وخت کې په دوو وجهو يا طريقو سره ويل جائز دي.
شـرط: الف ممدوده به غير اصلي وي،اختـرازيمثال: قُرَاءٌ
اتـفـاقـيمـثـال: د كِسَاءٌ څخه د كِسَاوَانِ،كِسَاوَاتٌ او كِسَاءَانِ،كِسَاءَاتٌ ويل جائز دي.

تشريح

خلاصه دقانون داده چې هغه اسم چې اخر کې يې اسم مقصور راغلی وي دوه قسمه دی يوقسم هغه دی چې په هغه کې به اماله نه وي شوي بل قسم هغه دی چې په هغه کې اماله شوي وي اول قسم چې اماله پکې جايزه وي نو دابه په.واو مفتوحه سره بدليږي پدې شرط چې دا الف مقصوره اصلي په دريم ځای کې واقع وي لکه دالَی څخه الوانِ الواتٌ ويل او که چيري اماله پکې جايزه وه او شوي وه نو دي صورت کې به الف مقصوره په ياء مفتوحه سره بدليږي

او که چيري الف ممدوده راغی نو دابه خالي نه وي يابه اصلي ياتانيثي يا غير اصلي وي که اصلي وو نو دتثنيه او جمع مونث جوړولو په وخت کې په خپل حال پريښودل شي او که تانيثي وو په واو مفتوحه سره بدليږي او که غير اصلي وو نو په خپل يې هم پريښودی شي او په واو مفتوحه سره يې هم بدلولی شي

<u>قوله هر الف مقصوره سوم جا بدل ازواو</u>

اول حکم يې دا وو چې که چيري الف مقصوره راغی اصلي (په مقابل دفاء عين او لام کې) وو او اماله پکې جايزه نه وه نو د تثنيې او جمع مونث سالمې جوړولو په وخت

كي په واو سره بدليږي لكه عصَا اصل كي عصَوَ وو نو واو الف سره بدل شوى وو اوس چي كله تثنيه او جمع مونث سالم جوړوي نو دا الف چي بدل دواو څخه وو بيرته په واو سره بدلوي

په واو مفتوحه سره به ځكه بدليږي چي عصا دى كه تثنيه يا جمع بناء كوي نو عصيَى ان او عصَى اتٌ راځي نو داجتماع دساكنين له وجهي الف مقصوره په واو مفتوحه سره بدل شو

ترڅو رعايت دداصل حقيقي وشي چي اصل كي هم واو وو (كفاية النحو شرح هداية النحو بحث فصل المثنى)

قوله وغيرش رابيا بدل كنند

يعني كه چيري الف مقصوره اصلي وو او اماله پكي جايزه وو نو دتثنيى او جمع مومث سالمي جوړولو په وخت كي به په ياء سره بدليږي لكه هُدّى څخه هُديان هُدياتٌ داځكه چي هُدَى اصل كي هُدَىٌ وو نو ياء په الف سره بدل شو نو دتثنيى او جمع مونث سالمي جوړولو په وخت كي به په ياء سره بيا بدليږي ترڅو رعايت د اصل وشي چي اصل كي هم دريم ځاى كي ياء وه بيا په الف سره بدله شوي وه

قوله وممدوده اصلى را ثابت دارند وتانيثي را بواو بدل كنند وجوبا ودردرغيرش هر دوجه خواندن جايز است

اوس دالف ممدوده احكام دادي كه چيري الف ممدوده اصلي وو نو دتثنيى او جمع مونث جوړولو په وخت كي په خپل حال پريښودل شي ځكه عوض دهيڅ شي څخه نده راغلي

او كه چيري تانيثي وي بيا به په واو مفتوحه سره بدليږي دا ځكه چي دلته الف ممدوده تانيثي دى نو كه په خپل حال پريښودل شي نو بيا علامه دتانيث په وسط كي راځي او دا مستكره وه نو په واو سره بدله شوه

خو دا سوال دوارد نشي چي په مسلمتانِ كي هم علامه دتانيث په وسط كي راغلي ده بايد داهم مستكره وګڼل شي ځكه دلته اګر كه علامه دتانيث په وسط كي ده ليكن دتثنيه مذكر سره دالباس له وجهي پريښودل شوه (تعليق ارشادالصرف)

Maktaba Tul Ishaat.com

او كه چيري الف ممدوده نه اصلي وو نه تانيثي نو دوه وجهي جايزي دي اوله وجه په خپل حال پريښودل دا ځكه چي دا الف ممدوده اصل كي بدل دواو او ياء اصلي څخه راغلى نو بايد په خپل حال پريښودل ش او كه ديته نظر وشي چي دا مشابهت لري د حمرآء سره ځكه هغه هم اصلي نه وه په واو سره بدله شوه او دا خو ذاتا اصلي نده نو بايد دا هم په واو سره بدله شي(هداية النحو بحث المثنى)

(د اسم مقصور او ممدود مكمله خلاصه)

هغه اسم چي اخر كي يى الف راځي دوه قسمه دى اول اسم مقصور دوهم اسم ممدود

ددواړو په اخر كي دتثنيى او جمع جوړولو په وخت كي دتبديلى دحصر وجه

هغه اسم چي اخر كي يى الف وي يابه الف مقصوره وي يا به الف ممدوده وي كه الف مقصوره وو نو يا به ثلاثي وي يابه زائد على الثلاثي وي كه ثلاثي وو يابه بدل من الواو وي يا من الياء كه بدل من الواو وو نو دتثنيى او جمع مونث جوړولو په وخت كي به په واو سره بدليږي او كه بدل من الياء دتثنيى او جمع مونث جوړولو په وخت كي به په ياء سره بدليږي او كه چيري زايد على الثلاثي وو نو بيا به خالي نه وي يا به بدل من الواو وي يا من الياء په دواړو صورتونو كي به دتثنيى او جمع مونث سالمي جوړولو په وخت كي په ياء سره بدليږي

او كه چيري داسم اخر كي الف ممدوده وو نو دا الف ممدوده به يا اصلي وي يا به تانيثي وي يا غيراصلي (اى بدل من الواو والياء) وي كه اصلي وو په خپل حال پريښودل شي دتثنيى او جمع مونث سالمي جوړولو په وخت كي او كه تانيثي په واو سره بدليږي او كه غير اصلي وو نو دوه وجهي جايزي دي په خپل حال پريښودل يا يى په واو سره بدلول

(كفاية النحو ـ مرآة الصرف ـ جامع الدروس العربية)

(فايده)

اسم مقصور دوه قسمه دی قياسي او سماعي قياسي په لاندي نهو مواضعو کي راځي او علاوه ددي نه سماعي دي

قياسي

اول: هر مصدر لازمي دناقصو څخه چي په وزن د فَعَلٌ او فِعَلٌ سره راشي که جَوَىٌ څخه جَوَى رِضَىٌ څخه رِضَى

دوهم:هر هغه ناقص چي په وزن دفِعَلٍ وي او جمع دفِعْلَةٌ وي لکه مِرَى او حِلَى جمع مِرْيَةٌ او حِلْيَةٌ

دريم: هرهغه ناقص چي په وزن دفُعَلٌ س راغلي وي او جمع دفُعْلَةٌ وي لکه عُرَى او مُرَى او دُمَى جمع دعُرْيَةٌ او مِرْيَةٌ او دُمْيَةٌ

څلورم: هغه اسم جنس چيّ په وزن دفَعَلَ سه راغلی وي په داسي حال کي چي تاء ورسره راغلي نه وي په جمع او که تاء ورسره وي په مفرد دلالت کوي لکه حَصَاةٌ حَصَى قَطَاةٌ قَطَى

پنځم: دناقصو مصدر چي دمَفْعَلٌ په وزن سره وي همدارنګه اسم مفعول اسم آله اسم ظرف دټولو اخر کي الف مقصوره قياسي وي لکه على الترتيب مَحًيا ـ مُصْطَفًى ـ مِدْعًى

مَرْمًى

شپږم: له ناقصو څخه دأَفْعَلُ وزن چي صفة للتفضيل وي لکه أَدْعَى ـ أَقْصَى يا افعل وزن صفة للتفضيل نه وي لکه أَحْوَى أَعْمَى چي احوى هغه تورنګه کس چي وهونکی وي سورکی ښځي لره او اعمى دعمى څخه ده

اووم: دأَفْعَلُ ناقصو جمع مونث اخر کي هم الف مقصوره قياسي راځي لکه دُنَى جمع دُنْيَا ده

اتم: دافعل تفضيل واحد مونثه که دصحيحو څخه وي يا دمعتلو څخه لکه ضُرْبَى دُنْيَا ....

او ددغه اته مواضعو څخه ماسوی دنورو اسم مقصور اخر کي الف سماعي راځي لکه فَتَى مَتَى حِجَا سِنَا هُدَى رَحَى .....(جامع الدروس العربية)

Maktaba Tul Ishaat.com

(د اسم ممدود پيژندنه او مواضع)

اسم ممدود هغه اسم دی چي اخر کي يی الف راغلی وي وروسته ورځخه همزه راغلي وي او دا په دوه قسمه دی اول اسم ممدود قياسي او دا ټول اوه مواضع دي دوهم سماعي دا هغه اسم ممدود دی چي دلاندي شپږو نه علاوه وي

(اسم ممدود قياسي)

اول: دثلاثي مجردو نه علاوه دناقصو دباب هرهغه مصدر چي په اول کي يی همزه راغلي وي لکه اِعْطاءٌ ـ اِنْجِلَاءُ ـ اِرْعِوَآءُ ـ استقصآءُ .....

دوهم: دنصرينصر دباب هغه مصدر چي ددلالت په صوت باندي وکړي لکه يَرْغُوْ رُغَاءً. وتَثْغُوْا ثُغَاءً

دريم: دباب مفاعله دباب هغه مصدر چي دفِعَالاً په معنی سره راځي لکه وَالَی وِلَاءًا و عَادَی عِدَاءًا .....

څلورم؛ هغه اسم چي چي څلور حرفي وي او جمع کيږي په اَفْفِلَةٍ سره لکه کِسَاءٌ جمع يی اَکْسِيَةٌ رِداءٌ جمع يی اَرْدِيَةٌ

پنځم: هر هغه مصدر چي وزن تَفْعال تِفْعَالٌ ترينه جوړ شي لکه مشی يمشي تِمْشاء . عَدَا يعْدُوْ تعداءٌ .....

شپږم: هرهغه صفت چي فَعَّالٌ مِفْعَالٌ دد مبالغي لپاره ورځخه جوړ شي لکه عَدَّاءِ. مِعْطَاءٌ ...

اووم: دافعل غير تفضيلي مونث عام له دينه کي صحيح الاخر وي يا معتل وي لکه اَعْرَجَ عُرْجَاءُ. اَحْوَی حَوَّاءُ.....

او ددي نه علاوه ټول مواضع د اسم ممدود غير قياسي يعني سماعي دي

لکه الفَتَاءِ. الغَنَاءِ. الثَرَاءِ.....

فايده:کله کله اسم ممدود کي قصرهم کولای شي لکه ددُدعَاءُ څخه دُعَا اودمصَفْرَاءُ څخه صَفْرَا

اوپه اسم مقصورکي به مدنه کيږي اومدکول يی قبيح دي چي دعَصَا څخه عصَاء ووايی

فايده: الف مقصوره چې بدل دواو او ياء څخه راغلی وي نو دتثنيی او جمع مونث سالمي جوړولو په وخت کي به بيرته خپل اصل ته رد کيږي اصل يی دوه قسمه دی حقيقة لکه د عَصَا څخه عصوان عصوات او حکما اصل لکه الی څخه الوان الواتٌ

دايی مثال حقيقي لکه رَحَی څخه رحيانِ رحياتٌ او دحکمي مثال لکه دمتَی څخه مَتَيَانِ مَتَيَاتٌ (کفاية النحو)

العبدالاحقر مفتقر الی الله عبيد الله عبيد الماتريدی الحنفي
يادونه:

د اِمالي تعريف

اِماله په لغت کې د ميل کولو په معنی استعماليږي او په اصطلاح کې د فتحې ميلان کسرې طرف ته او د الف ميلان ياء طرف ته د اِمالې په نامه يادېږي.
د اِمالې حقيقت دادی چې نه خالصه کسره تلفظ شي او نه هم خالصه ياء ولوستل شي او په دوه ډوله ويشل شوې ده: (صغری اماله او کبری اماله)
الـــــف: صغری اماله: هغه امالې ته وايې چې د فتحې ميلان الف طرف ته او د کسرې ميلان ياء طرف ته په کمه اندازه وي.
ب: کبری اماله: پدې صورت کې ميلان زيات وي لکه څرنګه چې د «مَجْرِيهَا» په کلمه کې د راء د کسرې څخه ياء پيدا کيږي.
په قرآنکريم کې د حفص په نزد فقط يو ځای کبری اماله کيږي چې هغه د هود د سورت (۱۴) آيات دی.
«وَ قَالَ ارْكَبُوْا فِيْهَا بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرِيهَا وَ مَرْسَهَا ۚ اِنَّ رَبّی لَغَفُوْرٌ رَّحِيمٌ»
خو حفص ابن سليمان (رح) صغری اماله نه کوي په داسې حال کې چې نور قرآء صغری امالې ته قايل دي.
خلاصه دا چې : دا يوه تجويدي قاعده او قانون دی چې فتحه د کسرې طرفته او کسره د فتحې طرفته مايل کوي او مونږ يې نه شو تلفظ کولای.

قانون: هر حلقی العين که بروزن فَعِلَ باشد سوی اصل در ان سه وجه خواندن جايز اند واگر حلقی العين نباشد در فعل سوی وزن اصلی يک ودر اسم سوی

Maktaba Tul Ishaat.com

وزن اصلی دو وجه خواندن جایز اند ودر وزن فِعَلٌ فِعْلٌ. فُعُلٌ فُعْلٌ و فَعُلٌ فُعْلٌ خواندن جایز است

نـــــولـــــســـــمقـــــانـــــــون

ديدې قانون نوم دی د حلقی العين قانون،پدې قانون کې دريې حکمونه او د هر حکم لپاره يو،يو شرط دی.
اولحـکـم:سوا د وزناصلي څخه په فعلکې دريې نورې وجهې ويلهم جائز دي.
شـرط: کلمه به خلقی العين او په وزن د فَعِلَ وي،اخترازيمثال:عَلِمَ
اتـفـاقـيمـثـال:د شَهِدَ څخه د شَهْدَ،شِهْدَاوشِهِدَ او د فَخِذَ څخه د فَخْذَ،فِخْذَاوفِخِذَ ويل جائز دي.
دوهمحـکـم:سوا د وزن اصلي څخه په فعلکې يوه وجهه او په اسمکې دوه وجهې ويلجائز دی.
شـرط: کلمه به حلقیالعين نه وي او په وزن د فَعِلَ وي،احترازيمثال:شَهِدَ

اتـفـاقـيمـثـال: د عَلِمَ څخه عَلْمَ او د كَتِفَ څخه د كَتْفٌ،كِتْفٌ ويل جائز دي.
دريـمحـکـم: سوا د وزن اصلي څخه په کلمه کې يوه بله وجهه هم جائزه ده.
شـرط: کلمه به د لاندې څلورو اوزانو څخه د يوه وزن سره موافق راغلی وي:
د اِبِلٌ څخه د اِبْلٌ ، د عُضُدٌ څخه د عُضْدٌ ، د عُنُقٌ څخه د عُنْقٌ او د قُفْلٌ څخه د قُفُلٌ ويل جائز دي.

تشريح:

خلاصه دقانون داده چي کله يوه کلمه دفَعِلَ په وزن سره راشي نو دابه خالي نه وي يابه حلقی العين وي يا نه که حلقي العين وه بيا به دا وزن فعل وي يابه اسم وي که کلممه حلقي العين وه که اسم وو که فعل دری وجهي پکي ويل جايز دي شَهْدَ. شِهِدَ خو که کلمه حلقی العين نه وه او په وزن دفَعِلَ راغلي وه نو که فعل وو صرف يوه وجه عَلْمَ او که اسم وو دوه وجهي كَتْفٌ. كِتْفٌ جايز دي

خو دعين کلمي ساکن کول دا ټول له وجهي دتخفيف نه ساکن کيږي (مراح يو شفيته)

د فَعِلَ وزن په دوه قسمه دی

فَعِلَ حقيقي دوهم فَعِلَ حكمي

فَعِلَ حقيقي هغه ده چي اصل كلمه د فَعِلَ په ورن سره راغلي وي لكه علِمَ شَهِدَ. كَتِفَ

فَعِلَ حكمي هغه ده چي اصل كلمه دفَعِلَ په وزن سره نه وي بلكي كله چي دنورو كلمو سره يوځاى شي نو دفَعِلّ وزن اختيار كړي لكه لِيَنْصُرْ دی كله چي فا پري داخله شي نو د فَلِيَنْصُرْ نو فلِيَ دعلم په وزن راغی نو فَلْيَنْصُرْ به يی وايی

همدارنګه ديَكْتَسِبُ څخه يَكْتَسْبُ او د مُكْتَسِبٌ څخه دمُكْتَسْبٌ او مُكْتِسْبٌ ويل

لَيْسَ اصل كي لَيِسَ وو او نِعْمَ اصل كي نَعِمَ وو

فايده: كله چي دامر غايب صيغو پوري واو يا فاء يا ثم پيوسته شي نو بيا به هم دحلقی العين قانون جاري كيږي لكه: وَلْيَضرب فَلْيَضرب ثمَّ لْيَضْرِبْ (مراح يوشپيته)

قانون: هرباب كه ماضی او مفتوح العين يادر اول ماضی او همزه وصلی يا تاء زايده مطرده باشد در مضارع معلوم او غير اهل حجاز حرف اتين را سوی ياء حركت كسره می دهند جوازا

شـــــــــلـــــمقـــــــانـــــــون

ديدي قانون نوم دی د تِعْلَمُ،اِعْلَمُاونَعْلَمُ قانون،په دي قانون كي يو حكم او دري شرطونه دي.
حـكـم:په فعلمضارع معلومكي حروف اتين ته بغيرله(يا)څخه كسره وركولجائز دي.
اولشـرط:داسي باب به وي چي ماضي به يي مكسورالعين او مضارع به يي مفتوح العين(دباب‌عَلِمَ،يَعْلَمُ)په وزن وي،اختزازيمثال:ضَرَبَ،يَضْرِبُ
اتـفـاقــيمـثـال: د تَعْلَمُ،اَعْلَمُ او نَعْلَمُ څخه د تِعْلَمُ،اِعْلَمُ او نِعْلَمُ ويل جائز دي.
دوهـمشـرط:داسي باب به ويچي په شروع كي يي همزه وصلي وي،اختزازيمثال: اَكْرَمَ،يُكْرِمُ

اتـفـاقــيمـثـال: د تَكْتَسِبُ،اَكْتَسِبُ او نَكْتَسِبُ څخه تِكْتَسِبُ،اِكْتَسِبُ او نِكْتَسِبُ ويل جائزدي.
دريـمشـرط: داسي باب به وي چي په شروع كي يي تاء زائده مطرده وي،اختزازي مثال:صَرَّفَ،يُصَرِّفُ

Maktaba Tul Ishaat.com

اتـفـاقــيمـثـال:د تَتَصَرَّفُ،اَتَصَرَّفُ او نَتَصَرَّفُ څخه د تِتَصَرَّفُ،اِتَصَرَّفُاونِتَصَرَّفُ ویل جائز دي.

تشريح

خلاصه دقانون داده چي دعَلِمَ يَعْلَمُ او هغه ابواب چي په شروع کي يی همزه وصل وي يا يی په شروع کي تاءزايده مطرده (دتاء دباب) وي نو په فعل مضارع معلومه کي يی سوی دياءڅخه حرف اتين ته حرکت ورکول جايز دي

خو ددي قانون په باره کي دوه مذهبه دي اول مذهب د بنی الاسد دی دوی وايی چي فعل مضارع کي حرف اتين ته به ټولو ته به حرکت کسره ورکول شي علماء اهل حجازين وايی چي ياء ته به هم کسره ورکول کيږي چي يِعْلَمُ يی ووايی مګر داهل حجازينو نه علاوه نور علماء وايی چي ياء ته به کسره نه ورکول کيږي چي اجتماع دکسراتو لازميدله يا ځکه چي کسره ثقيله وه په ياء ضعيفه باندي لهذا ياء ته به کسره نه ورکول کيږي

وجه ولي فعل مضارع کي حرف اتين ته کسره ورکول کيږي نو ځکه کسره ورکول جواز لري چي ترڅو دا کسره دفعل مضارع دلالت وکړي په کسري دعين کلمي دماضي(عَلِمَ) باندي يا په کسري دهمزي دماضي (اِكْتَسَبَ) باندي دا ځکه چي مضارع په ماضي باندي تفريع کيږي نو دي کي هم مجيئت دفرع دی په طريقه داصل باندي (مراح ص پنځه پنځوس)

سوال حرف اتين ته کسره ورکوي خو باقي حروفو ته کسره ورکړه ترڅو هغه دال شي په کسري دعين ياهمزي دماضي باندي الجواب فعل مضارع کي حرف اتين ته کسره ورکړل شوه چي دلالت وکړي په کسري دعين کلمي دماضي يا په کسري د همزي دماضي او باقي ته ورنکړل شوه ځکه چي که فاء کلمي ته ورکړل شوي وای نو توالی داربعه حرکاتو لازميدله (لکه يَضرِبُ) او که عين کلمي ته ورکړل شوي وای نو بيا خو التباس دباب يَفْعِلُ دباب يَفْعَلُ سره راتله او که لام کلمي ته ورکړل شوي وای نو بيا ابطال داعراب راتله ځکه لام کلمه محل داعراب ده

فايده: تاء زايده مطرده دباب تاء ته وايى او زايده ځكه ورته وايى چي دحرف اصلي په مقابل كي نده او مطرده ځكه ورته وايى چي تطرد قياس ته وايى لكه څوک چي ووايى طردالللباب يعني قياس ده په ټول باب (تعليق ارشاد الصرف)

دوهمه فايده: حروف اتين ته حروف مضارعت هم وايى او دا دفعل مضارع علامه ده بعضي يى اتين انيت نايت نأتي وغيره تلفظ كوي

(فائده)

وزن پــه درې قسمــه دى:١:- وزنصرفي ٢:- وزنصوري ٣:- وزنعروضي
دوزنصرفيتعريف:هغه وزن ته وايې چې په تعداد د حروفو،حركاتو،ساكناتو، حروف اصلي او زائد ټولو كې سره برابر وي، لكه ؛شَرَائِفُپهوزندفَعَائِلُ
دوزنصوريتعريف:هغه وزن ته وايې چې په تعداد د حروفو،حركاتو او ساكناتو كې سره برابر وي مګر په حروف اصلي او زائد كې سره برابر نه وي،لكه؛شَرَائِفُ په وزن د مَفَاعِلُ
دوزنعروضيتعريف:هغه وزن ته وايې چې په تعداد د حروفو كې سره برابر وي مګر په حركاتو،ساكناتو،حروف اصلي او زائد ټولو كې سره برابر نه وي،لكه؛ شَرِيْفُ په وزن د فُعُوْلٌ

قانون: هر حرف علت كه واقع شود بعد از الف مفاعل ان رابه همزه بدل كنند وجوبا زائده را مطلقا واصلى را بشرط تقدم حرف علت برالف مَفَاعِلُ

يـوويـشـتـمقـانـون

ديدې قانون نوم دى د شَرَائِفُ قانون،په دى قانون كي يو حكم او درې شرطونه دي،له دريو شرطونوځخه يوشرط دحرف علتزائد او دوه شرطونه د حرف علتا صلي لپاره وي.
حـكـم: حرف علت په همزه سره بدلول واجب دي.
د حرف علت زائد شرط: حرف علت زائد به د الف مَفَاعِلُ ځخه وروسته واقع وي،
اختترازيمثال: اَوَاعِدُ،اَيَاسِرُ اتـفـاقـيمـثـال: د شَرَايِفُ ځخه شَرَائِفُ ويل واجب دي.
د حرف علت اصلي اول شرط: حرف علت اصلي به د الف مَفَاعِلُ ځخه وروسته واقع

Maktaba Tul Ishaat.com

وي،اختزازيمثال: اَوَاعِدُ،اَيَاسِرُ
د حرف علت اصلي دوهم شرط: حرف علت اصلي به مخکې د الف مَفَاعِلُ څخه هم واقع وي،اختزازيمثال:مَقَاوِلُ،مَبَايِعُ
اتفاقيمثال: د قَوَاوِلُ څخه د قوَائِلُ او د بَوَايِعُ څخه د بَوَائِعُ ويل واجب دي.

_ ــــــ

دثلاثی مجردو څخه چي کله صيغه راشي نو څرنګه به پيژندل کيږي چي دا صيغه دکوم باب څخه ده نو دلته يی لنډه طريقه په جدول کي ښودل شويده چي اجمالا يی بايد يادونه وکړو

کله چي غواړي ديوي صيغی باب معلوم کړي نو صيغه به يااعلالي وي يا غير اعلالي که چيري غير اعلالی صيغه وه او قياسی وه (غير قياسی نه وه) نو دفعل مضارع معلوم امر حاضر وغايب معلوم نهی حاضر وغايب معلوم نفی معلوم جهد معلوم عين کلمه به کتل کيږي چي مضوم العين ده که مکسور العين يا مفتوج العين که مضموم العين وه نو دا صيغه به يا دنصر ينصر يا شرف يشرف څخه وي او که مکسورالعين وه نو داصيغه به يا دضرب يضرب يا حسب يحسب څخه وي او که عين کلمه مفتوحه وه نو دا به يا دعلم يعلم يا منع يمنع دباب څخه وي

او اسم فاعل به فعل مضارع ته رد کيږي بيا به يی عين کلمه کتل کيږي او اسم ظرف اسم آله او اسم تفضيل اسماء مشتقه کي به داسي عمل کيږي لکه داسم فاعل پشان الی اخره

خو که چيري صيغه اعلالي وه نو يو ځل به اصل قريب ته واړول شي بيا به عين کلمي ته دصحيحو صيغو پشان اعتبار ورکول کيږي

ضروري تنبيه:

کله چي يوه صيغه معلومه شوه چي مضموم العين کي دنصرينصر ياشرف يشرف څخه يا دمفتوح العين کي دمنع يمنع او علم يعلم ترمنځ ديوه څخه ده يا مکسور العين کي دضرب او حسب ترمنځ له يوه څخه ده نو اوس به بيا مثلا مضموم العين دمضموم العين سره چي ايا دنصر ينصر څخه ده که دشرف يشرف څخه نو دا بيا دثلاثي مجردو دهمدي ابوابو له خواصو څخه معلوميږي مکورالعين مفتوح العين کي به هم په خپل منځ کي خواص کتل کيږي لکه دامثالونه ..

باب	وزن المضارع	مثال	وزن	کلمة عينه	اعتبار لعين الکلمة	من ای باب
نَصَر يَنْصُرُ	مضموم العين	فَاعْبُدُوا	اُفْعُلُوْا	باء	مضموم العين	نصر/شرف
شَرُفَ يَشْرُفُ	مضموم العين	لَا تَشْرُفْ	لَاتَفْعُلْ	راء	مضموم العين	نصر/شرف

Maktaba Tul Ishaat.com

مَنَعَ يَمْنَعُ	مفتوح العين	لَاتَخْضَعُوا	ضاد	لَاتَفْعَلُوْا	مفتوح العين	منع/ علم
عَلِمَ يَعْلَمُ	مفتوح العين	اِلْبَثْ	باء	اِفْعَلْ	مفتوح العين	منع / علم
ضَرَبَ يَضْرِبُ	مكسور العين	اِنّهُمْ يَكْذِبُوْنَ	ذال	يَفْعِلُونَ	مكسور العين	ضرب/ حسب
حَسِبَ يَحْسِبُ	مكسور العين	لَمْ يَنْعِمْ	عين	لَمْ يَفْعِلْ	مكسور العين	ضرب / حسب

دمشق او تمرين لپاره دا جدول هم وگورى

صيغه	اصل	وزن	كلمة عينه	باب
يَغْسِلُ	يَغْسِلُ	يَفْعِلُ	مكسور العين	ضرب/ حسب
أُنْقُضِيْ	أُنْقُضِىْ	أُفْعُلِىْ	مضموم العين	نصر/شرف
يَقُوْلُونَ	يَقْوُلُوْنَ	يَفْعُلُوْنَ	مضموم العين	نصر/شرف
يَحِلُّ	يَحْلِلُ	يَفْعِلُ	مكسورالعين	ضرب /حسب
قَاعِدٌ	يَقْعُدُ من مضارع	يَفْعُلُ	مضموم العين	نصر/ شرف
ان يَّنَامُ	يَنْوَمُ	يَفْعَلُ	مفتوح العين	منع/ علم
بِ	اِوْبِىْ	اِفْعِلْ	مكسور العين	ضرب/حسب
يَقْوِىْ	يَقْوِوُ	يَفْعِلُ	مكسور العين	ضرب /حسب
آمِرٌ	يَئْمُرُ بنائه من مضارع	يَفْعُلُ	مضموم العين	نصر/شرف
لَاتَكُنْ	لَا تَكُوْنْ	يَفْعُلُ	مضموم العين	نصر/ شرف
لَايَفْصِلُ	لَايَفْصِلُ	يَفْعِلُ	مكسور العين	ضرب/ حسب
مَقَالٌ	مَقْوَلٌ وهو من يَقُوْلُ	يَفْعِلُ	مكسور العين	ضرب /حسب
يَمْكُرُونَ	يَمْكُرُوْنَ	يَفْعُلُوْنَ	مضموم العين	نصر/ شرف
وُضّاعٌ	من وَاضِعٌ وهو من يَوْضَعُ	يَفْعَلُ	مفتوح العين	منع / علم
يَرِثُ	يَوْرِثُ	يَفْعِلُ	مكسور العين	ضرب / حسب

قانون: هر همزه زائده كه واقع شود در اول كلمه وصلى باشد يا قطعى حكم وصلى اين كه در درج كلام وبمتحرک شدن مابعد بيفتد وحكم قطعى عكس اين است

اول قـــــــانـــــــــون

ديدي قانون نوم دى د همزه وصليه او قطعيه قانون،په دې قانون كې دوه حكمونه،د اول حكم لپاره دوه شرطونه او د دوهم حكم لپاره يو شرط دى.
اولحـكـم: د همزه وصليه حذف كول واجب دي.
اولشـرط:همزه وصلي به د كلمې په منځ كې وي،احترازيمثال:اِضْرَبْ (چې اراده دى نه وي).

اتـفـاقـيمـثـال:د اِضْرِبْ څخه د فَاضْرِبْ ويل واجب دي.
دوهمشـرط:دهمزه وصلي څخه به وروسته حرف متحركـوي،احترازيمثال:اِضْرِبْ
اتـفـاقـيمـثـال:د اِسْئَلْ څخه د سَلْ ويل واجب دي.
دوهمحـكـم:د همزه قطعي په خپل حال پريښودل واجب دي.
شـرط:همزه قطعي به وي،احترازيمثال:اِضْرِبْ
اتـفـاقـيمـثـال:د اَكْرَمَ څخه د فَاَكْرَمَ ويل واجب دي.

تشريح

خلاصه دقانون داده چې همزه وصلي چې كله دكلام په مابين كې راشي يا همزه راشي خو مابعد ورنه متحرک وي نو دا همزه وصليه به حذف كيږي او همزه قطعي هميشه لپاره په خپل حال پريښودل شي

همزه وصلي ته ځكه وصلي وايى چې كله دا حذف شي نو دوه كلمي وربانديي وصل شي او قطعي ته ځكه قطعي وايى چې دا همزه ماقبل دمابعد څخه قطع كوي (مراح)

همزه وصلي چې دكلام په شروع كې زائده كيږي دوه قسمه ده قياسي او غير قياسي

همزه سماعي بحيث الاستقراء په دولس قسمه ده

Maktaba Tul Ishaat.com

اِبْنُ اِبْنَةٌ. اِبْنَمَ دابن په معنى سره ميم زايد دى. اسمٌ. اِسْتٌ (مقعد) اثْنَانِ. اِثْنَتَانِ. اِمْرَأةٌ اِمْرَأتانِ. اِمْرَأانِ . اَيْمَنُ اللهِ په معنى ديمين الله سره سماعي

دوهم همزه وصلي قياسي ده دا بيا هغه همزه ده دا بيا دهرهغه باب مصدر دى چي دماضي دفاء كلمي څخه وروسته يى څلور حرفونه يا زايد راغلي وي دا حروف كه اصلي وي يا غير اصلي ثلاثي وي كه غير ثلاثي وي كه انصراف اكتساب .... انصرف اكتسب .... يوخو دا چي ددي ابوابو په مصادرو كي وي دوهمه داچي همزه وصلي دهمدي ابوابو دماضي امر كي هم قياسي ده همدارنگه دثلاثي مجردو په امر كي هم همزه وصلي قياسي ده خو شرط دادى چى دحرف لتين څخه مابعد يى متحرک نه وي همدارنگه دامام سيبويه په نزد په لام تعريف كي هم همزه وصلي قياسي ده لكه الحمد همدارنگه په ميم تعريف كي هم همزه وصلي قياسي ده لكه ليس من امبرامصيام في امسفر او ددي مواضعو نه ماسوى تولي همزي قطعي دي والله اعلم (مراح دوه شپيته ص)

قانون: هر باب كه ماضى معلوم او چهار حرفى باشد در مضارع معلوم او حرف اتين را حركت كسره مى دهند وجوبا

دوهـــــمقـــــانـــــون

ديدي قانون نوم دى د يُكْرِمُ او يُصَرِّفُ قانون،په دي قانون كې يو حكم او يو شرط دى.
حـكـم:په مضارع معلوم كې حرف اتين ته حركت ضمه وركول واجب دي.
شـرط:داسې باب به وي چې ماضي يې څلورحرفيز وي،اختزازيمثال:ضَرَبَ،اِكْتَسَبَ
اتـفـاقـيمـثـال:د اَكْرَمَ څخه د يُكْرِمُ او د صَرَّفَ څخه د يُصَرِّفُ ويل واجب دي.

تشريح

دقانون خلاصه داده چي هر هغه باب چي ماضي يى څلور حرفيزه وي مضارع معلوم كي حرف اتين ته ضمه وركول كيږي

خو دلته ددیو بابونو فعل مضارع دي اول دثلاثي مجردو مضارع ديكي به حرف اتين مفتوح وي ځكه مجرد اصل دي په نسبت سره رباعي او مزيداتو ته او فتحه هم اصل ده په

نسبت سره ضمي او كسري ته نو اصل اصل ته وركړل شو دوهم دهغه باب مضارع ده چي ماضي يی څلور حرفه وي نو ددي باب فعل مضارع معلوم به مضموم وي دا ځكه چي دا رباعي دي په نسبت سره ثلاثي مجردوته يعنی ثلاثي مزيد دي كه رباعي مجرد دي دا دافرع دثلاثي مجردو ده او ضمه هم فرع دفتحي ده يا بعضي علماء وايی چي هغه ابواب چي ماضي يی څلور حرفيزه وي قليل دي او ضمه ثقيله وه نو له وجهي درعايت دتعادل نه مو ضمه وركړه

او دريم هغه ابواب دي چي ماضي يی دڅلورو حروفو څخه زياته وي نو فعل مضارع معلوم ته به يی فتحه وركول كيږي دخفت دوجهي نه ځكه كثرت حروف تقاضی دخفت كوي (مراح پنځه پنځوس ص) (زنجاني ص درويشت)

قانون: هر باب كه در اول تای زايده مطرده باشد ودر مضارع معلوم او ماقبل اخر را بر حال خود می ارند وجوبا واگر تای زائده مطرده نباشد كسره می دهند

دريـــــــمقـــــانـــــــون

ديدې قانون نوم دی د يُكْرِمُ او يَتَصَرَّفُ قانون،په دې قانون كې دوه حكمونه او د هر حكم لپاره يو،يو شرط دی.

اولحـكـم:په مضارع معلوم كې ما قبل آخر په خپل حال پريښودل واجب دي.

شـرط:داسې باب به وي چې د ماضي په شروع كې يې تائ زائدهوي،اختزازيمثال: اَكْرَمَ،صَرَّفَ

اتـفـاقـيمـثـال:د تَصَرَّفَ او تَضَارَبَ څخه د يَتَصَرَّفُ او يَتَضَارَبُ ويل واجب دي.

دوهـمحـكـم:په مضارع معلوم كې ما قبل آخر ته كسره ور كول واجب دي.

شـرط: داسې باب به وي چې د ماضي په شروع كې يې تائ زائده نه وي،اختزازي مثال:تَصَرَّفَ،تَضَارَبَ

اتـفـاقـيمـثـال: د اَكْرَمَ او صَرَّفَ څخه د يُكْرِمُ او يُصَرِّفُ ويل واجب دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح: حلاصه دقانون داده چي دفعل مضارع ماقبل اخر لپاره دوه صورتونه دي کسره ورکول يا فتحه ورکول که چيري يی په شروع کي دباب تاء راغلي وه نو ماقبل اخربه يی مفتوح وي او که په شروع کي يی دباب تاء نه وه راغلي ماقبل اخر دفعل مضارع معلوم به مکسور وي

قانون:هر تای مضارعت که داخل شود بر تای تَفعُّلْ. تَفَاعُلْ. يا تَفَعْلُلْ در مضارع معلوم او حذف يکی جايز است

څـــــلـــــورمقـــــانـــــون

ديدې قانون نوم دی د تَصَرَّفُ او تَضَارَبَ قانون،په دې قانون کې يو حکم او يو شرط دی.
حـکـم: د دوو تاءګانو څخه د يوه تاء حذف کول جائز دي.
شـرط: په تائ مضارعت باندې تائ زائده داخله وي،اخترازيمثال:صَرَّفَ
اتـفـاقــيمـثـال: د تَتَصَرَّفُ او تَتَضَارَبُ څخه د تَصَرَّفُ او تَضَارَبُ ويل جائز دي.

تشريح :خلاصه دقانون داده چي کله تاء حرف مضارعت دباب دتاء سره يوځای شي نو ديوي حذف کول جايز دي

ددوه تاګانو څخه ديوه حذف کول ځکه جايز دي چي دلته دوه حرف متجانسين

راغلي او داقاعده ده چي کله دوه حرفه متجانسين راشي نو دری.وجهي پکي روا دي اول ادغام لکه مدَّ دوهم قلب لکه اَمْلَيْتُ چي اصل کي اَمْلَلْتُ وو دريم حذف لکه مِسْتُ چي په اصل کي مَسِسْتُ وو نو دلته يی ادغام ونکړو ځکه چي په ادغام سره ابتداء په ساکن راځي يا ځکه که ادغام وشي نو همزه وصلي ته ضرورت پيداکيږي او په فعل مضارع کي همزه وصلي نشي راتلای ځکه فعل مضارع په معنی داسم فاعل سره ده په اسم فاعل هم همزه وصلي نه داخليدله او قلب هم پکي ونشو ځکه قلب په حرف علت سره کيږي او قلب دحرف صحيح نه حرف علة ته دا موجب دثقل ګرځي نو چي

دا دوه وجهي پکي روا نه وي دريمه وجه پاته شوه چي حذف دی نو حذف مو وکړلو دا حذف هم دتخفيف له وجهي وشولو

اوس دا چي ددوه تاګانو څخه خو ديوي تاء حذف کول جايز شول کومه تاء به حذف کيږي حرف اتين او که دباب تاء نو دلته دبصرينو او کوفيينو ترمنځ اختلاف دی بصرين وايی چي ثانيه به حذف کيږي ځکه اوله علامه ده والعلامة لاتحذف يا ځکه به ثاني حذف کيږي چي اصلا ثقل راغلی دی د ثاني له وجهي کوفيين بيا چي نه اولی به حذف کيږي ځکه دا زائده ده والزائد احق بالحذف (مراح اوه پنځوس ص) (زنجاني ص څلوديرش حاشيـــــپنځمه)

فايده: دتاء حذف کول به په فعل مضارع معلوم کي وي ځکه دا کثيرالاستعمال ده او په مضارع مجهولي کي تاء نه حذف کيږي لقلة استعماله (مراح)

فايده: دتاء دحذف کيدلو مثالونه په قران کريم کي

فانت له تَصَدَّى نارًا تَلَظَّى . وتَنَزَّلُ الملائكةُ .....

قانون:هر باب که در ماضی معلوم او تاء زائده مطرده باشد در ماضی مجهول او حرف اول وثانی را ضمه می دهند وماقبل اخر او را کسره می دهند وجوبا سوی ابواب ثلاثی مجرد

پـــــنـــــځـــــمقـــــانـــــون

ديدې قانون نوم دی د تُصُرِّفَ قانون،په دې قانون کې يو حکم او يو شرط دی.
حـکـم: په مضارع مجهول کې اولو دوو حرفونو ته ضمه ورکول او ما قبل آخر ته کسره ور کول واجب دي.
شـرط:داسې باب به وي چې د ماضي په شروع کې يې تائ زائده يا مطرده وي،
اخترازيمثال: صَرَّفَ
اتـفـاقـيمـثـال:د تَصَرَّفَ څخه د تُصُرِّفَ ويل واجب دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح:خلاصه دقانون داده چي هرهغه باب چي دماضي په شروع کي يی دباب تاء يا تاء زايده مطرده راغلي وي نو په ماضي مجهولي کي به حرف اول او ثاني ته ضمه ماقبل اخر ته به کسره ورکول کيږي

فايدة العظيمة

دلته بايد دماضي مجهولي دټولو ابوابو خلاصه ووايو چي په لاندي ډول ده

ماضي مجهولي گردان به خالي نه وي يابه دصحيحو وي يا دمعتلو يا دمضاعفو

که دصحيحو څخه وه نو بيا به خالي نه وي چي دمجردو څخه ده او که دمزيداتو څخه که دمجردو څخه نو طريقه دبناء يی داده چي حرف اول ته ضمه ماقبل اخر ته به کسره ورکول کيږي لکه ضَرَبَ څخه ضُرِبّ ويل که چيري مزيداتو څخه وو بيابه خالي نه وي يابه مصدره بالتاء وي يابه مصدره بالهمزة الوصل وي يابه يی ماضي په وزن د فَاعَلَ وي که چيري مصدره بالتاء وي نو دبناء طريقه يی داده چي حرف اول او ثاني ته به ضمه ماقبل اخرته به کسره ورکول کيږي او کچيري مصدره بالهمزة الوصل وي نو دبناء طريقه يی داده چي حرف اول او ثالث ته به ضمه ماقبل اخر ته کسره ورکول کيږي او که چيري يی ماضي دفَاعَلَ په وزن وه نو دماضی مجهولي جوړولو په وخت کي به حرف اول ته ضمه ماقبل اخر ته کسره او الف به په واو مده سره بدليږي او که چيري معتل العين وو نو دماضي مجهولي جوړولو طريقه يی داده چي دری وجهي به پکي ويلی شي نقل حرکت (قِيْلَ) حذف حرکت (قُوْل) او اشمام (قُـُوْلَ) او که مضاعف وو بيا هم دمعتل العين په شان دری وجهي نقل حرکت حذف حرکت او اشمام جايز دي (الصرف الکافي)

دا خو دماضي مجهولي دمکمل گردان خلاصه وه

اوس په تفصيل سره وايو چي دماضي مجهولي لپاره دری قوانين دي يو قانون دماضي مجهولي چي په هغه کي لس ابوابه داخل دی شپږ ثلاثي مجرد افعال تفعيل. مفاعلة. فعللة بل قانون دتُصُرِّفَ دی پدي قانون کي بيا دری بابونه داخل دي تفعل تفاعل تفعلل دريم قانون دأُكْتُسِبَ دی په قانون کي بيا اوه بابونه داخل دي افتعال انفعال استفعال افعلال افعيلال افعوال افعنلال

چي مجموعه دوه ويشت بابونه راځي او دری قوانين لري

قانون:هر باب كه در ماضى او همزه وصلى باشددر ماضى مجهول او حرف اول وثالث را ضمه وماقبل اخر را كسره مى دهند وجوبا

شـــــــپـــږمقـــــــانـــــون

ديدې قانون نوم دى اُكْتُسِبَ قانون،په دې قانون كې يو حكم او يو شرط دى.
حـكـم: په ماضي مجهول كې حرف اول،ثالث(دريمحرف) ته ضمه او ما قبل آخر ته كسره ور كول واجب دي.
شـرط:داسې باب به وي چې په شروع كې يې همزه وصلي وي،اختر ازيمثال:اَكْرَمَ
اتـفـاقـيمـثـال:د اِكْتَسَبَ څخه د اُكْتُسِبَ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چې هرهغه باب چې شروع كې يى همزه وصلي راغلي وي نو دماضي مجهولي دجوړولو په وخت كې حرف اول او ثالث ته ضمه ماقبل اخر ته به كسره وركول كيږى

(د ماضي مجهولي نادره قاعده)

قاعده : دماضي مجهولي دجوړولو طريقه داده چې اول به ماقبل اخر ته كسره وركړل شي باقي ټولو هغه حروفو ته چې متحرک دي ضمه وركول كيږي بس ماضي مجهوله جوړيږي (كتاب الصرف جديد)

دومره به ووايو چې دټولو ماضي مجهولو ګردانونو يو قانون دى خو علماوو دوضاحت لپاره ورنه درى قوانين جوړ كړيدي ټولو مثالونه دادي

ضَرَبَ.....ضُرِبَ..ماقبل اخرته كسره وركړه يوحرف متحرتحک دى ضمه وركړل شوه

اَكْرَم.....أُكْرِمَ.ماقبل اخر ته كسره باقي يو حرف متحرک ته ضمه وركړل شوه

تَصَرَّفَ ...تُصُرِّفَ ماقبل اخر ته چې راء ده كسره وركړل شوه باقي دوه متحرک وو مضموم كړل شول

اِكْتَسَبَ... أُكْتُسِبَ. ماقبل اخر چې سين دى كسره وركړل شوه باقي حروفو ته چې همزه او تاء ده ضمه وركړل شوه

Maktaba Tul Ishaat.com

اِحْدَوْدِبَ ..اُحْدُوْدِبَ ماقبل اخر دال ته كسره وركړل شوه باقي حروف همزه او دال اول متحرک وو ضمه وركړل شوه

بايد ووايو چي هيڅ يو ګردان دماضي مجهولي ددي قاعدي نه خارج ندی ټول دهمدي قاعدي ماتحت دي چي داقاعده دټولو قوانينو خلص دی

قانون:هرواو ویائ غیر مبدل ازهمزه که واقع شود فاء کلمه باب افتعال یا تفاعل یاتفعل آنرا تاء کرده ودرتاء ادغام می کند بر اکثر لغت اهل حجاز در افتعال وبر بعضی لغت اهل حجاز در تَفُّعل وتفاعل وتفعلل مگر اِتَّخَذَ يَتَّخِذُ شاذ است

اووم قـــــــانـــــــون

ديدې قانون نوم دی د اِتَّقَدَ او اِتَّسَرَ قانون،پَه دې قانون کې دوه حکمونه او د هر حکم لپاره دوه،دوه شرطونه دي.

اول حـکـم: واؤ او یاء په تاء بدلول او تاء په تاء کې ادغامول واجب دي.

اول شـرط: واؤ او یاء به د باب اِفْتِعَال د فاء کلمې په مقابل کې وي،اختزازي مثال : اِكْتَسَبَ،اِجْتَهَدَ

دوهـم شـرط: واؤ او یاء به بدل له همزه څخه نه وي،اختزازي مثال:اِيْتَمَرَ،اُوْتُمِيْرَ

اتـفـاقـي مـثـال:د اِوْتَقَدَ او اِيْتَسَرَ څخه د اِتَّقَدَ او اِتَّسَرَ ویل واجب دي.

دوهـم حـکـم: واؤ او یاء په تاء بدلول او تاء په تاء کې ادغامول جائز دي.

اول شـرط: واؤ او یاء به د باب تَفَاعُل او تَفَعُّل د فاء کلمې په مقابل کې وي،

اختزازي مثال:تَقَاوَلَ،تَقَوَّلَ

دوهـم شـرط: واؤ او یاء به بدل له همزه څخه نه وي،اختزازي مثال:تُوُوْدِبَ،تُوُوُدِّبَ

اتـفـاقـي مـثـال: له تَوَاعَدَ او تَوَعَّدَ څخه د اِتَّاعَدَ او اِتَّعَّدَ او د تَيَاسَرَ او تَيَسَّرَ څخه د اِتَّاسَرَ او اِتَّسَّرَ ویل جائز دي.

تشريح:خلاصه دقانون داده چي کله واو او یاء راشي دابه خالي نه وي یابه دباب افتعال دفاء کلمي مقابل کي وي یابه دباب تفعل او تفاعل دفاء کلمي مقابل کي وي که چيري واو

او ياء دباب افتعال دفاء كلمي يدپه مقابل كي راشي نو واو او ياء به په تاء او تاء به په تاء كي مدغم كيږي پدي شرط چي واو او ياء به بدل دهمزي څخه نه وي او كه چيري واو او ياء دباب تفعل او تفاعل دفاء كلمي مقابل كي وو نو واو او ياء په تاء سره بدلول او تاء په تاء كي ادغام كول واجب دي پدي شرط چي بدل دهمزي څخه نه وي

قوله هرواو ویائ غیر مبدل ازهمزه که واقع شود فاء کلمه باب افتعال الخ

په دي عبارت سره اول حكم ته اشاره ده چي واو او ياء چي كله دباب افتعال دفاء كلمي په مقابل كي راشي نو دا واو او ياء به تاء كيږي او تاء به په تاء كي ادغام كيږي وجوبا اول دمطلق ابدال وجه وايو چي ولي به په بل حرف سره بدليږي نو

كه واو وو نو ځكه په تاء سره بدليږي چي كه بدل نه شي نو دماقبل انكسار له وجهي بيا په ياء سره بدليدلو نو اوس به په بعضو مواردو كي دا واو په ياء سره بدليده (لكه په ماضي كي اِوْتَقَدَ) او په بعضوا مواردو كي به په تاء سره بدليده (لكه په يَوْتَقِدُ كي چي ماقبل يى مكسور ندى) نو باب يو دى او لزوم ددي لازميدلو چي فعل ديو ځل په ياء سره بدل شي لكه په ماضي كي او يو ځل دهمدا فعل په يوه گردان او باب كي په تاء سره بدل شي او قسم عمل په كلام دعربو كي مستقبح دى ځكه په ياء سره بدل نشو

او ياء دباب افتعال هم په تاء سره بدله شوه ځكه چي كه ابدال دياء په تاء سره ړه واى شوي نو توالي دكسراتو لازميدله لكه اِيْتَسَرَ كي توالي دريو كسراتو ده يوه كسره او بل ياء چي جوړه ده له دوه كسرو څخه او همدارنګه توالي دكسراتو ددريو نه هم زياته لازميدله لكه په مصدر كي اِيْتِسَارًا كي

وجه.....

واو او ياء بدل شول په تاء سره تاء ځكه مختاره شوله چي واو او تاء دواړه قريب المخرج وو واو دشفويه وو څخه دى اوتاء هم دژبي په سر كي اداء كيږي يا ځكه واو په تاء بدل شو چي واو او تاء په خپل مابين كي كثير المواخاة دي ځكه اكثره مواضعو كي يو په بل سره بدليږي لكه تُجَاهٌ. تُرَاثٌ. تُخْمَةٌ. چي اصل كي وُرَاثٌ . وُجَاهٌ. وُخْمَةٌ وو (مراح صفـ يوسل پنځه)

Maktaba Tul Ishaat.com

او حالت يايی کي به هم ياء تاء کيږي او تاء به په تاء کي مدغم کيږي دا ځکه چي ياء حمل شوله په واو باندي ځکه واو کي هم لينت وو ياء کي هم لينت دی نو استواء يی په لينت کي وه ځکه حمل وشو (فوايد کريميه صفـدوه اويا)

او په اِيْتَمَرَ او اِيْتَكَلَ کي ادغام ونه شو ځکه دا ياء منقلبه دهمزي څخه ده او شرط داوو چي واو اوياء به منقلب نه وي له همزي نه ځکه که منقلب وو لکه ايتمر همدي کلميمج نه چي کله مجرد جوړوي نو همزه منقلبه بيا رامعاد کيږي

او اِتَّخَذَ کي ياء منقلبه دهمزي نه راغلې بياهم ادغام شوی ليکن دا شاذا ادغام شوی دی

يا داچي اِتَّخَذَ په اصل کي اِتْتَخَذَ وو ماده يی تخذ ده مهموز نده نو لهذا داسوال دنه واردیږي چي دلته ولي ادغام شوی دی

<u>قوله يا تفاعل ياتفعل آنرا تاء کرده ودرتاء ادغام می کند</u>

دباب تفعل او تفاعل دفاءکلمي په مقابل کي چي هم واو او ياء راشي نو دا به په تاء او تاء به په تاء کې مدغم کيږي

په دي قسم ابدال کي داهل حجازيونو دوه ډلي دي اکثر حجازيون وايی چي واو که دباب افتعال دفاء کلمي مقابل کي راغی نو ادغام واجب دی اما بعضي حجازين وايی که واو او ياء دباب تفعل يا تفاعل دفاء کلمي مقابل کي راشي نو دابه هم په تاء سره بدليږي او بيا به ادغام کيږي وجوبا

قانون:اگر يکی از سين وشين که واقع شود در مقابله فاء کلمه باب افتعال تاء وی را جنس کرده جوازا وجنس را در جنس ادغام کنند وجوبا

اتـــــمقـــــانـــــون

ديدې قانون نوم دی د اِسَّمَعَ او اِشَّبَهَ قانون،پدې قانون کې يو حکم او يو شرط دی.

حـکـم: تاء د باب اِفْتِعَال د فاء کلمې له جنس څخه ګرځول جائز او جنس په جنس کې ادغامول واجب دي.

شـرط:د باب اِفْتِعَال د فاء کلمې په مقابل کې به د سين او شين څخه يو حرف راغلی وي،اختررازيمثال:سَمِعَ،شَبَهَ

اتـفـاقـيمـثـال: د اِسْتَمَعَ او اِشْتَبَهَ څخه د اِسْسَمَعَ او اِشْشَبَهَ ويل جائز او اِسَّمَعَ اواِشَّبَهَ ويل واجب دي

تشريح:خلاصه دقانون داده چي كله دباب افتعال دفاء كلمي مقابل كي سين ياشين راغى نو تاء دباب افتعال به هم په سين ياشين سره بدليږي او سين به په سين ياشين به په شين كي ادغام كيږي وجوبا او فک ابدال هم كولى شي ځكه چي داء او سين او شين په مابين كي جنسيت نشته او اولى خبره هم ترک دى لورودالتنزيل (فمنهم من يّستمع اليک الخ) (مراح)

وجه دابدال دتاء په سين يا شين سره داده چي سين او شين دياء سره قريب دي په مخرج كي ځكه درى واړه دحروف مهموسه وو څخه دي

خو عكس نشو كولاى چي سين او شين تاء كړو تاپه تاء كي مدغم كړو ځكه چي سين او شين دواړه لوى دي په امتداد دصوت كي له تاء څخه يعني په سين او سين كي دصوت اوږدوالى زيات دى په نسبت سره ياء ته نو كه داسي ادغام وكړي نو داسي به شي لكه دلويى قصعي په كوچنى قصعي كي ايښودل او دا جايز ندي (مراح)

(د حروف مهموسه او مهجوره بيان)

ټول حروف هجا په دوه قسمه دي اول حروف مهموسه دوهم حروف مهجوره

حروف مهموسه: هغه حروف دي چي داداء كولو په وخت كي ساه ورسره جاري وي او مجموعة لس دي (تـ ثـحـخـ سـشـصـفـكـهـ)

حروف مهجوره: هغه حروف دي چي داداء كولو په وخت كي ساه ورسره بنديږي او مجموعة نولس حروف دي (الفـ بـ جـ دذرـزـض ـطـ ظـ غـ قـ لـ م ـن ـو ـءـيـ)(مراح ص سلمه حاشيــ اول)

Maktaba Tul Ishaat.com

قانون: اگريكى ازصاد ضاد طاظا واقع شود مقابله فاء كلمه باب افتعال تاء وى را بطابدل كنند وجوبا پس اگر فاء كلمه طاء است ادغام واجب است واگر ظا است اظهار يک طرفه وادغام دوطرفه يعنى طا راظا كردن وعكس جايز است واگر صاد وضاد باشد اظهار وادغام يک طرفه يعنى طا راصاد ضاد كردن جايز است ونه عكس او

نـــهـــمقـــانـــون

ديدې قانون نوم دى د اِطَّلَمَ او اِظَّلَمَ قانون،په دې قانون كې څلور حكمونه او د هر حكم لپاره يو،يو شرط دى.

اولحـكـم: تاء د باب اِفْتِعَال په طاء سره بدلول واجب دي.

شـرط: د باب اِفْتِعَال د فاء كلمې په مقابل كې به د لاندې څلورو حرفونو څخه يو حرف راغلى وي(ط،ظ،ص،ض)،اختزازيمثال:طَلَم،ظَلَمَ،صَبَرَ او ضَرَبَ

اتـفـاقـيمـثـال: د اِطْتَلَمَ،اِظْتَلَمَ،اِصْتَبَرَ او اِضْتَرَبَ څخه د اِطْطَلَمَ،اِظْطَلَمَ،اِصْطَبَرَ او اِضْطَرَبَ ويل واجب دي.

دوهـمحـكـم: طاء په طاء كې مدغمول واجب دي.

شـرط: د باب اِفْتِعَال د فاء كلمې په مقابل كې به حرف طاء راغلى وي،اختزازيمثال:طَلَمَ

اتـفـاقـيمـثـال: د اِطْطَلَمَ څخه د اِطَّلَمَ ويل واجب دي.

دريـمحـكـم: اظهار يو طرفه او ادغام دوه طرفه جائز دي.

شـرط: د باب اِفْتِعَال د فاء كلمې په مقابل كې به ظاء راغلى وي،اختزازيمثال:ظْلَمَ

اتـفـاقـيمـثـالداظهار: د اِظْطَلَمَ څخه د اِظْطَلَمَ او اتـفـاقـيمـثـالدادغام: د اِظْطَلَمَ څخه د اِظَّلَمَ،اِطَّلَمَ ويل جائز دي.

څـلـورمحـكـم: اظهار او ادغام دواړه يو طرفه جائز دي.

شـرط: د باب اِفْتِعَال د فاء كلمې په مقابل كې به د (صاوض) څخه يو حرف راغلى وي،اختزازيمثال:صَبَرَ،ضَرَبَ

اتفاقي مثال داظهار: د اِصْطَبَرَ او اِضْطَرَبَ څخه د اِصْطَبَرَ او اِضْطَرَبَ او
اتفاقي مثال دادغام: د اِصْطَبَرَ او اِضْطَرَبَ څخه د اِصَّبَرَ او اِضَّرَبَ ويل جائز دي.

تشريح:خلاصه دقانون داده چي كله دباب افتعال دفاء كلمي مقابل كي طا ظا ص ض راشي نو تاء دباب افتعال په طاء سره بدليږي كله چي تاء دباب افتعال په طاء سره بدله شو فاء دباب افتعال به خالي نه وي كه طاء وه نو ادغام به كيږي فقط او كه ظاء وه نو اظهار هم كولاى شي او ادغام منجانبين هم كولاى شي چي طاء ظاء كړي ظاء ظاء كي مدغم كړي يا ظاء طاء كړي طاء طاء كي مدغم كړي

او كه صاد او ضاد فاء كلمي مقابل كي وو نو صرف اظهار هم كولاى شي او ادغام هم كولاى شي چي طاء صاد يا ضاد كړي او بيا صاد په صاد يا ضاد په ضاد كي مدغم كړي

قوله اگرېكى ازصاد ضاد طاظا واقع شود مقابله فاء كلمه باب افتعال تاء وى را بطابدل كنند وجوبا

كله چي دباب افتعال عين فاء كلمه كي صاد ـ ضاد ـ طاـ ظا راغله تاء دباب افتعال به په طاء سره بدليږي وجوبا ځكه بدل نشي نو تعسر (سختي) في اللفظ راځي يعني تلفظ په مشكله سره كيږي ځكه چي تاء دصاد ضاد طا ظا سره له څو وجهو نه اولـ په وصف او صفت كي مخالفه ده ځكه تاء دحروف شديده وو څخه ده او صاد ضاد طا ظا دحروف رخوة (نرم) څخه ده دوهمه وجه يا ځكه خپل مابين كي مخالفت لري به وصف كي چي تاء دحروف مهموسه او صاد ضاد طا ظا دحروف محجوره وو څخه ده دريمه وجه يا ځكه تاء ددي حروف سره مخالفه ده چي تاء دحروف مستفله او صاد ضاد طا ظا دحروف مستعليه وو څخه ده

وجه دابدال داده چي كه ابدال نه واى شوى تعسر او ثقل په لسان كي راتله

وجه داختيار په ابدال كي دطاء: تاء دباب افتعال دابدال لپاره طاء ځكه مختاره شوه چي هركله دتاء له صاد ضاد طا ظا سره تنافر او تضاد وو نو مورِ يو داسي حرف مختاره كړو چي هغه دتاء سره قريب المخرج وي او هغه طاء ده (مراح يوسل درى)

Maktaba Tul Ishaat.com

خو عكس ونه شو چي صاد ضاد طاظا تاء شي تاء په تاء كي مدغم شي ځكه دا حروف اربعه نسبت سره تاء ته قوي دي (زنجاني ص پنځه ديرش حاشيــځلورمه)

اګر فاء كلمه طاء است ادغام واجب است

ځكه دوه حرفه متجانسين راغلل هيڅ مانع هم نشته نو جنس په جنس كي مدغم شو او په دي صورت كي به صرف ادغام كيږي اظهار نشي كيدلى لعدم المانع (مراح ص يوسل څلور)

واګر ظا است اظهار يک طرفه وادغام دوطرفه يعنى طا راظا كردن وعكس جايز است

كه چيري دباب افتعال فاء كلمي كي ظاء راغلي وي نو اظهار هم كولى شي چي په خپل حال يى پريږدي او ادغام دوجانبه هم كولى شي دوجانبه دا معنى چي داهم جايز ه چي ظاء اء كړي طاء په طاء كي مدغم كړي او دا هم كولى شي چي طاء ظاء كړي او ظاپه ظا كي مدغم كړي

وجه داظهار: اظهار ځكه جايز دى چي دذات په اعتبار سره ددوى په مابين كي عدم جنسيت دى او دعدم ادغام خبره ابن جني مختاره كړيده

وجه دادغام دظاء په طاء سره او همدارنګه عكس: ظاء په طاء او طاپه ظاء سره بدلول او بيا ادغام كول ځكه جايز دي چي طا او ظا دواړه حروف مستعليه مطبقه وو څخه دي نو دواړو مخرجونه لوى دي(مراح يوسل څلور)

قوله واګر صاد وضاد باشد اظهار وادغام يک طرفه يعنى طا راصاد ضاد كردن جايز است ونه عكس او

كه چيري دباب افتعال فاء كلم مقابل كي صاد او ضاد راغلي وو نو اظهار هم كولى شي او ادغام هم يو طرفه كولى شي يوطرفه دا معنى چي طاء صاد او ضاد كړي او عكس نشي كولى چي صا او ضاد طا كړي طاپه طا كي مدغم كړي

وجه داظهار :داده چي ددوى ترمنځ عدم جنسيت دى په اعتبار دذات سره يعني دذات په اعتبار سره دوى سره ديو جنس څخه ندي

وجه دادغام: يى داده چي صاد ضاد طا داټول په مخرج كي سره برابر دي دټولو مخارج لوى دي ځكه ټول دحروف مستعليه مطبقه وو څخه دي (مراح)

خو عكس نشو كولای چي صا ضاد په طاء بدل كړو بيا ادغام وكړو ځكه چي دصاد او ضاد لوی دي دطا څخه په امتداد دصوت كي ځكه صاد او ضاد دحروف صفيره څخه دی او طاء دحروف صفيره څخه نده او حال دا چي دا قاعده ده چي حروف صفيره صرف په حروف صفيره كي ادغام كيږي بل شي كي نه ادغام كيږي (مراح)

فائده:

ټول حروف په دوه قسمه دي اول حروف مطبقه دوهم: حروف منفتحه

حروف مطبقه هغه حروف دي چي دحروفو د اداء كولو په وخت كي ژبه دپورته حنک (تلو) سره پيوسته كيږي او څلور دي صاد۔ ضاد ۔ طاء۔ ظا۔

حروف منفتحه: دا هغه حروف دي چي په وخت داداء كولو كي ژبه دحنک (تلو) سره نه پيوسته كيږي او سوی د صاد ۔ ضاد ۔ طاء ۔ ظاء نه باقي ټول منفتحه دي

فايده:

دوهم تقسيم په اعتبار سره حروف بيا په دوه قسمه دي اول مستعليه دوهم دومنخفضه

مستعليه حروف: هغه حروف دي چي د اداء كولو په وخت كي ژبه پورته تلو (حنک) ته پورته شي عام له دي نه كه مطبقه وي ياغير مطبقه وي او صاد ۔ ضاد ۔ طا۔ ظاء۔ خاء ۔ الغين ۔ قاف دي

يعني دمستعليه او مطبقه وو ترمنځ نسبت دعموم او خصوص دی يعني هر مطبقه مستعليه وي خو هر مستعليه مطبقه نه وي

دوهم حروف منخفضه: دا هغه حروف دي چي د اداء كولو په وخت كي ژبه پورته طرف ته نه ځي او د اوه حروف مستعليه نه ماسوی ټول حروف منخفضه دي (مراح يو سل دوه ص حاشيـــپنځمه)

قانون: اگر یکی از دال ذال زاء واقع شود مقابله فاء کلمه باب افتعال تاء وی را دال کردن وجوبا ودال را در دال ادغام کنند وجوبا ذال مثل ظاء و زاء مثل صاد وضاد است

Maktaba Tul Ishaat.com

لسمقـــانـــون

ديدې قانون نوم دى د اِدَّكَرَ او اِذَّكَرَ قانون،په دې قانون كې څلورحكمونه اودهرحكم لپاره يو،يو شرط دى.

اولحـكـم: تاء د باب اِفْتِعَال په دال سره بدلول واجب دي.

شـرط: د باب اِفْتِعَال د فاء كلمې په مقابل كې به د لاندې دريو حرفونو څخه يو حرف راغلى وي (دال،ذال،اوزا)،اختيازيمثال:دَكَرَ،ذَكَرَاوزَجَرَ

اتـفـاقـــيمـثـال: د اِدْتَكَرَ،اِذَتَكَرَ او اِزْتَجَرَ څخه د اِدْدَكَرَ،اِذْدَكَرَ او اِزْدَجَرَ ويل اوجب دي.

دوهـــمحـكـم: دال په دال كې مدغمول واجب دي.

شـرط: د باب اِفْتِعَال د فاء كلمې په مقابل كې به حرف دال راغلى وي،اختيازي مثال:دَكَرَ

اتـفـاقـــيمـثـال: د اِدْدَكَرَ څخه د اِدَّكَرَ ويل واجب دي.

دريـــمحـكـم: اظهار يو طرفه او ادغام دوه طرفه جائز دي.

شـرط: د باب اِفْتِعَال د فاء كلمې په مقابل كې به ذال حرف راغلى وي،اختيازيمثال: ذَكَرَ

اتـفـاقـــيمـثـالداظهار:د اِذْدَكَرَ څخه د اِذْدَكَرَ او اتـفـاقـــيمـثـالدادغام: د اِذْدَكَرَ څخه د اِذَّكَرَ،اِدَّكَرَ ويل جائز دي.

څـلـورمحـكـم: اظهار او ادغام دواړه يو طرفه جائز دي.

شـرط: د باب اِفْتِعَال د فاء كلمې په مقابل كې به حرف زاء راغلى وي،

اختيازيمثال:زَجَرَ

اتـفـاقـــيمـثـالداظهار: د اِزْدَجَرَ څخه د اِزْدَجَرَ او اتـفـاقـــيمـثـالدادغام: د اِزْدَجَرَ څخه د اِزَّجَرَ ويل جائز دي.

-

خلاصه دقانون داده چې كله دباب افتعال دفاء كلمې مقابل كې دال ذال ـ زاء راشي نو تاء دباب افتعال په دال سره بدليږي او كه فاء دباب افتعال كې دال هم وو نو دال په دال كې مدغم كيږي

او كه چيري فاء كلمي كي ذال وو نو اظهار هم كولای شي او ادغام هر دوجانبه كولای شي هر دوجانبه دا معنی چي دال ذال كړه ذال په ذال كي مدغم كړه يا ذال دال كړه دال په دال كي مدغم كړه

او كه چيري باب افتعال فاء كلمي كي زاء وه نو بيا اظهار او ادغام دواړه يک جانبه جايز دي دامطلب چي په خپل حال يی هم پرينبودی شي او داسي هم كولای شي چی دال زاء كړي زاء په زاء كي مدغم كړي

قوله اگر يكي از دال ذال زاء واقع شود مقابله فاء كلمه باب افتعال تاء وی را دال كردن وجوبا

اول حكم دا وو چي كه چيري دباب افتعال فاء كلمي كي دال يا ذال يا زاء راشي نو تاء دباب افتعال به په دال سره وجوبا بدليږي ځكه

اوله وجه: دا دری واړه حروف كه دال ذال زاء دي د تاء سره په صفت د رخوة او شدت كي مخالف دي دال ذال زاء دحروف رخوه (نرم) څخه دي او تاء دحروف شديده وو څخه ده

دوهمه وجه: يا ځكه تاء په دال سره بدليږي چي ذال او زاء دحروف مهجوره وو څخه دي او تاء دحروف مهموسه وو څخه ده او ددوی دواړو ترمنځ منافات او تضاد دی او جمع بين متضادين ثقيله وي

وجه دابدال دتاء په دال سره:

هركله چي ذال زاء د تاء سره تضاد كي وو نو مور داسي يو حرف انتخاب كړو چي هغه قريب وي تاء ته په مخرج كي چي هغه دال وو نو دال اختيار شو خو په خپل حال پرينبودل شو ځكه بيا په وخت دنطق كي تعسر على اللسان لازميږي يا جمع بين المتنافيين راتله في المهموسية والمهجورية (مراحـ زنجاني)

خو عكس ونه شو چي دال تاء شي ځكه چي تاء زايده ده او دال اصلي دی نو گرځول د زايد اصلي ته بهتره دي له دينه چي اصلي زايد وگرځوي (زنجاني شپږ ديرش ص)

قوله ودال را در دال ادغام كنند وجوبا

Maktaba Tul Ishaat.com

پدي عبارت سره دوهم حکم ته اشاره شوي ده يعنی که چيري فاء دباب افتعال کي اولا دال وو نو کله چي تاء دافتعال هم په دال سره بدل شي نو اجتماع د متجانسينو راغله جنس به په جنس کي مدغم کيږي

قوله ذال مثل ظاء

په دي عبارت سره دريم حکم ته اشاره شويده ده يعني که چيري دباب افتعال فاء کلمي کي ذال راغلي وي نو اظهار هم کولی شي چي په خپل حال يی پريږدي او ادغام دوجانبه هم کولی شي دوجانبه دا معنی چي داهم جايز ه چي ذال دال کړي دال په دال کي مدغم کړي او دا هم کولی شي چي دال ذال کړي او ذال په ذال کي مدغم کړي

وجه داظهار: اظهار ځکه جايز دی چي دذات په اعتبار سره ددوی په مابين کي عدم جنسيت دی

وجه دادغام سره او همدارنګه عکس: دال په ذال او ذال په دال سره بدلول او بيا ادغام کول ځکه جايز دي چي دال او ذال دواړه حروف دحروف مهجوره وو څخه دي نو دواړو مخرجونه لوی دي(مراح يوسل څلور)

خو دذال دال کول موافق القياس او دال ذال کول مخالف القياس دي په همدي بناء د ذال دال کول اقوی دي په نسبت سره ددال ذال کولو ته (مراح يوسل يو)

قوله و زاء مثل صاد وضاد است

په دي عبارت سره څلورم حکم ته اشاره شويده يعني که چيري دباب افتعال فاء کلمي په مقابل کي زاء راغلی وه نو اظهار هم کولی شي او ادغام هم يو طرفه کولی شي يوطرفه دا معنی چي دال زاء کړي او عکس نشي کولی چي زاء دال کړي او دال په دال کي مدغم کړي

وجه داظهار :داده چي ددوی ترمنځ عدم جنسيت دی په اعتبار دذات سره يعني دذات په اعتبار سره دوی سره ديو جنس څخه ندي

اوله وجه دادغام: يی داده چي دال او زاء په مخرج کي سره برابر دي ددواړو مخرجونه د حروف مهجوره وو څخه دي

دوهمه وجه دفقط ادغام: زاء په زاء کي داده چي زاء په امتداد دصوت کي اعظمه ده په نسبت سره دال ته

دريمه وجه: يا ځكه صرف زاء په زاء كي مدغم شوله چي زاء دحروف صفيره څخه ده او حروف صفيره كي قاعده داده چي صرف به په حروف صفيره كي مدغم كيږي غير صفيره كي نشي مدغم كيدلى ځكه دبعضي حروف صفيره صفات دبعضو حروف غير صفيره وو سره فوت دي(مراح يو سل يوه ص نهمه حاشيه)

فايده: حروف صفيره: صفيره يا صفير په لغت كي دچرګانو اواز يا اذان كولو ته وايى په اصطلاح كي دا هغه حروف دي چي په ده سره نرم اواز حاصليږي داسي اواز چي د غابنونو دقوت د وجه نه پيدا كيږي حروف صفيره درى دي صاد ـ زاء ـ سين

قانون: اگر ثاء واقع شود مقابله فاء كلمه باب افتعال اظهار يک طرفه وادغام دوطرفه جايز است مگر تاء را ثاء كردن اولى است

يووولسم قانون

ديدې قانون نوم دى د اِتَّبَتَ او اِتَّبَتَ قانون،په قانون كې يو حكم او يو شرط دى.
حكم: اظهار او ادغام دواړه يو طرفه جائز دى.
شرط: د باب اِفْتِعَال د فاء كلمې په مقابل كې به حرف ثاء وي،اختر ازي مثال:ثَبَتَ اتفاقي مثال داظهار: د اِثْتَبَتَ څخه د اِثْتَبَتَ او اتفاقي مثال دادغام: د اِثْتَبَتَ څخه د اِتَّبَتَ او اِتَّبَتَ ويل جائز دي.

خلاصه دقانون داده چي كله دباب افتعال دفاء كلمي مقابل كي ثاء راشي نو تاء دباب افتعال په خپل حال هم پريښودلى شي او داهم جايز دي چي تاء ثاء كړي ثاء په ثاء كي مدغم كړي يا عكس وكړي چي ثاء تاء كړي تاء په تاء كي مدغم كړي

وجه داظهار يى عدم جنسيت دى په اعتبار دذات سره

او وجه دادغام يى جنسيت دى د دواړو په مهموسية كي خو امام جارالله زمخشري رح وايى چي په دغه صورت كي ادغام واجب دى ځكه دى وايى چي اتحاد صوري هم لري او اشتراک في المهموسية كي هم دي سره دقرب المخرج نه داخبره صاحب مراح او ابن

Maktaba Tul Ishaat.com

حاجب هم قبوله کړيده ليکن امام سيبويه امام العربية بيا وايی چي اظهار جايز دی دعدم جنسيت نه په اعتبار د ذات سره (مراح سلمه ص)

سوال: دلته سوال واردیږي چي ته وايی چي ثاء او تاء کي ادغام ځکه جايز دی چي په مهموسية کي سره برابر دي داسي خو تاء او سين هم مهموسية کي برابر دي بيا دې ددوی هم خپل مابين کي ادغام جايز شي الجواب دادی چي نه دتاء او ثاء دادغام لپاره شرط دا ښودل شوی وو چي برابر والی دی په صفت دمهموسية کي دا يو جزء دی دثاء او تاء دادغام لپاره يو بل جزء هم شته چي قرب مخرج دی او دتاء او سين ترمنځ اګر که توافق په مهموسية کي شته ليکن په مخرج کي قربت نلري ياځکه دتاء او ثاء په مابين کي اتحاد صوري دی (ث ـ ـ تـ ـ) او دتاء او سين مابين کي اتحاد په صورة کي نشته (ت ـ س) خوا دا وجه دومره دادغام لپاره تريوه حده نا مناسبه ده (مراح سلمه ص)

قانون: اگريکی از ده حروف مذکوره واقع شود مقابله عين کلمه باب افتعال تاء وی را جنس عين کلمه کرده جوازا ادغام کرن وجوبا واگر تاء واقع شود ادغام جايز است واگر يکی ازحروف مذکوره واقع شود مقابله فاء کلمه باب تفعل وتفاعل تاء انها راجنس فاء کلمه کرده جوازا وادغام مي کنند وجوباواگر تاء باشد ادغام جايز است

دولـــــــسـمقـــــــانـــــون

ديدې قانون نوم دی خَصَّمَ او کَظَّمَ قانون،په دې قانون کي څلور حکمونه او د هر حکم لپاره يو،يو شرط دی.

اولحـکـم: تاء د باب اِفْتِعَال د عين کلمې له جنس څخه ګرځول جائز او بيا جنس په جنس کي ادغامول واجب دي.

شـرط: د باب اِفْتِعَال د عين کلمې په مقابل کي د لسو(۱۰)لاندينو حرفونو څخه يو حرف راغلی وي(س،ش،ص،ض،ط،ظ،د،ذ،زاوث)،اختيارزيمثال:خَصَمَ،کَظَمَ

اتـفـاقـيمـثـال:د اِخْتَصَمْاواِکْتَظَمَ څخه د اِخْصَصَمَاواِکْظَظَمَ ويل جائز او خَصَّمَ،کَظَّمَ ويل واجب دي.

دوهمحکم: تاء د باب اِفْتِعَال د عين کلمې له جنس څخه ګرځول او بيا جنس په جنس کې ادغامول جائز دي.
شرط: د باب اِفْتِعَال د عين کلمې په مقابل کې به د تاء حرف راغلی وي،اختررازي
مثال:قَتَلَ
اتفاقيمثال: د اِقْتَتَلَ څخه د قَتَّلَ او قِتَّلَ ويل جائز دي.
دريمحکم: تاء د باب تَفَاعُل او تَفَعُّل د فاء کلمې له جنس څخه ګرځول جائز او بيا جنس په کې ادغامول واجب دي.
شرط: د باب تَفَاعُل او تَفَعُّل د فاء کلمې په مقابل کې به د لسو(۱۰)مذکورو حرفونو څخه يو حرف راغلی وي(س،ش،ص،ض،ط،ظ،د،ذ،ز،اوث)،اختررازيمثال:ثَقَلَ
اتفاقيمثال: د تَثَاقَلَاوتَثَقَّلَ څخه د ثَثَاقَلَاوثَثَقَّلَ ويل جائز او بيا اِثَّاقَلَ او اِثَّقَّلَ ويل واجب دي.
څلورمحکم: تاء په تاء کې ادغامول واجب دي.
شرط: د باب تَفَاعُل او تَفَعُّل د فاء کلمې په مقابل کې به تاء راغلی
وي،اختررازيمثال:تَرَکَ
اتفاقيمثال: له تَتَارَکَ او تَتَرَّکَ څخه د اِتَّارَکَ او اِتَّرَّکَ ويل جائز دي.

خلاصه دقانون داده چې کله دباب افتعال دعين کلمې مقابل کې يو حرف د(س،ش،ص،ض،ط،ظ،د،ذ،ز،اوث)،څخه راشي نو تاء دباب افتعال به دعين کلمې له جنس نع ګرځول شي او جنس به په جنس کې مدغم کيږي او که دعين کلمې دباب افتعال کې ابتداءا تاء وه نو تاء به په تاء کې مدغم کيږي او که همدا لس حروف(س،ش،ص،ض،ط،ظ،د،ذ،ز،اوث)،حروف دباب تَفَعُّل او تَفَاعل دفاء کلمې مقابل کې راغلل نو تاء دباب تفعل او تفاعل به دفاء کلمې له جنس څخه ګرځول شي او جنس به په جنس کې مدغم کيږي خو که چيرې دباب تفعل او تفاعل فاء کلمې مقابل کې ابتداء تاء وه نو صرف به ادغام کيږي

قوله اګريکې از ده حروف مذکوره واقع شود مقابله عين کلمه باب افتعال تاء وی را جنس عين کلمه کرده جوازا ادغام کرن وجوبا

Maktaba Tul Ishaat.com

په دي عبارت سره اول حكم ته اشاره شويده چي كه چيرى دباب افتعال دعين كلمي مقابل كي لس مذكوره حروف راغلل نو تاء دباب افتعال به ورته دعين كلمي له جنس څخه گر ځول كيږي دا ځكه چي تاء دحروف مهموسه ووڅخه ده او دالس حروف سوى د سين او ضاد څخه دا دمهجوره وو څخه دي او دمهموسية او مهجورية ترمنځ منافات وو ځكه دا به هم دعين كلمي له جنس نه گرځول شي

خو عكس ونه شو چي دالس حروف مذكوره په تاء سره بدل شي له دوه وجهو نه

اوله وجه: تاء دحروف مهجوره څخه ده او باقي لس حروف حروف دمهموسه وو څخه دي او مهجوره په نسبت سره مهموسه وو ته ضعيف دي

دوهمه وجه: يا ځكه عكس ونه شو چي تاء زايده ده او هغه حروف چي عين كلمي مقابل كي راغلي اصلي دي ابدال دزايد په اصلي دا اولى ده له ابدال داصلي نه زايده ته يا اصلي قوي وي نسبت زايده ته نو كه عين كلمي تاء شي نو قوي به ضعيف شي او دا ضعيفه ده او كه تاء عين كلمه شي نو ضعيفه به قوي شي او داخبره قوي ده

خو سين او ضاد ددي قانون نه مستثنى دي يعني اگر كه دحروف مهجوره څخه ندي خو بيا هم په تاء سره نشو بدلولاى ځكه چي دا دحروف صفيره وو څخه دي مخارج يى په نسبت سره تاء ته لوى دي نو كه ابدال وكړي دا مثال لري كوضعذالقصعة الكبيرة في الصغيرة(مراح يوسل شپږمه ص حاشيـــ نهمه)

<u>قوله واگر تاء واقع شود ادغام جايز است</u>

په دي عبارت سره دوهم حكم ته اشاره شويده يعنى كه چيري دعين كلمي مقابل كي ابتدا تاء راغله بيا جنسين جمع شول ادغام جايز دى

خو بعضي صرفيان وايى چي دا ډول ادغام(يعني قانون دخصم كظم) په ماضي كي ندى جايز نورو صيغو كي جايز دى ځكه چي اِخْتَصَمَ دى نو چي تاء صاد شي اِخْصَصَمَ شو چي كله ادغام وشي نو اِخَصَّمَ شو همزه وصلي ته ضرورت پيدا نشو نو خَصَّمَ شو نو ځكه په ماضي كي داقاعده جايز نده چي التباس يى دباب تفعيل دماضي صيغي سره راځي

او بعضي صرفيان بيا وايى چي په ماضي كي هم ادغام جايز دى ليكن فاء كلمي ته به دخوف التباس له وجهي كسره وركول كيږي

بعضي صرفيان بيا وايى چي نه ادغام وكړه اِخِصَّمَ يى ووايه فاء كلمي ته كسره وركړه او شروع كي يى همزه وصليه مكسوره هم راوړه چي ابتداء بالساكن رانشي نظرا الى السكون اصل الكلمة الفاء لان كلمة الفاء ساكنة في الاصل (مراح يو سل اته ص)

يعني لنډه دا چي پدي قاعده كي درى مذاهب دي اول عدم الادغام دوهم الادغام وحذف الهمزة دريم الادغام وبقاء الهمزة مع كسرالكلمة الفاء (مراح يوسل اتمه ص)

واگر يكى ازحروف مذكوره واقع شود مقابله فاء كلمه باب تفعل وتفاعل تاء انها راجنس فاء كلمه كرده جوازا وادغام مي كنند وجوبا

په دي سره هم دريم حكم ته اشاره شوي ده يعنى كلهرچي دباب تفعل او تفاعل فاء كلمي مقابل كي لس حروف مذكوره راشي نوتاء دباب تفعل او تفاعل به دهغو لسو حروفو له جنس څخه ګرځول كيږي هماغه مذكوره وجه ده چي تاء دحروف مهموسه ووڅخه ده او دالس حروف سوى د سين او ضاد څخه دا دمهجوره وو څخه دي او دمهموسية او مهجورية ترمنځ منافات وو ځكه دا به هم دعين كلمي له جنس نه ګرځول شي

خو عكس ونه شو چي دالس حروف مذكوره په تاء سره بدل شي له دوه وجهو نه

اوله وجه: تاء دحروف مهجوره څخه ده او باقي لس حروف حروف دمهموسه وو څخه دي او مهجوره په نسبت سره مهموسه وو ته ضعيف دي

دوهمه وجه: يا ځكه عكس ونه شو چي تاء زايده ده او هغه حروف چي عين كلمي مقابل كي راغلي اصلي دي ابدال دزايد په اصلي دا اولى ده له ابدال داصلي نه زايده ته يا اصلي قوي وي نسبت زايده ته نو كه عين كلمي تاء شي نو قوي به ضعيف شي او دا ضعيفه ده او كه تاء عين كلمه شي نو ضعيفه به قوي شي او داخبره قوي ده

قوله واگر تاء باشد ادغام جايز است

په دي عبارت سره دريم حكم ته اشاره شويده يعنى كه چيري دفاء كلمي مقابل كي ابتدا تاء راغله بيا جنسين جمع شول ادغام جايز دى دفاء

فايده: :::::*

ادغام په درى قسمه دى واجب جايز ممتنع

Maktaba Tul Ishaat.com

وجه دحصر يی داده چي حروف ادغام به خالي نه وي يابه يوه کلمه کي وي يابه په دوه کلمو کي که په يوه کلمه کي وو يا به دواړه متحرکين وي يا به اول ساکن دوهم متحرک وي يابه اول مامتحرک دوهم ساکن وی په اولو دوه صورتونو کي ادغام واجب دريم صورت کي ممتنع او که په دوه کلمو کي وو متحرک وو بيا ادغام جايز دی (مراح څلور نوي ص)

قانون:اگر یکی از ده حروف مذکوره وراء ونون بعد از لام تعریف واقع شود لام را جنس ایشان کرده وجوبا واگر یکی از ایشان بعد از لام ساکن غیر تعریف واقع شود لام راجنس وی کرده جوازا ادغام می کنند وجوبا سوی راء چراکه در ینجا واجب است

ديـــــارلـــــســـمقـــــانـــــون

ديدې قانون نوم دی د حروف شمسي او قمري قانون،په دې قانون کې دوه حکمونه او د هر حکم لپاره يو، يو شرط دی.

اولحـکـم: لام تعريف د حروفو شمسي او قمري له جنس څخه ګرځول او بيا جنس په جنس کې ادغامول واجب دي.

شـرط: د لام تعريف څخه وروسته به يو حرف له حروفو شمسي او قمري څخه راغلی وي،اختترازيمثال:بَلْ سَوَّلَتْ

اتـفـاقــيمـثـال: د اَلْرَحْمنَ څخه د اَلرَّحْمنَ ويل واجب دي.

دوهمحـکـم: لام ساکن غير تعريف له حروفو شمسي او قمري له جنس څخه ګرځول جائز او بيا جنس په جنس کې ادغامول واجب دی.

شـرطـ: د لام ساکن غير تعريف څخه وروسته يو حرف له حروفو شمسي او قمري څخه يو حرف راغلی وي،اختترازيمثال:اَلْرَحْمنَ

اتـفـاقــيمـثــال: د بَلْ سَوَّلَتْ څخه د بَسَوَّلَتْ ويل جائز دي.

يـادونـه:حروف شمسياوقمري ديارلس(۱۳)دي:(ث،د،ذ،ر،ز،س،ش،ص،ض،ط، ظ،ل،اون)،خوکلهکله جيم هم د حروفو شمسياوقمري له جنسڅخه ګرځولکيږي

خلاصه دقانون داده چي کله لام تعريف نه ورسته يو حرف دحروف شمسي او قمري راشي نو لام تعريف دحروف شمسي او قمري له جنس نه ګرځول شي بيا جنس په جنس کي ادغام کيږي

او لام ساکن راغی خو لام تعريف نه وو وروسته ورنه حروف شمسي او قمري راغلل نو لام ساکن به هم حروف شمسي له جنس نه ګرځول کيږي بيا به ادغام کيږي

حروف شمسي ټول څوارل دي (ت.ث،د،ذ،ر،ز،س،ش،ص،ض،ط، ظ،ل‌اون)

او ددي نه ماسوی قمري هم څوارلس دي (ب.ج.ح.خ. ع.غ.ف.ق.ک.م.ء. و.ی)

قانون: سوی وزن اصلي درفعل مضارع مشددالاخر غير مضموم العين سه وجه خواندن جايز است بشرطيکه يک از حروف جوازم داخل شده ياوقت بناء کردن امر واګر مضارع معلوم مشدد الاخر مضموم العين باشد چهار وجه خواندن جايز است بشرطيکه يک حرف از حروف جوازم داخل شده يا وقت بناء کردن امر جوازا

څـــوارلـــــــســـمقـــــــانـــــون

ديدې قانون نوم دی د لَمْيَحْمَرَّ،لَمْيَحْمَرِّ او لَمْيَحْمَرِرْ قانون،په دې قانون کې دوه حکمونه او د هر حکم لپاره يو،يو شرط دی.

اول‌حـکـم:په مضارع مشدد الآخر غير مضموم العين کې درې وجهې ويل جائز دي.

شـرط: په مضارع باندې حرف جازم داخل وي او يا به د امر د جوړولو اراده دې وي،اختر‌ازي‌مثال:يَحْمَرُّ،تَحْمَرُّ (چې اراده دی وي).

اتـفـاقـــي‌مـثـال: د يَحْمَرَّ څخه د لَمْيَحْمَرَّ،لَمْيَحْمَرِّ او لَمْ يَحْمَرِرْ او د تَحْمَرَّ څخه د اِحْمَرَّ، اِحْمَرِّ او اِحْمَرِرْ ويل جائز دي.

دوهم‌حـکـم: په مضارع مشدد الآخر مضموم العين کې څلور وجهې ويل جائز دي.

شـرط: په مضارع باندې به حرف جازم داخل وي او يا به د امر د جوړولو اراده دې وي،اختر‌ازي‌مثال:يَمُدِّ،تَمُدُّ

اتـفـاقـــي‌مـثـال: له يَمُدُّ څخه د لَمْيَمُدَّ،لَمْ يَمُدِّ،لَمْيَمُدُّ او لَمْيَمْدُدْ او د تَمُدُّ څخه مُدَّ،مُدِّ،مُدُّ او

Maktaba Tul Ishaat.com

أُمْدُدْ ويل جائز دي.

خلاصه دقانون داده چي هرهغه باب چي مضارع يى مشددالعين وي دحرف جازم يا دامر جوړولو په وخت كي دوزن اصلي نه سوى درى نوري وجهي هم ويلى شي او كه مشددالاخر خو مضموم العين وه نو بيا څلور وجهي ويلى شي

قوله سوى وزن اصلي درفعل مضارع مشددالاخر غير مضموم العين سه وجه خواندن جايز است بشرطيكه يک از حروف جوازم داخل شده ياوقت بناء كردن امر

هرباب چي مضارع يى مشددالاخر غير مضموم وو نو دهمدي وزن اصلي نه علاوه درى نوري وجهي هم ويلى شي (فتحه. كسره. سكون فک ادغام)

فتحه ځكه وركولاى شي چي فتحه اخف الحركات ده ځكه كه نظر وشي چي موضع د ادغام

موجب دثقل وي نو فتحه اخف الحركات ده اګر كه التباس هم راځي دامر صيغو ماضي سره ليكن فرق يى تقديري دى

كسره هم وركولاى شي ځكه چي الساكن اذا حرک حرک بالكسر

او فک ادغام هم جايز دى دا ځكه چي مثلا يَحْمَرِرُ وو كله چي حرف جازم پري داخل شو نو دادغام قاعده ورته متوجه نشوه ځكه اول متحرک ثاني ساكن شو حتل داچي دادغام لپاره شرط متحركين يا سكون الاول او تحريک الثاني شرط دى (زنجاني .مراح)

واګر مضارع معلوم مشدد الاخر مضموم العين باشد چهار وجه خواندن جايز است بشرطيكه يک حرف از حروف جوازم داخل شده يا وقت بناء كردن امر جوازا

خو كه فعل مضارع مشددالاخر مضموم العين وه نو د وزن اصلي نه سوى څلور نوري وجهي ويل هم پكي جايز دي (فتحه. كسره. ضمه. سكون فک ادغام)

فتحه ځكه وركولاى شي چي فتحه اخف الحركات ده ځكه كه نظر وشي چي موضع د ادغام

موجب دثقل وي نو فتحه اخف الحركات ده اګر كه التباس هم راځي دامر صيغو ماضي سره ليكن فرق يى تقديري دى

ضمه وركول ځكه جايز دي چي تبعا للعين الفعل المضارع

كسره هم وركولای شي ځكه چي الساكن اذا حرک حرک بالكسر

او فک ادغام هم جايز دی دا ځكه چي مثلا يَحْمَرِرُ وو كله چي حرف جازم پري داخل شو نو دادغام قاعده ورته متوجه نشوه ځكه اول متحرک ثاني ساكن شو حتل داچي دادغام لپاره شرط متحركين يا سكون الاول او تحريک الثاني شرط دی (زنجاني .مراح)

خو دا دری يا څلور وجهي په هغه صورت كي جايزي دي چي كله دفعل مضارع مشددالاخر اخير كي څه شی نه وي اما كه چيري ياء وه يا حرف ساكن وو بيا كسره لازمه ده لكه مَدِّیْ .. مُدِّیِ الْقَوْمَ او كه چيري الف وو ايا هاء دمونث وهذ نو فتحه لازمه ده لكه مَدَّا .. مَدَّهَا او كه چيري وروسته وروستته ورنه واو يا ها المذكر وه نو ضمه بيا واجبه ده لكه مَدُّوْا ... مُدُّهُ .. الخ (مراح)

(فايده)

الساكن اذا حرک حرک بالكسر دا ولي؟ الجواب جر چي اثر يی كسره ده خاص دی تر اسم پوري او جزم چي اثر يی سكون دی خاص دی ترفعل پوري نو ددوی دواړو ترمنځ تضاد او منافات وو نو دكسري او سكون ترمنځ نسبت تضاد شته نو هركله چي سكون ممتنع وو نو هرهغه شی چي دسكون سره يی نسبت او علاقه او تعلق وو چي كسره ده هغه وركړل شوه ځكه قاعده ده چي (اذا ارتفع احد الضدين قام الضد مقامه) (زنجاني دری پنځوسمه ص دريمه حاشيه)

نو لنډه داچي جر خاص وو تر اسم سكون خاص وو تر فعل پوري نو په دي تخصيص كي يی ديو بل سره مناسبت وو نو لهذا ساكن چي كله متحرک كيږي متحرک به په كسره سره وي

دثلاثي مزيدو قوانين او دهغوی تشريح حتی الوسع بعون الملک العلام سره پای ته ورسيده
العبدالاحقر عبيدالله عبيد الماتريدي گلشاخيل معروف بـــابوطلحة الحنفي
۱۴۴۰/محرم/۹
استاذ حضرت مولانا حميدالله نوري.

Maktaba Tul Ishaat.com

دثلاثي مزيدو رباعی مجردو او رباعی مزيدو دبابونو پيژندلو لنډه طريقه: :

خو اول بايد دمزيداتو دهرباب ماضي مضارع مصدر وپيژندل شي چي په لاندي ډول دي

اَكْرَمَ	يُكْرِمُ	اِكْرَامًا ُ	افعال
صَرَّفَ	يُصَرِّفُ	ِتَصْرِيْفٌ	تَفْعِيْلٌ
ضَارَبَ	يُضَارِبُ	مُضَارَبَةٌ	مفاعلة
تَصَرَّفَ	يَتَصَرَّفُ	تَصَرُّفًا	تَفَعُّلٌ
تَضَارَبَ	يَتَضَارَبُ	تَضَارُبًا	تفاعل
اِنْصَرَفَ	يَنْصَرِفُ	اِنْصِرَافًا	انفعال
اِكْتَسَبَ	يكْتَسِبُ	اِكْتِسَابًا	اِفتعال
اِسْتَخْرَجَ	يَسْتَخْرِجُ	اِسْتِخْرَاجًا	استفعال
اِحْمَرَّ	يَحْمَرُّ	اِحْمِرَارًا	افعلال
اِحْمَارّ ّ	يَحْمَارُّ	اِحْمِيْرَارًا	افعيلال
اِجْلَوّذ	يَجْلَوِّذ	اِجْلِوَّاذا	اِفْعِوَّال
اِحْدَوْدَبَ	يَحْدَوْدِبَ	اِحْدِيْدَابًا	اَ ِفْعِيعَال
دَحْرَجَ	يُدَحْرِجُ	دَحْرَجَةً	فَعْلَلَةٌ
تَدَحْرَجَ	يَتَدَحْرَجُ	تَدَحْرُجًا	تَفَعْلُلًا
اِحْرَنْجَمَ	يَحْرَنْجِمُ	اِحْرِنْجَامًا	اِفْعِنْلَالًا
اِقْشَعَرَّ	يَقْشَعِرُّ	اِقْشِعْرَارًا	اِفْعِلَّلَعالًا

(دمزيداتو دابوابو لنډه پيژندنه)

دمزيدو بابونو پيژندل د مجردو بابونو په نسبت لږ اسان دي

دمزيدو بابونو پيژندلو په وخت کي چي کله يوه صيغه راشي نو که مفرد وه فبها ونعم او که مفرد نه وه صيغه به مفرد کړي مثلا جمع مذکر حاضر فعل مضارع وه نو واحدمذکر فعل مضارع حاضر معلوم به يې کړي بيا به يې دماضي او مضارع دغايبو صيغو سره وزن برابر کړي هماغه وزن به بيا پورته بابونو کي پيدا کړي

که بابونه اعلالي وي نو اصل غير اعلال ته به رد کيږي لکه لاندي جدول کي

صيغه	مفرده	نظير او مثل يې	ماضيه	مضارعه	باب
تُكْرِمُوْنَ	تُكْرِمُ	تُكْرِمُ	اَكْرَمَ	يُكْرِمُ	افعال
تَظَاهَرَ	تَظَاهَرَ	تَضَارَبَ	تَظَاهَرَ	يَتَظَاهَرُ	تفاعل
مُقِيْمُوْنَ	مُقِيْمٌ	مُكْرِمٌ	اَقَامَ	يُقِوْمُ	افعال
مُسْتَقِيْمِيْنَ	مُسْتَقِيْمٌ	مُسْتَخْرِجٌ	اِسْتَقَامَ	يَسْتَقِوْمُ	استفعال
مُفَصَّلَةٌ	مُفَصَّلَةٌ	مُصَرَّفَةٌ	تَفَصَّلَ	يَتَفَصَّلُ	تفعل
تَتَجَافَى	تَتَجَافَى	تَتَضَارَبُ	تَجَافَى	يَتَجَافَى	تفاعل
يِسْتَغْفِرُوْنَ	يِسْتَغْفِرُ	يَسْتَخْرِجُ	اِسْتَغْفَرَ	يَسْتَغْفِرُ	استفعال
تَكَفَّلْ	تَكَفَّلْ	تَصَرَّفْ	تَكَفَّلَ	يَتَكَفَّلُ	تفعل
اَرِ	اَرْئِىْ	اَكْرِمْ	اَرْئَى	يُرْئَى	افعال
يُعَسْعِسُ	يُعَسْعِسُ	يُدَحْرِجُ	عَسْعَسَ	يُعَسْعِسُ	فعللة
مُتَبَنٍّ	مُتَبَنٍّ	مُتَصَرِّفٌ	تَبَنّى	يَتَبَنّى	تفعل

Maktaba Tul Ishaat.com

قانون: هر واو كه واقع شود مقابله فاء كلمه مصدريكه بروزن فِعْلٌ يا فِعْلَةٌ باشد بشرطيكه مضارع معلومش نيز معلل شده باشد كسره اش رانقل كرده بمابعد داده وان را حذف كرده عوضش تاء متحركه در اخيرش در آرند وجوبا

اول قـــــــــــــانـــــــــــــون

ديدې قانون نوم دى د عِدَةٌ قانون،په دې قانون کې يو حکم او څلور شرطونه دي.
حـکـم: د واؤ حرکت ما بعد ته ورکول،د واؤ حذف کول او په عوض کې يې تاء يه آخر کې راوړل واجب دي.
اولشـرط: واؤ به د فاء کلمې په مقابل کې وي،احترازيمثال:قَوْلٌ
دوهـمشـرط: واؤ په مصدر کې وي،احترازيمثال:وِتْرٌ
دريـمشـرط: مصدر به په وزن دې فِعْلٌ وي،احترازيمثال:وَصْلٌ
څـلـورمشـرط: واؤ به په فعل مضارع معلوم کې حذف شوى وي،احترازيمثال:وِجْلٌ
اتـفـاقـيمـثـال: د وِعْدٌ څخه د عِدَةٌ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چې دفِعْلٌ يافِعْلَةٌ په وزن سره مصدر کي واو دفاء کلمي مقابل کي راغى او دا واو په فعل مضارع کي حذف شوى نه وو نو ددي واو کسره به مابعد ته ورکول کيږي او واو به حذف کيږي او عوض کي به يى تاء په اخر کي راوړل شي

قوله کسره اش رانقل کرده بمابعد داده

اوله خبره دا چې ددي واو حرکت(چې کسره ده) به مابعد ته نقل کيږي ځکه واو حرف علة ثقيل وو او کسره هم ثقيله وه نو ځکه نقل حرکت وشو

قوله ان واو را حذف کرده

بيا هغه واو چې حرکت يى مابعد ته ورکړل شو حذف شو له وجهو نه

اوله وجه:داچې ابتداء په ساکن راتله ځکه حرکت يى مابعد ته نقل وو نو ساکن وو

دوهمه وجه :يى دا ده چي ځكه حذف وشو چي موافقت يى دفعل مضارع سره راشي ځكه په مضارع(يَعِدُ) كي هم واو حذف وو (فوايد كريميه څلور شپيتمه ص)

قوله وعوضش تاء در آخر درآرند وجوبا

كله چي واو حذف شي په عوض كي به يى تاء متحركه په اخر كي راوړل شي دا ځكه چي دا قاعده ده چي كله يو حرف بغير دالتقاء تنوين له وجهي حذف شي نو اخر كي به يى عوض كي تاء متحركه راوړل شي (سيجيئ قاعدة المذكور عنقريب متصلا)

قيودات:: دواو محذوفه په عوض كي تاء متحركه په اول كي رانه وړل شوه ځكه بيا يى التباس دفعل مضارع (تَعِدُ) سره راتله

كهذچيري داسي باب وو چي لام كلمه كي يى حرف حلقي.وو لكه وِسْعٌ نو واو به

حذف كيږي او بيا به دحرف حلقي ماقبل ته فتحه وركول كيږي لكه وِسْعٌ وو واو حذف شو تاء يى اخر كي راوړل شوه سِعَةٌ شو نو كسره په فتحي سره بدله شوه سَعَةٌ شو لپاره د رعايت د حرف حلقي (زنجاني اوه پنځوسمه ص شپږمه حاشيه).

(فايده)

ايا د عِدَةٌ تاء حذف كيدلى شي او كنه؟ .

امام سيبويه رح فرمايى چي تاء دعِدَةٌ كله كله جوازا حذف كيدلى شي لكه په دي شعر كي

انَّ الخليطَيْنِ اَجْدَدُو البَيْنَ فانجردوا

واخْلَفوكِ عِدَالْاَمْرِالَّذِىْ وعدوا

بيشكه هغه دوه ملګرو غوره كړو جدا والى فنجردوا نو لاړل او خلاف يى وكړه دتا سره دهغي وعدي چي يى كړيوه دتاسره

نو دلته عِدَ الامر كي عِدَ اصل كي عِدَةٌ وو نو تاء حذف شويده دا ځكه حذف كيدلى شي چي حذف او تعويض دا ټول امور جايزه دي عندسيبويه

خو امام فرّاء رح وايى چي حذف دتاء جايز ندى ځكه دا تاء عوض دحرف اصلي څخه راغليده نو نه حذف كيږي خو يوصورت ورنه مستثنى دى كله چي ددي مصدر اضافت وشي بيا تاء حذف كولى شي ځكه اضافت قايم مقام دمحذوف كيدلى شي

Maktaba Tul Ishaat.com

او كوم شعر كي چي تاء حذف شويده هغه هم داضافت له وجهي حذف شويده (مراح يوسلو څلورديرشمه ص) او دا رأيه غوره رأيه هم ده عندي

او جِهَةٌ په اصل كي وِجْهَةٌ وو نو دواو حركت مابعد ته نقل شوى دى اګر كه اسم ظرف دى په طريقه دقليلٍ سره

قانون: درمصدر هر حرفيكه بجز التقاء التنوين بيفتد عوضش تاء متحركه دراخرش درآرند وجوبامګر لُغَةٌ ومِأَةٌ شاذ اند

دوهـــــــمقـــــــــانـــــــــون

ديدي قانون نوم دى د اِقَامَةٌاو اِسْتِقَامَةٌ قانون،په دې قاون كې يو حكم او دوه شرطونه دي.
حـكـم: د حذف شوې حرف په عوض كې تا متحركه په آخر كې راوستل واجب دي.
اولشـرط: حرف به د مصدر څخه حذف شوى وي،اختزازيمثال:يَعِدُ
دوهـمشـرط: حرف به د التقاء تنوين له وجهي نه نه وي حذف شوى ، اختزازيمثال:هُدى
اتـفـاقـيمـثـال: د اِقْوَامٌ او اِسْتِقْوَامٌ څخه د اِقَامَةٌ او اِسْتِقَامَةٌ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چي كله يو حرف په مصدر كي بغير دالتقاء التنوين نه حذف شي نو په عوض كې به يى په اخر كي تاء متحركه راوړل شي

قوله درمصدر هر حرفيكه بجز التقاء التنوين بيفتد عوضش تاء متحركه دراخرش درآرند وجوبا

دا عموما قاعده شوه چي كله يو حرف دالتقاء التنوين نه بغير حذف شي عوض كي به يى په آخر كي تاء متحركه راوړل كيږي لكه اِقَامَةٌ اصل كي اِقْوَامٌ وو نو ديقال په قانون سره واو په الف بدل شو نو التقاء الالفين راغله الف مبدله او الف زايده ترمنځ يو الف يى حذف كړو. امام اخفش رح وايى چي اول الف يى حذف كړو خو امام خليل او سيبويه وايى چي دوهم الف چي زايد دى حذف شو نو اِقَامٌ شو نو اوس يى دحذف شوي حرف په عوض كې په اخر كي تاء راوړله اِقَامَةٌ شو دي كي اقامة كي اعلال ځكه وشو چي چي موافقت يى دماضي سره راشي ځكه هلته اَقْوَمَ كي هم واو په الف بدل شوى وو (مجموعۀ پنج ګنج اته شپيتمه ص)

يا ځکه چي مصدر فرع د فعل ده په فعل کي اعلال الواو بالاف شوی وو نو دلته هم وشوترڅو موافقت دفرع له اصل سره راشي

دپورته قاعدي څخه لُغَةً او مِاَةً مستثنی دي ځکه پورته قاعده کي شرط داوو چي مصدر به دفِعْلٌ په وزن سره او دلته مِأَةٌ او لُغَةٌ په اصل کي مِ ِأَیٌ ...ٌ لُغَوٌ . وو دقال په قانون او التقاء الساکنین په قانون سره مِأً او لُغً شو بيا دحذف شوي حرف په عوض کي تاء په اخر کي راوړل شوه نو مِأَةٌ او لُغَةٌ شو خو دا اعلال شاذ دی

قانون: هرواو ساکن مظهر غير واقع مقابله فاء کلمه باب افتعال ماقبلش مکسور ان واو را بيا بدل کنند وجوبا بشرطيکی باعث تحريک موجود نباشد

دريـــــــــــمقـــــــــــانـــــــــــون

ديدې قانونن نوم دی د مِيْعَادٌ قانون،په دې قانون کې يو حکم او پنځه شرطونه دي.
حـکـم: واؤ په ياء بدلول واجب دی.
اولشرط:واؤبهساکنوي،احترازيمثال:عِوَضٌ
دوهـمشـرط: واؤ به مظهر وي،احترازيمثال:اِجْلِوَّازٌ
دريـمشـرط: واؤ به د باب اِفْتِعَال د فاء کلمې په مقابل کې نه وي،احترازيمثال:اِوْتَقَدَ
څـلـورمشـرط: د واؤ ما قبل به مکسور وي،احترازيمثال:قَوْلٌ
پـنـځـمشـرط: واؤ ته به د حرکت ور کولو سبب موجود نه وي،احترازيمثال:اِوَزَّةٌ
اتـفـاقـيمـثـال: د مِوْعَادٌ څخه د مِيْعَادٌ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چي کله واو ساکنه مظهره راشي ماقبل مکسور وي پدي شرط چي دباب افتعال دفاء کلمي مقابل کي نه وو او دحرکت ورکولو باعث يی هم نه وو موجودنو دابه په ياء سره بدليږي

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله هرواو ساكن مظهر غير واقع مقابله فاء كلمه باب افتعال الخ

يعني دا واو به په ياء سره بدليږي ځكه چي كله واو راشي او حاجز ضعيفه هم راغلى وي.لكه قِنْيَةٌ (چي اصل كي قِنْوَةٌ وو) كي نو صرفيان هغه واو په ياء سره بدلوي نو كله چي حاجز نه وي په طريقه اولى سره به بدليږي لكه دا مذهب دامام زمخشرى هم دى (مراح يوسلو شپږ ديرشمه ص)

ياځكه به واو په ياء سره بدل شي چي مانع هم نشته او بل ترڅو تخفيف راشي (مجموعه پنج گنج څلورشپيتمه ص)

قوله بشرطيكى باعث تحريک موجود نباشد

يو شرط يى ورته دا ښودلى چي كله واو ساكنه راشي ټول شرايط يى پوره وي نو په ياء سره بدليږي خو چي واو ته دحركت وركولو باعث نه وي كه واو ته دحركت وركولو باعث موجود وو بيا په ياء سره نه بدليږي لكه اِوَزَّة چي په اصل كي اِوْزَزَةٌ وو نو واو راغى ماقبل يى مكسور دى په ياء بدل نشو ځكه واو ته دحركت وركولو باعث موجود دى هغه داسي چي زاء په زاء كي مدغمه شوه نو واو ته به حركت وركوي ځكه بيالتقاء الساكنين على غير حده راځي

قانون: هر دال ساكن كه مابعدش تای متحركه غير تای افتعال باشد ان تاء كرده ودر تا ادغام می كند وجوبا

څـــــــــــــــلـــــورمقـــــــــانـــــــون

ديدې قانون نوم دى د وَعَدْتَّ قانون،په دې قانون كې څلور حكمونه،د اول حكم لپاره درې شرطونه او د دريو نورو حكمونو لپاره دوه،دوه شرطونه دي.

اول‌حـكـم: دال په تاء بدلول او تاء په تاء كې ادغامول واجب دي.

اول‌شـرط: له دال ساكن نه به وروسته تاء متحركه وي،احترازي‌مثال:وَعَدْن

دوهـم‌شـرط: تاء د باب اِفْتِعَال به نه وي،احترازي‌مثال:اِدْتَغَمَ

دريـم‌شـرط: دال او تاء به دواړه په يوه كلمه كې وي،احترازي‌مثال:قَدْ تَعْلَمُوْنَ

اتـفـاقـي‌مـثـال: له وَعَدْتَ څخه د وَعَدْتَّ ويل واجب دي.

دوهـم‌حـكـم: دال په تاء بدلول او تاء په تاء كې ادغامول جائز دي.

اولشرط: له دال ساكن نه به وروسته تاء متحركه وي،احترازيمثال:وَعَدْن
دوهمشرط: دال او تاء به په جلا جلا(بيلابيلو)كلمو كې وي،احترازيمثال:وَعَدْتَّ
اتفاقيمثال: د قَدْ تَعْلَمُوْنَ څخه د قَدْ تَّعْلَمُوْنَ ويل جائزدي.
دريمحكم: تاء په دال بدلول او دال په دال كې ادغامول واجب دي.
اولشرط: له تاء ساكن نه به وروسته دال متحركه وي،احترازيمثال:قَالَتِ الْدْعُوْا
دوهمشرط: تاء او دال به دواړه په يوه كلمه كې وي،اخحترازيمثال:اِتَّقَلَتْ دَعَوُاللّٰه
اتفاقيمثال: د وَتْدٌ څخه د وَدٌّ ويل واجب دي.
څلورمحكم: تاء په دال بدلول او دال په دال كې ادغامول جائز دي.
اولشرط: له تاء ساكن نه به وروسته دال متحركه وي،احترازيمثال:قَالَتِ الْدْعُوْا
دوهمشرط: تاء او دال به دواړه په بيلا بيلو كلمو كې وي،احترازيمثال:وَتْدٌ
اتفاقيمثال: د اِتَّقَلَتْ دَعَوُاللّٰه څخه د اِتَّقَلَتْ دَّعَوُاللّٰه ويل جائز دي.

خلاصه دقانون داده چي كله دال ساكنه راشي وروسته ورته تاء متحركه راغلي وي پدي شرط چي دباب افتعال دفاء كلمي مقابل كي نه وي كه يوه كلمه وه ادغام واجب او كه دوه كلمي وي ادغام جايز دى

او كله چي تاءساكنه راشي وروسته ورته دال متحركه راغلي وي پدي شرط چي دباب افتعال دفاء كلمي مقابل كي نه وي كه يوه كلمه وه ادغام واجب او كه دوه كلمي وي ادغام جايز دى

قوله هر دال ساكن كه مابعدش تاى متحركه غير تاى افتعال باشد ان تاء كرده ودر تا ادغام مى كند وجوب

په دي عبارت سره لمړى حكم ته اشاره شويده باقي درى نور حكمونه صاحب ارشاد الصرف ندي ذكر كړي

نو اول حكم داشو چې كله دال ساكنه راغى وروسته ورڅخه تاى متحركه راغله او دا تاء د باب افتعال هم نه وه نو دلته ادغام واجب دى

دا ځكه چي دادغام له احكامو څخه يو حكم دا هم دى چي كله دوه حرفه متجانسين يا متقارب المخرج راشي اول ساكن دوهم متحرك وي او په يوه كلمه كي هم وي نو ادغام واجب دى په متجانسين يا متقاربين كي ادغام ځكه واجب دى چي دلته حروف مكرر راځي او تكرار ثقل لازموي

Maktaba Tul Ishaat.com

(دثقل لازميدو وجه)

كله چي دوه حرفه متجانسين يا متقاربين راشي او اول په ثاني كي ادغام نشي نو ثقل ځكه لازميږي چي دلته انتقال يو ځل دمخرج دحرف نه راځي او بيا انتقال مخرج دحرف ته معاد كيږي لكه (مَدَ)ددال دمخرج نه انتقال راغى بيا ووايى (دَ) نو ددال مخرج ته بيا ورمعاد شو او دا په ژبه باندي تكلف او مشقة راولي ددي داسي مثال دى لكه يو كس قدم واخلي بيرته په هماغه قدم پښه كيږدي او دا دعادت خلاف او سخت دى

نو هركله چي ادغام وشي نو بيا ثقل په لسان نه راځي ځكه چي نطق په دوه حرفينو باندي په يو وار سره داسي دى لكه يو حرف (مراح دوه نوي ص)

دوهم حكم: :

يى دادى چي كله دال ساكنه راشي وررسته ورنه تاء متحركه وي خو شرط دادى چي جدا كلمو كې به وي نو ادغام بيا جايز دى لكه قد تعلمون څخه قَدْتَّعلمون ويل

دريم حكم::

يى دادى چي كله تاء ساكنه راشي وروسته ورنه دال متحركه راشي پدي شرط چي په يوه كلمه كي وي نو تاء دال كول دال په دال كي مدغم كول واجب دي هماغه داولني حكم وجه ددي لپاره هم ده چي كه ادغام ونه شي په ژبه كي مشقت راځي

څلورم حكم:

يى دادى چي كه چيري تاء ساكنه راغله وروسته ورنه دال متحرک راغى پدي شرط چي په يوه كلمه كي نه وو نو ادغام جايز دى

فايده؛

داول حكم لپاره يو شرط دا وو چي دال به دباب افتعال دفاء كلمي مقابل كي نه وي

قانون: هر واو مكسور يا مضموم كه واقع شود دراول كلمه شودومابعدش ديگر واو متحرک نباشد يا كه مقابله عين كلمه باشد همزه مى شود جوازا

پـــــــــنـــــــــځـــمقـــــــــانـــــــــون

ديدې قانون نوم دى د اُعِدَ او اِشَاحٌ قانون،په دې قانون كې يو حكم او دوه ټولګي دي،د هر ټولګي لپاره درې،درې شرطونه دي.

حـكـم: واؤ په همزه سره بدلول جائز دي.

د اول ټولګي اول شـرط: واؤ به مضموم يا مكسور وي،اختـرازيمثال:وَعَدَ

د اول ټولګي دوهـم شـرط: واؤ به د فاء كلمې په مقابل كې وي،اختـرازيمثال:قُولِ

د اول ټولګي دريـم شـرط: د اول واؤ څخه به وروسته دوهم واؤ متحركه نه وي،اختـرازي مثال:وُوَيْعِدُ

اتـفـاقــيمـثـال: دوُعِدَ او وِشَاحٌ څخه د اُعِدَ او اِشَاحٌ ويل جائز دي.

د دوهـم ټولګي اول شـرط: واؤ به مضموم وي،اختـرازيمثال:قُولِ

د دوهـم ټولګي دوهـم شـرط: واؤ به د عين كلمې په مقابل كې وي،اختـرازيمثال:يَدْعُوْ

د دوهـم ټولګي دريـم شـرط: واؤ به په فعل مضارع كې نه وي،اختـرازيمثال:يَقْوُل

اتـفـاقــيمـثـال: د قَوُلَ او اَدْوُرٌ څخه د قَوُلَ او اَدْوُرٌ ويل جائز دي.

خلاصه دقانون داده چې كله واو مضمومه يا مكسوره دفاء كلمې مقابل كې راشي پدې شرط چې ماقبل يې بل واو نه وي نو دا واو په همزه سره بدلول جايز دى او كه واو مضموم دعين كلمې مقابل كې راغى او اسم هم وو بيا يې هم په همزه سره بدلول جايز دي

قوله هر واو مكسور يا مضموم كه واقع شود دراول كلمه شودومابعدش ديگر واو متحرک نباشد

په دي قانون كې يو حكم دى خو شرطونه يې په دوه ګروپونو تقسيم دي

حكم يې دادى چې كله واو مضموم يا مكسور دكلام په شروع كې راشي نو دا به په همزه سره بدليږي

Maktaba Tul Ishaat.com

نو واو مضموم ځکه په همزه سره بدليږي چي واو جوړ دی ددوه ضمو څخه او که ضمه هم پري راشي نو ثقل لازميږي او که واو مکسور وو نو دي کي اختلاف دی ابو عثمان مازني وايی چي بيا يی هم په همزه سره بدلولی شي خو جمهور علماء بيا وايی چي نه کسره په نسبت سره ضمي ته خفيفه ده نو دا موجب دثقل نه ګرځي (فوايد کريميه يو اويايمه ص)

دوهمه خبره داده چي واو دکلمي په مابين کي راشي نو که اسم وو بيا هم په همزي سره بدليږي دخفت له وجهي نه دلته دکلمي په مابين کي به واو مضمومه وي خو کلمه به اسم وي ځکه که فعل شي بيا نقل حرکت کيږي

خو که چيري واو مفتوحه دکلام شروع کي راغی نو په همزه سره نه بدليږي ځکه فتحه اخف الحرکات ده ثقل نه لازموي

اګر که اَحَدٌ. اَنَاةٌ. چي په اصل کي وَحَدٌ. وَنَاةٌ وو ابدال يی په همزه سره شوی دی ليکن دا شاذ دي او ابدال يی دکثرت له وجهي شوی دی (فوايد کريميه اويايمه ص)

قانون: هرباب مثال واوی از منع يمنع ياکه ماضی او نيافته شده باشد يافعل مضارع معلومش بر وزن يَفْعِلُ باشد يادر مضارع معلوم فاء کلمه را حذف کنند واز باب فَعِلَ يَفْعَلُ ودر باب وَسِعَ يَسَعُ وَطِئَ يطَئُ نيز

شـــــــــــپـــږمقـــــــــانـــــــــون

ديدې قانون نوم دی د يَعِدُ قانون،په دې کې قانون کې يو حکم او درې شرطونه دي.
حـــکـم: په مضارع معلوم کې د فاء کلمې حذف کول واجب دی.
اولشـرط: د مثال واوي باب به د مَنَعَ،يَمْنَعُ په وزن وي(ماضي او مضارع يې دواړه مفتوح العين وي)،اخترازيمثال:وَسُمَ،يَوْسُمُ
اتـفـاقـيمـثـال: د وَضَعَ،يَوْضَعُ څخه د وَضَعَ،يَضَعُ ويل واجب دي.
دوهـمشـرط: د مثال واوي به داسې باب وي چې د هغې ماضي قليل الاستعمال يا يې ماضي بېخې وي نه،اخترازيمثال:وَسُمَ،يَوْسُمُ
اتـفـاقـيمـثـال: د وَزِرَ ، يَوْزِرُ څخه د وَزِرَ ، يَزِرُ ويل واجب دي.
دريـمشـرط: د مثال واوي به داسې باب وي چې د هغې مضارع معلوم به په وزن د يَفْعِلُ

وي،اختر ازي مثال:وَسُمَ،يَوْسُمُ
اتـفـاقـي مـثـال: د وَعَدَ ، يَوْعِدُ څخه د وَعَدَ ، يَعِدُ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چي واو په داسي باب کي راشي چي باب په وزن د فَعَلَ يَفْعّلُ (منع يمنع) وي يا دباب د فَعَلَ يَفْعِلُ (ضَرَبَ يَضْرِبُ) وي يا داسي باب وي چي ماضي يې قليل الاستعمال وي نو په مضارع معلوم کي به يې فاء کلمه حذف کيږي

قوله يا فعل مضارع معلومش بر وزن يَفْعِلُ باشد

هرباب چي فعل مضارع يې مکسور العين وي نو واو به په فعل مضارع کي حذف کيږي دا ځکه چي کله واو دياء او کسري لازمي په مابين کي واقع شي نو واو به حذف کيږي

ځکه که حذف ونه شي خروج لازميږي د دکسري تقديري نه ضمي تقديري ته بيا دضمي تقديري نه کسري حقيقي ته او دا موجب دثقل وي نو ځکه به حذف دواو کيږي

(الخروج من الکسرة التقديرية الی الضمة الالتقديرية ومن الضمة التقديرية الی الکسرة الحقيقية)

دکسري تقديري نه ضمي تقديري بيا دضمي تقديري نه کسري حقيقي ته د خروج مقصد دادی چي مثلا (يَوْعِدُ) کي يا راغله او ياء جوړه ده ددوه کسرو څخه نو تقديرا کسره پکي شته وروسته ورڅخه واو راغلی دی واو جوړ دی د دوه ضمو څخه نو پده کي هم ضمه تقديرا راغله وروسته په عين کلمي (چي عين دی يفعل يوعد) کي کسره حقيقي راغلي ده نو که واو حذف نشي نو خروج اول دکسري تقديري نه (چي په ياء کي ده) ضمي تقديري ته (چي په واو کي ده) او بيا دضمي تقديري نه (چي په واو کي ده) کسري حقيقي ته (چي په عين کلمي باندي ده) لازميدلو او دا سبب دثقل وو نو ځکه واو حذف شو

همدارنګه په تَعِدُ کي اګر که واو د ياء مفتوحه او کسري لازمي په مابين ندی راغلی ليکن دلته حمل شو په يَعِدُ باندي ځکه دواړه ديو باب دي نو طردا للباب حذف وشو او که چيري حذف شوی نه وای بيا به فعل مضارع په بناء کي مختلفه شوي وای کله به وَعِدُ ويل کيده بل ځل به مضارع يَعِدُ ويل کيده نو ځکه دلته حمل د ما لاعلة فيه وشو په علی ماعلة فيه باندي تر څو ټول امثله مشاکلة يو شان شي لکه باب دِيُکْرِمُ کي هم حذف له وجهي د حمل د مالا

Maktaba Tul Ishaat.com

علة فيه (وهو سوى الواحد المتكلم) على ما علة فيه باندي (وهو الواحد المتكلم) (مراح يو سل پنځه ديرشمه ص)

خو داسي ونه شول چي يَعِدُ حمل شي په باقي باب باندي يعني اگر كه مناسبه داوه چي حمل دقليل په كثير وشي خو دلته داسي ونه شول ځكه چي غرض دلته له حذف نه تخفيف دى او تخفيف په حذف كي دى نه په ترک دحذف كي

همدارنگه په مَالِكِ يَوْمِ الِّدِّيْن كي هم حذف ونه شو ددوه وجهو نه اول داچي يَوْم اسم دى زمور خبره په فعل كيده دوهمه وجه داده چي زمور خبره په كسره لازمي كيده دلته په ميم باندي كسره عارضي ده(مراح يو سل اوه ديرشمه ص)

<u>قوله هرباب مثال واوى از منع يمنع</u>

يو شرط دادى چي كله مثال واوي دباب منع يمنع څخه راشي فعل مضارع معلوم كي به واو حذف كيږي دا ځكه چي دباب منع يمنع دخاصياتو څخه داهم ده چي عين او لام كلمه يى دحروف حلقيه وو څخه وي لكه يَضَعُ. يَهَبُ. يَسَعُ. يَقَعُ . او دا ټول په اصل كي يَوْهِبُ. يَوْضِعُ. يَوْسِعُ. يَوْقِعُ. وو واو حذف شو يَهِبُ. يَضِعُ. يَسِعُ. يَقِعُ شو وروسته كسره په فتحه سره بدله شوه دتخفيف له وجهي ځكه حروف حلقي ثقيل وو كسره هم پري ثقيله وه نو ثقيل على الثقيل او مايقارن الثقيل ثقيلٌ

نو په همدي بناء په يَوْجَلُ كي واو حذف نشو ځكه واو په مابين دياء مفتوحه او كسري لازمي كي ندى راغلى يا ځكه چي فتحه دعين كلمي يى اصلي ده او په يَهَبُ وغيره كي فتحه عارضي وه اصل كي مكسورالعين وو

خو صاحب دعلم الصيغه (علامه عنايت) بيا ديعد قانون او قاعده داسي بيانوي چي هر واو چي واقع شي دحرف مضارعت مفتوحه او كسري ترمنځ يا دحرف مضارعت مفتوحه او فتحه ترمنځ خو دا دوهم په هغه صورت كي چي عين او لام كلمه حرف حلق وي نو دابه حذف كيږي(علم الصيغه پنځه ديرشمه ص)

او دا دصاحب علم الصيغه طريقه بهترينه ده او اكثرو صرافو هم دغه طريقه غوره كړيده

قانون: دو واو متحركه كه جمع شوند در اول كلمه واو اولى را به همزه بدل كنند وجوبا

اووم قـــــــــــــانـــــــــــــــون

ديدې قانون نوم دى د اَوَاعِدُ او اُوَيْعِدُ قانون،په دې قانون كې يو حكم او يو شرط دى.
حـكـم: اول واؤ په همزه سره بدلول واجب دي.
شـرط: دوه واؤ متحركه به د كلمې په شروع كې وي،اختزازيمثال:وَلْوَلَ
اتـفـاقـيمـثـال: د وَوَاعِدُ او وُوَيْعِدُ څخه د اَوَاعِدُ او اُوَيْعِدُ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چې كله دوه واونه دكلمې په شروعذكې راشي نو اول واو به په همزه سره بدليږي

قوله دو واو متحركه كه جمع شوند در اول كلمه واو اولى را به همزه بدل كنند وجوبا

دا واو به له دوه وجهو نه په همزه سره بدليږي

اول: ځكه كله چې دوه واونه دكلام په شروع كې راشي او عرب اجتماع د متجانسينو په ابتداء دكلام كې مستكره ګڼي

دوهمه وجه : داده چې دلته اجتماع د واوينو په ابتداء دكلام كې راغلي او واو په نسبت سره نورو حروفو ته لا ډير اثقل دى

اول واو په همزه سره ځكه بدل شو كه چيرې دوهم بدل شوى واى نو په حالت دعطف كې بيا اجتماع د واوينو راتله .په حالت دعطف كې (زرادي دوه ديرشمه ص)

قانون: هر باب مثال واوى از باب عَلِمَ يَعْلَمُ كه غير محذوف الفاء باشد ودرمضارع معلوم او سوى اصل سه وجه خواندن جايز اند

Maktaba Tul Ishaat.com

اتـــــــــــم قـــــــــانـــــــــون

ديدې قانون نوم دی د يَاجَلُ،يَيْجَلُ او يِيْجَلُ قانون،په دې قانون کې يو حکم او دوه شرطونه دي.
حـکـم: په مضارع معلوم کې سِوا(پرته)له وزن اصلي څخه دري نورې وجهې هم جائز دي.
اول‌شـرط: د مثال واوي به داسې باب به د عَلِمَ،يَعْلَمُ په وزن وي،اختـرازي‌مثال:وَسُمَ،يَوْسُمُ
دوهـم‌شـرط: په مضارع معلوم کې به فاء کلمه حذف شوی نه وي،اختـرازي‌مثال:وَسِعَ يَسَعُ
اتـفـاقـي‌مـثـال: د وَجِلَ ، يَوْجَلُ څخه د يَاجَلُ ، يَيْجَلُ او يِيْجَلُ ويل جائز دي.

خلاصه دقانون داده چې هر واو چې حذف شوی نه وي دباب عَلِمَ يَعْلَمُ څخه دفاء کلمې په مقابل کې راشي نو فعل مضارع کې يې دوزن اصلي نه علاوه دری نوري وجهې ويل جايز دي

قانون: هرياء ساكنه مظهر غير واقع مقابله فاء كلمه باب افتعال ماقبل مضموم ان را بواو بدل كنند وجوبا بشرطيكه در جمع افعل فعلاء صفتي وفعلى صفتي نباشدرا اگر باشد ضمه ماقبل راباشد به كسره بدل كنند وجوبا

نـــــــــــهـــــم قـــــــــانـــــــــون

ديدې قانون نوم دی د يُوْسَرُ قانون،په دې قانون کې دوه حکمونه،د اول حکم لپاره اووه(۷) شرطونه او د دوهم حکم لپاره دري شرطونه دي.
اول‌حـکـم: ياء په واؤ سره بدلول واجب دي.
اول‌شـرط:ياء به ساكن وي،اختـرازي‌مثال:يُسْرٌ دوهـم‌شـرط:ياء به مظهر وي،اختـرازي‌مثال :بُيِّعَ
دريـم‌شـرط: ياء به د باب اِفْتِعَال د فاء کلمې په مقابل کې نه وي،اختـرازي‌مثال:أُيْتُسِرَ
څـلـورم‌شـرط: د ياء ما قبل به مضموم وي،اختـرازي‌مثال:بَيْعٌ
پـنـځـم‌شـرط: ياء به د اَفْعَلُ او فُعَلَاءُ صفتي په جمع کې نه وي،اختـرازي‌مثال:بُيْضٌ
شـپـږم‌شـرط: ياء به په فُعْلى صفتي کې نه وي،اختـرازي‌مثال:حُيْكى
اووم‌شـرط: ياء به د اسم مفعول،د ثلاثي مجرد څخه اجوف يايي نه وي،اختـرازي‌مثال:مَبْيُوْعٌ

اتـفـاقـيمـثـال: د يُيْسَرُ څخه د يُوْسَرُ ويل واجب دي.
دوهمحـكـم: د ياء ما قبل ضمه په كسره سره بدلول واجب دي.
اولشـرط: ياء به د اَفْعَلُ او فُعَلَاءُ صفتي په جمع كې وي،اختزازيمثال:يُوْسَرُ
اتـفـاقـيمـثـال: د بُيْضٌ څخه د بِيْضٌ ويل واجب دي.
دوهمشـرط: ياء به په فُعْلى صفتي كې وي،اختزازيمثال:يُوْسَرُ
اتـفـاقـيمـثـال: د حُيْكى څخه د حِيْكى ويل واجب دي.
دريـمشـرط: ياء به داسم مفعول،د ثلاثي مجرد څخه په اجوف يايي كې وي،اختزازيمثال: يُوْسَرُ
اتـفـاقـيمـثـال: د مَبْيُوْعٌ څخه د مَبِيْعٌ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چي كله ياء ساكنه مظهره پدي شرط چي دباب افتعال دفاء كلمي مقابل كي نه وي همدارنګه دَاَفْعَلُ فُعْلَى صفتي په جمع كي نه وي او پخپله فعلى صفتي كي نه وي او اسم مفعول ثلاثي مجرد اجوف يايى كي نه وي نو دا به په واو سره بدليږي پدي شرط چي ماقبل به يى مضموم وي

او كه چيري واو په اَفْعَلُ. فُعْلَى صفتي جمع كي راغى يا فُعْلَى صفتي كي وو يا اسو مفعول ثلاثي مجرد اجوف يايى كي راغى نو دواو ماقبل ضمه به په كسره سره بدليږي

قوله هرياء ساكنه مظهر غير واقع مقابله فاء كلمه باب افتعال ماقبل مضموم ان را بواو بدل كنند وجوبا الخ

په دغه عبارت سره اول حكم ته اشاره شويده ده نو كله چې ياء راغله اوپورتني نهه شرطونه پكي موجود وو نو دا ياء به په واو سره بدليږي ځكه حرف علة ساكن ماقبل مضموم هيڅ مانع هم نشته نو په واو سره بدل شو (لكه يُوْسِرُ. او يُوْسَرُ) اګر كه اصل خو دا قاعده ورته متوجه وه چي واو دياء او كسري په مابين كي واقع شي نو حذف كيږي خو دلته حذف ونه شو ځكه بيا بيخ كندي (احجاف) دكلمي لازميږي

ياځكه په يُوسِرُ كي حذف ونه شو چي دوه ځله حذف لازميدلو اول يُوْسِرُ په اصل كي يُاَيْسِرُ وو دوهم كه واو هم حذف شي نو دوه ځله حذف لازميدلو (زنجاني شپيتمه ص اوله حاشيه)

قوله بشرطيكه در جمع افعل فعلاء صفتي وفعلى صفتي نباشدرا اگر باشد ضمه ماقبل راباشد به كسره بدل كنند وجوبا

Maktaba Tul Ishaat.com

پدي عبارت سره دوهم حکم ته اشاره شويده که چيري ياء ساکنه د دافعل فعلی صفتي په جمع کي وه يا په فعلی صفتي کي وه يا اسم مفعول ثلاثي مجرد اجوف يايی کي وو يعني دپورته شرايطو څخه ټول پکي منتفي وو يا دری اخيرني پکي منتفي وو نو دياء ماقبل ضمه به په کسره بدليږي

دا ځکه چي فرق حاصل شي د فعلی اسمي او فعلی صفتي ترمنځ په فعلی اسمي کي لکه طُيْبی دی طُوْبَی ويل کيږي او په فعلی صفتي کي حُيْکَی دی حِيْکَی ويل کيږي

(علم الصيغه څلويښتمه ص اتلسمه حاشيه)

(دڅو فايدو بيان)

اوله فايده:

دَاَفْعَلُ وزن په څلور قسمه دی

اول: افعل اسمي حقيقي دوهم: افعل اسمي حکمي دريم: افعل تفضيلي څلورم: افعل صفتي

اول افعل اسمي حقيقي: دا هغه افعل ده چي ديو چا لپاره نوم وی لکه ابجل

دوهم افعل اسمي حکمي: هغه افعل ده چي اصلا صفت وي خو اسميت ورباندي غلبه کړي وي لکه اَطْيَبُ. اَکْبَسُ

دريم: افعل تفضيلي: هغه افعل ده چي په معنی مصدري کي يی زيادت دغير له وجهي راغلی وي بنفسه پکي زيادت نه وي لکه اَضْرَبُ

څلورم افعل صفتي: دا هغه افعل ده چي دصفت په معنی سره راغلي وي لکه اَحْمَرُ

(دافعل تفضيلي او صفتي ترمنځ فرق)

ددواړو ترمنځ دری اساسي فرقونه دي

اول فرق: افعل تفضيلي مونث په وزن د فُعْلَی راځي جمع مذکر يی اَفَاعِلُ راځي او جمع مونث يی فُعَلٌ راځي او دافعل صفتي مونث فُعْلَاءُ راځي او جمع مذکر او مونث دواړه يی د فُعُلٌ په وزن سره راځي

دوهم فرق: افعل تفضيلي په دريو طريقو استعماليږي

اول په الاف لام سره دوهم په اضافت سره دريم په مِنْ سره

او افعل صفتي ددي نه ماسوى راځي

دريم فرق: افعل صفتي ددايمي صفت دبيان لپاره راځي او افعل تفضيلي بيا د دايمي صفت دبيان لپاره نه راځي

دوهمه فايده:

د فُعْلَى وزن په څلور قسمه دى

اول: فعلى حقيقي دوهم: فعلى حكمي دريم: فعلى تفضيلي څلورم: فعلى صفتي

اول : فعلى حقيقي: دا هغه فعلى ده چي ديو چا لپاره نوم وى لكه طُوْبَى

دوهم: فعلى حكمي: هغه فعلى ده چي اصلا صفت وي خو اسميت ورباندي غلبه كړي وي لكه طُيْبَى

دريم: فعلى تفضيلي: هغه فعلى ده چي په معنى مصدري كي يى زيادت دغير له وجهي راغلى وي بنفسه پكي زيادت نه وي لكه ضُرْبَى

څلورم فعلى صفتي: دا هغه فعلى ده چي دصفت په معنى سره راغلي وي لكه حُيْكَى

(د فعلى تفضيلي او صفتي ترمنځ فرق)

ددواړو ترمنځ دوه اساسي فرقونه دي

اول فرق: فعلى تفضيلي په دريو طريقو استعماليږي

اول په الاف لام سره دوهم په اضافت سره دريم په مِنْ سره

او فعلى صفتي ددي نه ماسوى راځي

دوهم فرق: فعلى صفتي ددايمي صفت دبيان لپاره راځي او فعلى تفضيلي بيا د دايمي صفت دبيان لپاره نه راځي (اظهار الصرف شرحه ارشادالصرف يوسل پنځوسمه ص)

Maktaba Tul Ishaat.com

قانون: هر واو ویایی متحرک بحرکت لازمي ماقبل مفتوح باشد از ان یک کلمه بالف مبدل میشود وجوبا بشرطیکه ان واو وياء مقابله فاء کلمه وعین کلمه ناقص ودرحکم عین کلمه ناقص نه باشد ومابعدش مده زایده که لازم بود تحقق وسکون او وحرف تثنیه وجمع والف جمع مونث سالم ویایی نسبت ونون تاکید نه باشد وآن کلمه بروزن فَعَلانٌ .وفَعَلَی وبمعنی آن کلمه نباشد درآن تعلیل نیست نباشد

اول قـــــــانـــــــــون

دیدي قانون نوم دی د قَالَ او بَاعَ قانون،په دې قانون کې یو حکم او اتلس(۱۸)شرطونه دي.
حـکـم: واؤ او یاء په الف سره بدلول واجب دي.
اولشـرط: واؤ او یاء به متحرک وي،اختـرازيمثال:قَوْلٌ،بَيْعٌ
دوهـمشـرط: د واؤ او یاء حرکت به لازمي وي،اختـرازيمثال:لَواسْتَطَعْنَا
دریـمشـرط: د واؤ او یاء ما قبل به مفتوح وي،اختـرازيمثال:قُولَ،بُيِعَ
څـلـورمشـرط: د واؤ او یاء ما قبل مفتوح به په یوه کلمه کې وي،اختـرازيمثال:فَوَعَدَسَيَقُوْلُ
پـنـځـمشـرط: واؤ او یاء به د فاء کلمې په مقابل کې نه وي،اختـرازيمثال:تَوَاعَدَ،تَيَسَّرَ
شپږمشرط: واؤ او یاء به د لفیف مقرون د عین کلمې په مقابل کې نه وي،اختـرازيمثال:قَوِيَ، حَيْيِيَ
اووم‌شـرط:واؤ او یاء به د ناقص حکمي د عین کلمې په مقابل کې نه وي،اختـرازيمثال:اِرْعَوَوَ، اِرْمَيَيَ
اتـمشـرط: د واؤ او یاء څخه به وروسته مدّه زائده لازمي نه وي،اختـرازيمثال:سَوَادٌ،بَيَاضٌ
نـهـمشـرط: د واؤ او یاء څخه به وروسته الف د تثنیه نه وي،اختـرازيمثال:دَعَوَا،رَمَيَا
لـسـمشـرط:د واؤاویاء څخه به وروستهالف د جمعيمؤنثي سالمينه وي،اختـرازيمثال: عَصَوَاتٌ،رَمَيَاتٌ
یـوولـسـمشـرط: د واؤ او یاء څخه به وروسته یائ نسبتیه نه وي،اختـرازيمثال:عَفَوِيٌّ، رَحَيِيٌّ
دولـسـمشـرط:د واؤاویاءڅخه به وروسته نونتأکید ثقیلهاوخفیفه نه وي،اختـرازيمثال:اِرْعَوَنَّ،اِحْشَيَنَّ او اِرْعَوَنْ،اِحْشَيَنْ
دیارلـسـمشـرط: د واؤ او یاء کلمه به په وزن د فَعَلَانٌ نه وي،اختـرازيمثال:عَصَوَانٌ،حَيَوَان
څـوارلـسـمشـرط: د واؤ او یاء کلمه به په وزن د فَعَلی نه وي،اختـرازيمثال:صَوَرا،حَيَدا
پـنـځـلـسـمشـرط:واؤاویاء به دداسې کلمې‌هم‌معنی نه وي چې په‌هغې کې‌تعلیل نه وي شوی ،اختـرازيمثال:عَوِرَ،عَيِنَ

شپارلسمشرط:واؤاوياء بهد ملحقيكلمې د عينكلمې په مقابلكې
نهوي،اختزازيمثال:قَوَلْوْلٌ، بَيَعُوْعٌ
اووهلسمشرط: په حرف صحيح سره بدل شوی واؤ او ياء به د عين كلمې په مقابل كې نه وي،اختزازيمثال: شَيَرٌ چې په اصل كې شَجَرٌ و.
اتلسمشرط:واؤاوياء به د فعل غيرمتصرف د عين كلمې په مقابل كې نه وي، اختزازيمثال: قَوُلَ،بَيُعَ
اتفاقيمثال: د قَوَلَ او بَيَعَ څخه د قَالَ او بَاعَ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چې كله واو او ياء متحركه راشي او پورته اتلس شرطونه پكې موجود وي نو واو او ياء به په الف سره بدليږي لكه قَالَ. بَاعَ ....

<u>هر واو ويايي متحرک بحرکت لازمي ماقبل مفتوح باشد از ان يک کلمه بالف مبدل ميشود وجوبا</u>

اول به ددې قانون حكم بيان كړو بيا به دقانون قيوداتو څخه ناڅه وجهې بيان كړو

كله چې واو متحركه ټول شرايط پكې موجود وي راشي نو په الف سره به بدليږي

ځكه چې واو او ياء په اصل كې جوړ دي ددوه ضمو او كسرو څخه نو دوه حركتين دا شول ماقبل او مابعد دواو او ياء هم متحرک دي نو اجتماع داربعه حركاتو متواليانو راغله او دا موجب دثقل وي

دوهمه وجه يا اجتماع دبعضي حرف علتو له بعضو سره راځي (چې واو او ياء دي له حركتينو سره ځكه دا هم حرف علت دي) (فوايد كريميه پنځه اويا يمه صفحه)

(دقال باع قانون په اجراء كې دوه مذهبه دي)

دقال باع قانون په اجراء كولو كې دوه مذهبه دي يو مذهب د ابن جني دى دوهم مذهب د اكثره نحاتو دى

اول مذهب ابن جني: ابن جني وايى چې كله واو او ياء په الف سره بدليږي اول به ساكن كيږي بيابه په الف سره بدليږي ځكه چې حرف علة ضعيف دى حركت وربانديې موجب دثقل ګرځي نو دخفت له وجهې واو او ياء به لاولا ساكن شي وروسته به په الف سره بدليدل دوجه د استدعاء دفتحي نه وي ځكه فتحه تقاضى كوي چې په الف سره دي بدل شي

Maktaba Tul Ishaat.com

دوهم مذهب داکثره نحاتو دی : اکثره نحات وایی چي کله واو او یاء متحرک راشي مستقیما او ابتدأ به په الف سره بدلیږي ځکه په دي ډول اعلال کي تساهل دی لکه قطع د مسافي او داسي نور.(مراح یوسل څلویښتمه ص)

قوله هرواو ویا متحرک بحرکت لازمي ماقبل مفتوح باشد از آن یک کلمه

په دغه عبارت سره څلورو شرطونو ته اشاره شویده

اول شرط دادی چي واو او یا به متحرک وي ځکه اصل مقصود د اعلال نه خفت راوستل دي نو کله چي واو او یاء ساکن وي نو کلمه کي ابتدأ شته

دوهم شرط: داوو چي دواو او یاء حرکت به لازمي وي عارضي به نه وي ځکه عارضي حرکت خو هغه حرکت دی چي یاحاصل بالنقل وي لکه جَيَلٌ چي اصل کي جَيْئَلٌ وو یا دالتقاء الساکنین له وجهي وي لکه دَعَوُ اللهَ او دا ټول په حکم دسکون کي دي نو خفت ابتدأ شته

دریم شرط دا وو چي ماقبل به یی مفتوح وي ځکه که مضموم مکسور وو بیا خو په واو او یاء سره بدلیږي

څلورم شرط دا وو چي واو او یاء به په یوه کلمه کي وي ځکه که په جدا کلمو کي بیا خو دیوي کلمي بلي کلمي سره ربط نشته نو ثقل هم نشته

قوله بشرطیکه ان واو ویاء مقابله فاء کلمه وعین کلمه ناقص ودرحکم عین کلمه ناقص نه باشد

پدغه عبارت سره دویو شرطونو ته اشاره شویده

اول شرط: واو او یاء به دفاء کلمي مقابل کي نه وي ځکه اول خوسالم پاتي کیږي یا که په الف سره بدل هم شي ابتدا بالساکن راځي خو دغیر مجردو څخه لکه تَوَسَّطَ نو دلته په الف سره نه بدلیږي ځکه مجرد یی وَسَطَ دی مجردو کي سالم پاتي دی ری

دوهم شرط: دادی چي واو او یابه دناقصو دعین کلمي مقابل کي نه وي که دناقصو دعین کلمي مقابل کي شي نو دیته لفیف مقرون وایی او لفیف مقرون کي اعلال ممتنع دی ځکه لام کلمه کي یی اعلال شوی دی که عین کلمه کي هم اعلال وشي اتصال الاعلالین لازمیږي ځکه لام کلمه کي هم تغیر راځي خو عکس یی ونه کړو چي اعلال د په عین کلمه کي وشي لام کلمه کي دونه شي ځکه لام کلمه محل د تغیر ده (مراح یوسل څلور څلویښت ص)

يا كه چيري عين كلمي كي هم اعلال وشي نو احجاف دكلمي لازميږي او اجتماع داعلالينو په يوه كلمه كي ممتنع مستكره ده

دريم شرط: او بل ديته اشاره شويده چي واو او ياءبه ناقصو حكمي دعين كلمي مقابل كي نه وي حكما له دوه وجهو پكي اعلال نه كيږي

اوله وجه: داده چي تعليل يوه نوعه دتغير ده او تغير په لام كلمه كي راځي نه عين كلمي كي

دوهمه وجه داده چي لام كلمه خو محل دتغير دى نو كه عين كلمه كي هم اعلال وكړي نو دلته اتصال الاعلالين راځي او دا ممنوع دي

(حقيقة او حكما عين كلمه)

په قانون كي دا وويل شول چي واو او ياء به دناقصو په عين كلمي ياپه حكم دعين كلمي كي نه وي

حقيقة عين كلمه: دناقصو څخه هغه ده چي دعين كلمي مقابل كي واو او ياء راغلي وي لكه قَوِوَ حَيِيَ

حكما عين كلمه: دناقصو څخه ديته وايى چي عين كلمه خو نه وى مګر متصل ددغي كلمي نه لام كلمه راغلي وي لكه اِرْعَوَوَ چي په وزن د اِفْعَلَلَ دى اول لام زايد دى خو قريب دى لام كلمي ته نو اګر كه عين كلمه نده ليكن لام كليمي ته دقرب له وجهي داسي ده لكه عين كلمه (ارشاد الصرف اوه شپيتمه ص دريمه ح)

تنبيه: صاحب ارشاد الصرف حكما عين كلمه ذكر كړيده

اما تشريح كي بيا داسي راغلي دي چي واو او يابه دناقص حكمي عين كلمي مقابل كي نه وي نو د دواړو خبرو مقصد يو دى صرف مخكي والى وروسته والى شوى دى

دناقص حكمي عين كلمي هم همدا مقصد دى چي دناقصو په حكما عين كلمي كي به واو او ياء وي (ددفع د توهم له وجهي دا قيد ضرور وو لكه څرنګه چي بعضي طلاب پدي كي توهم كوي عبيد.گلشاخيل)

قوله ومابعدش مده زايده كه لازم بود تحقق وسكون او وحرف تثنيه وجمع والف جمع مونث سالم ويايي نسبت ونون تاكيد نه باشد

Maktaba Tul Ishaat.com

پدي عبارت سره هم شپږو شرطونو ته اشاره شويده ده

اول شرط: دادی چي واو او ياء نه وروسته به مده زايده نه وي داسي ماده زايده چي سکون يی لازمي وي ځکه بيا که اعلال وشي التقاء الساکنين راځي

دوهم شرط: دا دی چي ورورسته دواو اويا نه به حرف دتثنيی نه وي يعني الف او ياء دتثنيی علامه ځکه دا دواړه ساکنين دي که واو او ياء هم الف سره بدل شي التقاء الساکنين راځي

دريم شرط: دا دی چي ورورسته دواو اويا نه به حرف دجمع نه وي يعني واو او ياء دجمعی علامه ځکه دا دواړه ساکنين دي که واو او ياء هم الف سره بدل شي التقاء الساکنين راځي

څلورم شرط: دا دی چي ورورسته دواو اويا نه به الف دجمع مونث سالم نه وي ځکه دا الف هم ساکن دی که واو او ياء هم الف سره بدل شي التقاء الساکنين راځيدی

پنځم شرط: دا دی چي ورورسته دواو اويا نه به ياء نسبتيه مشدده نه وي ځکه دا ياء مشدده خپله يوه پکي ساکنه وي که واو او ياء هم الف سره بدل شي التقاء الساکنين راځي

شپږم شرط: دا دی چي ورورسته دواو اويا نه به نون تاکيد نه وي ځکه نونات دا دواړه ساکنين دي که واو او ياء هم الف سره بدل شي التقاء الساکنين راځي

قوله وآن کلمه بروزن فَعَلانٌ .وفَعَلَی وبمعنی آن کلمه نباشد درآن تعليل نيست نباشد

پدي عبارت سره هم دريو شرطونو ته اشاره شويده

اول شرط دا وو چي واو او يابه په داسي کلمه کي نه وي چي هغه کلمه د فَعَلَانٍ په وزن نه وي لکه حَيَوَانٌ دلته پريښودل شو ترڅو په حرکت او اضطراب دلالت وکړي ځکه تحرک دلفظ دلالت کوي په تحرک دمعنی باندي او مَوَتَانٌ کي اګر که په معنی کي يی تحرک نشته ليکن حملاً علی نقيضه

دوهم شرط: دادی چي واو او ياء به په هغه کلمه کي نه وي چي دفَعَلَی په وزن سره راغلي وي ځکه که اعلال وکړل شي بيا التباس راځي دباب مفاعله دناقصو دماضي صيغي سره

دريم شرط: دادی چي واو او يابه په داسي کلمه کي نه وي چي په اصل کي به سالم پتي شوي وي يعني تعليل نه قبلوي لکه عَوِرَ ځکه دا عَوِرَ په معنی د اَعْوَرَ سره دی او اَعْوَرَ کي اعلال ممتنع وي نو هر هغه شی چي په معنی داَعْوَرَ وي هغي کي به هم ممتنع وي

يو دوه شرطونه چي صاحب ارشاد الصرف ندي ذکر کړی داهم دي

اول شرط: واو او ياء به په عين کلمي دملحقاتو کي نه وي ځکه که ملحقاتو کي واو او ياء راغلي وو او اعلال وکړي نو بيا الحاق باطليږي

دوهم شرط: دا هم دی چي په حرف علت سره بدل شوی واو او ياء به دعين کلمي مقابل کي نه وي لکه شَيَرٌ چي په اصل کي شَجَرٌ ووَ

تنبيه: ::

دقانون دطوالت او په ذهن کي دښه کينولو له وجهي مورِ شرايط په اول دهم دريم نمبر دهرقيد سره ذکر کړل اصل کي ټول هماغه اتلس شرطونه دي

فـــــــــــــــائـــــــــــــــدهوو

التقاء ساکنين په دوه قسمه دی:۱:التقاء ساکنين على حدهِ ۲:التقاء ساکنين على غير حدهِ
د التقاء ساکنين على حدهِ تعريف:هغه ته وايي چې په هغه کي اول ساکن مدّه يا يائ تصغير،دوهم ساکن مدغم او په يوه کلمه کې وي،لکه؛اِحْمَارَّ،أُحْمُوْرَّ او حُوَيْصَّةٌ
د التقاء ساکنين على غير حدهِ تعريف: هغه ته وايي چې د التقاء ساکنين على حده څخه علاوه وي(د التقاء ساکنين على حده ، يو شرط پکې نه وي)،لکه؛قَالْن

ـَ

خو صاحب دارشاد الصرف چي دعلى حده او غير حده کوم تعريف ته اشاره کړيده دا دبعضو نحاتو رأيه ده

ځکه دالتقاء الساکنين على حده او غير حده کي دوه مذهبه دي

اول مذهب جمهور نحاة دوهم مذهب بعضى نحاتو

جمهور نحات وايى التقاء الساکنين على حده ديته وايى چي لمړى ساکن مده يا غير مده دوهم ساکن مدغم عام له دي نه که په يوه کلمه کي وي يا په جدا جدا کلمو کي وي

بعضي نحات وايى: التقاء الساکنين على حده ديته وايى چي لمړى ساکن مده ياغير مده خو دوهم ساکن مدغم يا ياء تصغير په يوه کلمه کي وي يعني شرط يى دادى چي په يوه کلمه کي به وي

Maktaba Tul Ishaat.com

قانون: وحكم على حده خواندن ساكنين است مطلقاوحكم على غير حده خواندن ساكنين است درحالت وقف ونه خواندن ساكنين است درحالت غير وقف اگر ساكن اول مده يا نون خفيفه باشد حذف كرده ميشود واگر ساكن اول مده يا نون خفيفه نباشد حركت داده ميشود ساكنى كه دراخر كلمه است واگر ساكن اول مده يانون خفيفه نه باشد حركت داده شود ساكنى كه در اخر كلمه است واگر دراخر كلمه نبود اول را كسره درتحريک اصل است وغير او بسبب عارضه

دوهـــــــم قـــــــــــانـــــــــون

ديدې قانون نوم دى د التقا ءساكنين قانون،پدې قانون کې پنځه حكمونه،د اول حكم لپاره يوشرط،د دوهم حكم لپاره دوهشرطونه،د دريم حكم لپاره دريې شرطونه اودځلورم اوپنځم حكمونو لپاره څلور، څلور شرطونه دي.

اولحـكـم: مطلقًا التقاء ساكنين په خپل حال ثابت پريښودل واجب دي.

شـرط: التقا ساكنين به على حده وي،اختر ازي مثال:قَالْنَ

اتـفـاقـي مـثـال: د اِحْمَارَّ،اُحْمُوْرَّ او حُوَيْصَّةٌ څخه د اِحْمَارَّ،اُحْمُوْرَّ او حُوَيْصَّةٌ ويل واجب دي.

دوهـمحـكـم: التقاء ساكنين په خپل حال ثابت پريښودل واجب دي.

اولشـرط: التقاء ساكنين به على غير حده وي،اختر ازي مثال:اِحْمَارَّ،اُحْمُوْرَّ

دوهـمشـرط: التقاء ساكنين به د وقف په حال کې وي،اختر ازي مثال:قَالْنَ

اتـفـاقـي مـثـال: د اَلرَّحُيْمُ څخه د اَلرَّحُيْم ويل واجب دي.

دريـمحـكـم: د اول ساكن حذف كول واجب دي.

اولشـرط: التقاء ساكنين به على غير حده وي،اختر ازي مثال:اِحْمَارَّ،اُحْمُوْرَّ

دوهـمشـرط: التقاء ساكنين به د وقف په حال کې نه وي،اختر ازي مثال:اَلرَّحِيْم

دريـمشـرط: اول ساكن به مدّه يا نون خفيفه وي،اختر ازي مثال:يَحِصِّمُ

اتـفـاقـي مـثـال: د قَالْنَ او لَاتُهِيْنَنْ اَلْفَقِيْرَ څخه د قَلْنَ او لَاتُهِيْنْ الْفَقِيْرَ ويل واجب دي.

څـلـورمحـكـم: اول ساكن ته حركت ور كول واجب دى.

اولشـرط: التقاء ساكنين به على غير حده وي،اختر ازي مثال:اِحْمَارَّ،اُحْمُوْرّ

دوهـمشـرط: التقاء ساكنين به د وقف په حال کې نه وي،اختر ازي مثال:اَلرَّحِيْم

دريـمشـرط: اول ساكن به مدّه يا نون خفيفه نه وي،اختر ازيمثال:قَالْنَ
څـلـورمشـرط: د كلمې په آخر به كوم حرف ساكن وي،اختر ازيمثال:يَحِصِّمُ
اتـفـاقـيمـثـال: د لَوْاِسْتَطَعْنَا څخه د لَوِاسْتَطَعْنَا ويل واجب دي.
پـنـځـمحـكـم: اول ساكن ته حركت د كسره ور كو واجب دي.
اولشـرط: التقاء ساكنين به على غير حده وي،اختر ازيمثال:اِحْمَارَّ،اُحْمُوْر
دوهـمشـرط: التقاء ساكنين به د وقف په حال كې نه وي،اختر ازيمثال:اَلرَّحِيْم
دريـمشـرط: اول ساكن به مدّه يا نون خفيفه نه وي،اختر ازيمثال:قَالْنَ
څـلـورمشـرط: د كلمې په آخر كې به كوم حرف ساكن نه وي،اختر ازيمثال:لَوِاسْتَطَعْنَا
اتـفـاقـيمـثـال: د يَحْتَصِمُ څخه د يَحِصِّمُ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چي التقاء الساكنين په دوه قسمه ده على حده او على غير حده

<u>قوله وحكم على حده خواندن ساكنين است مطلقا</u>

دالتقاء الساكنين حكم دادى چي په خپل حال به پريښودل كيږي ځكه چي دفعتا تحرك اللسان پري راتللى شي بيغير دكوم تكليف نه

ياځكه يى پريښودل جايز دي چي التقاء الساكنين كي ثقل له خپل حد نه تجاوز ندى كړى نو په خپل حال به پريښودل شي

خو كماتقدم په التقاء الساكنين كي دوه مذهبه دي يو مذهب د جمهورو نحاتو دوهم مذهب دبعضو جمهور علماء وحدت دكلمي دالتقاء الساكنين لپاره شرط نه بولي خو دومره وايى كه چيري التقاء الساكنين على حده په يوه كلمه كي وه نو په خپل حال به پريښودل شي او كه په دوه كلمو كي وه نو بيابه گورو چي مده ده كه غير مده كه مده وه نو حذف كيږي به اگر كه التقاء الساكنين على حده ده بيا به هم لمړى ساكن حذف كيږي لكه اُنْصُرُنَّ چي په اصل كي اُنْصُرُوْنَّ وو واو حذف شو

او كه غير مده وي بيا به نه حذف كيږي بلكي حركت به وركول كيږي لكه لِيَدْعُوَنَّ دا مذهب د جمهورو دى

اما په اِضْرِبَانِّ كي اگر كه مده هم دى دوى وايى بيا هم حذف ندى شوى لپاره ددفع دالتباس دمفرد اِضْرِبَنَّ سره

Maktaba Tul Ishaat.com

اما بعضي بيا التقاء الساكنين لپاره وحدت شرط بولي

دصاحب ارشاد الصرف دمصنف له تعريف نه دالتقاء الساكنين على حده په تعريف كي درى خبري رامعلوميږي اوله خبره لمړى ساكن به مده وي دوهمه خبره اول ساكن به يا ياء تصغير وي دريمه خبره دوهم ساكن به مدغم په يوه كلمه كي دبعضو نحاتو په تعريف كي مده راغلي ده دلته يو قيد دياء تصغير هم زايد شوى دى محشي دا خبره كوي چي دلته ياء تصغير هم دبعضو مداتو سره مشابه وه نو ځكه يى داهم ورسره ذكر كړله

وحكم على غير حده خواندن ساكنين است درحالت وقف

په دي عبارت سره دوهم حكم ته اشاره شويده چي كله التقاء الساكنين على غير حده راغله نو دوقف په حالت كي به دا په خپل پريښودل كيږي

قوله ونه خواندن ساكنين است درحالت غير وقف اگر ساكن اول مده يا نون خفيفه باشد حذف كرده ميشود

يعني كله چي التقاء الساكنين على غير حده راغله لمړى ساكن مده يا نون خفيفه راغلى وو او دوقف په حالت كي هم نه وه نو لمړى ساكن به حذف كيږي

ځكه چي اول ساكن دمابعد كلمي سره دوصل لپاره مانع ګرځيدلى دى چي وصل دنطق پري وشي

قوله واگر ساكن اول مده يا نون خفيفه نباشد حركت داده ميشود ساكنى كه دراخر كلمه است

پدي عبارت سره څلورم حكم ته اشاره شويده يعني كله چي التقاء الساكنين راشي لمړى ساكن مده او نون خفيفه نه وو او دكلمي په اخر كي حرف هم ساكن وو نو لمړى ساكن ته به مطلقا حركت وركول كيږي ځكه مطلوب دحركت وركولو نه خفت دى او دلته خفت حاصليږي

قوله واگر ساكن اول مده يانون خفيفه نه باشد حركت داده شود ساكنى كه در اخر كلمه است واگر دراخر كلمه نبود اول را كسره درتحريک اصل است وغير او بسبب عارضه

دا پنځم حكم دى يعنى كله چي التقاء الساكنين راشي لمړى ساكن مده يا نون خفيفه نه وو نو لمړى ساكن ته به حركت كسره وركول كيږي كه چيري دكلمي اخر حرف ساكن نه وو

لمړي ساکن ته به حرکت ځکه ورکول کيږي که چيري ورنکړل شي نو اول ساکن بيا مانع ګرځي دوصل دنطق نه ددوهمي کلمي سره او سره ځکه مختاره شوه چي الساکن اذا حرک حرک بالکسر الا لعارض

(دوه ساکنينو کي اول ته کسره ورکول ولي اولی دي)

کله چي دوه ساکنينو کي اول ساکن ته حرکت ورکول کيږي نو راجحه او اولی داده چي کسره ورکړل شي خو دکوم عارض له وجهي بيا فتحه او ضمه هم ورکول کيږي

کسره ولي راجحه ده:

شيخ رضي وايی چي دوه ساکنينو کي اول ساکن ته کسره ورکول ځکه اولی دي چي لمړی ساکن په اخر دکلمي کي واقع کيږي لکه اِذْهَبْ دی اِذْهَبِ الدَّابَّةَ نو کله چي لمړی ساکن اخر دکلمي کي واقع کيدلو نو اخر کي بايد ساکن ته داسي حرکت ورکول شي چي هغه د حرکت اعرابيه سره ملتبس نه وي او دا صرف په کسره کي متحقق کيږي ځکه کسره اعرابيه کي دری اوصاف دي اول کسره اعرابيه مع التنوين وي دوهم کسره اعرابيه مع الالف وللام وي دريم داچي کسره اعرابيه مع الاضافت وي او هغه کسره چي لپاره د رفع د التقاء الساکنين وي هغه ددي دريو اوصافو څخه خالي وي نو دکسري اعرابيه سره يی هم التباس نه راځي اما ضمي او فتحي کي بيا دا دری اوصاف نشته چي په ډير اسانی سره التباس راځي (زرادي اته پنځوسمه ص)

قانون: هر واو غير مکسور که در ماضی معلوم ثلاثي مجرد اجوف الفو شده و بيفتد فاء کلمه اورا ضمه می دهند وجوبا

دريـــــــــمقـــــــــانـــــــــــون

ديدي قانون نوم دی د قُلْنَ،طُلْنَ قانون،په دي قانون کي يو حکم او پنځه شرطونه دي.
حـکـم: په ماضي معلوم کي فاء کلمي ته حرکت ضمه ور کول واجب دي.
اولشـرط: واؤ به غير مکسوره وي،اختزازيمثال:خَوِفَ
دوهمشـرط: واؤ به په ماضي معلوم کي وي،اختزازيمثال:يَقُوْلُ
دريمشـرط: واؤ به په ثلاثي مجردو کي وي،اختزازيمثال:اَقْوَمْنَ
څلـورمشـرط: واؤ به په اجوفو کي وي،اختزازيمثال:دَعَوْتُ

Maktaba Tul Ishaat.com

پـنـځـمشـرط: واؤ به الف شوی وي او بيابهغورځيدلی وي،اختـرازيمثال:قَالَ،بَاعَ
اتـفـاقـيمـثـال: د قَوَلْنَ څخه د قَالْن ، د قَالْنَ څخه د قَلْنَ او د قَلْنَ څخه د قُلْنَ او همدرانګه د طَوَلْنَ څخه د طَالْنَ ، طَلْنَ او طُلْنَ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چي هر هغه واو چي غير مکسور په اجوفو کي راغلی وي او دا واو به په الف سره بدل شوی وي بيا به حذف شوی وي نو اوس يی ماضي معلوم کي فاء کلمي ته ضمه ورکول کيږي پدي شرط چي په ثلاثي مجردو کي وي

<u>قوله هر واو غير مکسور که در ماضی معلوم ثلاثي مجرد اجوف الفو شده و بيفتد فاء کلمه اورا ضمه می دهند وجوبا</u>

پدي عبارت سره حکم دقانون ته اشاره شويده نو که چيري واو غير مکسوره په ماضي معلوم ثلاثي مجردو اجوفو کي راغی نو دحذف نه وروسته به يی په ماضي معلوم کي فاء کلمي ته ضمه ورکول کيږي لکه قَوَلْنَ کي قال باع قانون جاري شو قَالْنَ شو التقاء الساکنين نه بيا قَلْنَ شو نو اوس فاء کلمي ته ضمه ورکړل شوه ترڅو دا ضمه دلالت وکړي په حذف دی واو باندي

فاء کلمي ته ضمه ورکول په هغه باب کي چي مضارع يی مضموم العين وي دماضي معلوم په جمع مونث صيغه کي دمخاطب او متکلم په ټولو صيغو کي جاري کيږي

سوال: بيا خو د جمع مونث امر حاضر او ماضي جمع مونث ترمنځ التباس راځي

الجواب ددوی ترمنځ فرق تقديري دی او اشتراک ضمني ددوی ترمنځ عرب غير معتبر ګڼي (مراح يوسل دوه پنځوسمه ص)

قانون: هر واو مکسور وياء مطلقا که در ماضی معلوم ثلاثي مجرد اجوف الف شده و بيفتد فاء کلمه اورا کسره می دهند وجوبا

څـــــــــلـــورمقـــــــــانـــــــون

ديدي قانون نوم دی د حِفْنَ،بِعْنَ قانون،په دې قانون کې يو حکم او پنځه شرطونه دي.
حـکـم: په ماضي معلوم کې فاء کلمې ته حرکت کسره ور کول واجب دي.

اولشرط: واؤ به مکسور او ياء به مطلقًا وي،اختر ازيمثال:قَوَلَ
دوهمشرط: واؤ او ياء به په ماضي معلوم کې وي،اختر ازيمثال:يَخْوَفُ
دريمشرط: واؤ او ياء به په ثلاثي مجردو کې وي،اختر ازيمثال:اَطْيَرْنَ
څلورمشرط: واؤ او ياء به په اجوفو کې وي،اختر ازيمثال:رَمَيْتَ
پنځمشرط: واؤ او ياء به الف شوی وي او بيا غورځيدلی وي،اختر ازيمثال:خَافَ،بَاعَ
اتفاقيمثال:د خَوِفْنَ څخه خَافْنَ،د خَافْنَ څخه خَفْنَاود خَفْنَ څخه خِفْنَ اوهمدرانګه د بَيَعْنَ څخه بَاعْنَ،بَعْنَاوبِعْنَ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چي هر هغه واو چي مکسور وي او ياء مطلقا راغلي وي که مکسوره وي يا مفتوحه په اجوفو کي راغلی وي او دا واو او ياء به په الف سره بدل شوی وي بيا به حذف شوی وي نو اوس يی ماضي معلوم کي فاء کلمي ته کسره ورکول کيږي پدي شرط چي په ثلاثي مجردو کي وي

<u>قوله هر واو مکسور وياء مطلقا که در ماضي معلوم ثلاثي مجرد اجوف الف شده و بيفتد فاء کلمه اورا کسره مي دهند وجوبا</u>

پدي عبارت سره حکم دقانون ته اشاره شويده نو که چيري واو مکسوره او ياء مطلقا په ماضي معلوم ثلاثي مجردو اجوفو کي راغی نو دحذف نه وروسته به يی په ماضي معلوم کي فاء کلمي ته کسره ورکول کيږي لکه بَيَعْنَ او خَوِفْنّ کي قال باع قانون جاري شو خَافْنَ بَاعْنَ شو التقاء الساکنين نه بيا خَفْن بَعْنَ شو نو اوس فاء کلمي ته کسره ورکړل شوه ترڅو دا کسره دلالت وکړي په حذف دی ياء باندي يا په کسري دعين کلمي باندي

فاء کلمي ته کسره ورکول په هغه باب کي چي واو مکسوره او ياء مطلقاوي نو دماضي معلوم په جمع مونث صيغه کي دمخاطب او متکلم په ټولو صيغو کي به داقاعده جاري کيږي

سوال په خِفْنَ کي بايد فاء کلمي ته ضمه ورکړل شوي واى ترڅو يی دلالت کړی واى په حذف دواو باندي الجواب ضمه ځکه ورنکړل شوه چي اصل په باب داجوف واوي کي دادی چي نقل دحرکت وشي دواو محذوفه ماقبل ته دسهولت دوجهي نه چونکي په قُلْنَ کي ممکن نه وو ځکه بيا فتحة المفتوح يعني مفتوح ته دفتحي ورکول کيدل لازميدل او دا تحصيل حاصل وو نو ځکه قُلْنَ کي نقل ونه شو او باقي خِفْنَ کي نقل وشو(مراح يوسل دوه پنځوسمه ص)

Maktaba Tul Ishaat.com

قانون: درفُعِلَ از اجوف نقل حركت حذف حركت واشمام ودر تَفْعُلِيْنَ ازناقص حركت واثبات وى جايز است

پـــــــنـــــــځـــــمقـــــــانـــــــون

ديدې قانون نوم دى د قِيْلَ،بِيْعَ قانون،په دې قانون کې دوه حکمونه،د اول حکم لپاره درې شرطونه او د دوهم حکم لپاره دوه شرطونه دي.
اولحـکـم: نقل حرکت ، حذف حرکت او اشمام درې واړه جائز دي.
اولشـرط: واؤ او ياء به د فُعِلَ حقيقي او حکمي په اجوف کې وي،اختيارزيمثال:دُعِوَ
دوهـمشـرط: واؤ او ياء به په ماضي معلوم کې سالم نه وي،اختيارزيمثال:عُورِ
دريـمشـرط: واؤ او ياء به بدل له همزې څخه نه وي،اختيارزيمثال:سُولَ
اتـفـاقـــيمـثـال: د قُولَ،قِيْلَ او قُيْلَ او د اُنْقُوِدَ څخه د اُنْقُوْدَ،اُنْقِيْدَ او اُنْقُيْدَ ويل جائز دي.
دوهـمحـکـم: نقل حرکت او اثبات دواړه جائز دي.
اولشـرط: واؤ او ياء به د تَفْعُلِيْنَ په ناقص کې وي،اختيارزيمثال:تَقْوُلِيْنَ
اتـفـاقـــيمـثـال: د تَدْعُوِيْنَ څخه د تَدْعُوِيْنَ او تَدْعِيْنَ ويل جائز دي.
دوهـمشـرط: ياء به د اسم مفعول،په ثلاثي مجرد اجوف کې وي،اختيارزيمثال:مَقْوُوْلٌ
اتـفـاقـــيمـثـال: د مَبْيُوْعٌ څخه د مَبْيُوْعٌ او مَبِيْعٌ ويل جائز دي.

خلاصه دقانون داده چي کله واو او ياء په فُعِلَ حقيقي يا حکمي اجوفو کي راشي پدي شرط چي ماضي معلوم کي به سالم نه وي او بدل له همزي هم نه وي نو درى وجهي پکي جايز دي نقل حرکت. حذف حرکت. اشمام

خو که په تفعلين ناقصو او اسم مفعول ثلاثي مجردو اجوف يايى کي بيا اثبات او نقل جايز دي

قوله درفُعِلَ از اجوف نقل حرکت حذف حرکت واشمام

پدي عبارت سره اول حکم ته اشاره شويده چي کله واو په فُعِلَ اجوفو کي راشي نو درى وجهي پکي روا دى

نقل حرکت پدي قانون کي افصح دی ځکه په نقل سره تخفيف راځي له دوه وجهو نه اوله وجه: په واو کي تخفيف دادی (قُولَ)چي نقل حرکت وشو واو ساکن شو

دوهمه وجه داده: چي په نقل سره دواو دماقبل ميلان راغی دضمي نه کسري ته هکذا في بُيِعَ الخ (مراح يوسل يو شپيتمه ص)

دوهمه وجه: پکي حذف حرکت دی او دا لغة ضعيفه دی په کلام د فصحاوو کي ندی مستعمل شوی خو عربو مستعمل کړی دی لکه بُوْعَ اصل کي بُيِعَ وو تخفيفا حرکت دياء حذف شو وروسته ياء په واو سره بدله شوه بُوْعَ شو

دريمه وجه: پکي اشمام کول دي داهم جايز دي دا ځکه ترڅو معلومه شي چي اصل کي ماقبل د ياء او ياء د واو مضموم وو

<u>قوله ودر تَفْعُلِيْنَ ازناقص حرکت واثبات وی جايز است</u>

دا دوهم حکم دی چي په تَفْعُلِيْنَ ناقصو کي دوه وجهي اثبات او نقل جايز دي که نقل حرکت وکړي نو لکه تَدْعُوِيْنَ دواو حرکت ماقبل ته نقل کړه دميعاد په قانون سره واو په ياء بدل کړه وروسته التقاء الساکنين د ياء او واو مقلوبه ترمنځ راغله يو حذف شو نو تَدْعِيْنَ شو

همدارنګه دوهم حکم لپاره يوبل شرط هم شته هغه داچي واو او ياء به د اسم مفعول ثلاثي مجردو اجوف يايی کي وي بيا لکه مَبِيْعٌ اصل کي مَبْيُوْعٌ وو نقل حرکت وشو دياء حرکت ماقبل باء ته نقل شو مَبُيْوْ عٌ شو نو ياء کي ديوسر قانون جاري شو نو اوس اختلاف دی ديکي چي ايا اول ياء حذف کيږي او که واو

(په مَبْيُوْعٌ کي اختلاف)

مَبْيُوْعٌ کي دوه مذهبه دي يو مذهب امام سيبويه دوهم مذهب امام اخفش

امام سيبويه مذهب: دی وايی چي مَبْيُوْعٌ کي نقل حرکت وشو دياء حرکت نقل شو ماقبل باء ته نو اجتماع دساکنين راغله نو واو به حذف کيږی نو مَبُيْعٌ به شي بيابه دياء ماقبل ته کسره ورکول کيږي لپاره دمحافظت د ياء نو که دده رأيه شي نو مَبْيُوْعٌ کي اول قانون د قيل بيع بيا التقاء الساکنين بيا ديوسر دوهم حکم جاري کيږي

دوهم مذهب امام اخفش: دی وايی چي مَبْيُوْعٌ کي اول نقل حرکت وکړه التقاء الساکنين به راشي نو اوس به ياء حذف کيږي نو مَبِيُوْعٌ به شي وروسته به دواو دماقبل ضمه په کسره سره بدله شي بيابه واو دماقبل انکسار له وجهي په ياء سره بدليږي نو مَبِيْعٌ به شي

Maktaba Tul Ishaat.com

نو كه دامام اخفش رأيه شي نو څلور قوانين پكي جاري كيږي قيل بيع . التقاء الساكنين. قلب ضمه بكسره براى محافظت ياء(بِعْنَ) . ميعاد نو دامام سيبويه په نزد به وزن داسم مفعول مَفِعْلاً شي او عند امام اخفش به مَفِيْلاً شي امام مازني رح وايى چي دواړه اقوال حسن دي او قول دامام اخفش اقيس دى (مراح يوسل يو شپيتمه ص)

(اشمام تعريف)

اشمام په لغت كي بويولو ته وايى په اصطلاح كي اشمام په دوه قسمه دى

اول اشمام صرفي دوهم اشمام وقفي

اشمام صرفي: هغه ته وايى چي په شنډو باندي داسي شكل غوره شي چي داشكل د تلفظ د ضمي وي خو ضمه پري تلفظ نشي (مراح يوسل يو شپيتمه ص دوهمه ح)

دوهم اشمام وقفي: داهغه اشمام دى چي ضم دشفتينو راشي داسكان د حرف څخه (فوايد كريميه يوسل څلورمه ص)

(فُعِلَ حقيقي او حكمي)

وزن د فُعِل په دوه قسمه دى اول حقيقي دوهم حكمي

فُعِل حقيقي: داهغه وزن دى چي ابتداً وزن فُعِلَ وي لكه قُوِلَ بُيِعَ الخ

فُعِلَ حكمي: دا هغه وزن دى چي ابتداً وزن فُعِلَ نه وي ليكن وروسته د بعضو حروفو دحذف نه وزن فُعِلَ تري جوړ شي لكه اُنْقُوِدَ اُخْتُيِرَ چي همزه او نون يا همزه او خاء تري حذف شي نو قُوِدَ او خُيِرَ وزن غوره كوي. العبدالاحقر عبيدالله عبيدالماتريدى گلشاخيل المعروف بابوطلحة الحنفي

قانون: هر واو ويايى مضموم ومكسور متوسط يا درحكم متوسط كه در اصل سلامت نمانده باشد ودر ناقص ثلاثى مجرد مطلقا درفعل متصرف باشد يا درمتعلقات وى بجز فُعِلَ حقيقى ياحكمى از اجوف وتَفْعَلِيْنَ ازناقص حركت ان واو وياء نقل كرده بماقبل دهند وجوبابشرطيكه ان واو وياء بدل از همزه وضمه وكسره انها منقول از همزه وماقبل انها مفتوح والف نباشد

شپږم قانون

ديدې قانون نوم دى د يَقُوْلُ اويَبِيْعُ قانون،پهدې قانون کې يوحکم او ديارلس(۱۳)شرطونه دي.
حکم: د واؤ او ياء حرکت نقلول او ما قبل ته يې ور کول واجب دي.
اولشرط: واؤ او ياء به مضموم يا مکسور وي،اختزازيمثال:يُقْوَلُ،يُبْيَعُ
دوهمشرط: واؤ او ياء به په متواسط يا په حکم د وسط کې وي،اختزازيمثا:يَدْعُوْ،يَرْمِيْ
دريمشرط:واؤ او ياء به د فعل متصرف او يا د هغه له متعلقاتو څخه
وي،اختزازيمثال:اَقْوِلْبِهِ، اَبِيعْبِهِ
څلورمشرط: واؤ او ياء به په اصل کې سالم نه وي،اختزازيمثال:يَعْوِرُ،يَصْيِدُ
پنځمشرط: واؤ او ياء به په فُعِلَ حقيقي او حکمي کې نه وي،اختزازيمثال:قُوِلَ،بُيِعَ
شپږمشرط: واؤ او ياء به د تَفْعُلِيْنَ په ناقص کې نه وي،اختزازيمثال:تَدْعُوِيْنَ،تَنْهُيِيْنَ
اووم‌شرط: واؤ او ياء به دجوازي قانون ماتحت بدل له همزې څخه نه
وي،احترازيمثال:سُوِلَ،يَسْتَهْزِئُ
اتمشرط: د واؤ او ياء حرکت به د همزې نه نقل شوى نه وي،اختزازيمثال:يَسُوُ،يَجِيُ
نهمشرط: د واؤ او ياء ما قبل به مدّه نه وي،اختزازيمثال:مَقَاوِلُ،مَبَايِعُ
لسمشرط: د واؤ او ياء ماقبل به مفتوح نه وي،اختزازيمثال:قَوُلَ،بَيُعَ
يوولسمشرط:ياء به د اسم مفعول ثلاثي مجرد اجوف يائي گې نهوي،اختزازيمثال:مَبْيُوْعٌ
دولسمشرط: د واؤ او ياء ما قبل به لين زائده نه وي،اختزازيمثال:مُقَيْوِلٌ،مُقَيْوِلَةٌ
ديارلسمشرط: واؤ او ياء به په داسې اسم کې نه وي چې له تعليل(اعلال)څخه وروسته هغه اسم د مشهور فعل هم وزن وي،اختزازيمثال:تَحْوِيْلٌ،تَمْيِرٌ
اتفاقيمثال: د يَقُوْلُ څخه د يَقُوْلُ او د يَبْيَعُ څخه د يَبِيْعُ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چې کله واو متحرکه راشي او ټول شرايط پکې پوره وي نو د واو او ياء حرکت به ماقبل ته نقل کيږي

اوله وجه: نقل حرکت ځکه کيږي چې واو او ياء حرف علة ماقبل يې حرف صحيح ساکن دى نو حرف علة خپله ضعيف دى تحمل دحرکت نشي کولاى او ماقبل ته نقل شو ځکه ماقبل يې حرف صحيح ساکن دى تحمل دحرکاتو کولاى شي

دوهمه وجه: يا ځکه نقل حرکت کيږي دحرف علة ماقبل نسبت حرف علة ته قوي دى ځکه حرف صحيح نسبت حرف علة ته قوي وي (مراح يوسل اته څلويښتمه ص)

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله هر واو ویایی مضموم ومکسور متوسط یا درحکم متوسط که در اصل سلامت نمانده باشد ودر ناقص ثلاثی مجرد مطلقا

په دغه عبارت سره دریو شرطونو ته اشاره شویده

اول شرط: یی دادی چي واو او یابه مضموم یامکسور وي ځکه که چیري مضموم او مکسور نه وي بیا نقل حرکت هم کیږي او په الف سره هم بدلیږي (سیجیئ حکمه)

دوهم شرط: داوو چي واو او یابه متوسط یا په حکم دمتوسط کي وي ځکه کچیري په اخر کي واو او یاء راشي نقل دحرکت نه کیږي که ماقبل یی ساکن وو په خپل حال پریښودل شي او که ماقبل یی مضموم یا مکسور وو نو حرکت حذف کیږی لکه دَلْوٌ. ظَبْیٌ . یَدْعُوْ. یَرْمِیْ ....

دریم شرط: یی دادی چي واو او یاء به په اصل کي سالم نه وي ځکه بیا خو هیڅ تغیر نشي پکي راتللی خو دناقصو ثلاثي مجردو لپاره دا شرط نده چي په اصل کي به سالم پاتي وي یانه لکه یَرْخُوْنَ اصل کي یَرْخُوُوْنَ وو اګر که واو اصل کي سالم دی ځکه ماضي کي رَخُوَ دی خو بیا هم نقل حرکت شوی دی

قوله درفعل متصرف باشد یا درمتعلقات وی بجز فُعِلَ حقیقی یاحکمی از اجوف وتَفْعَلِیْنَ ازناقص حرکت ان واو ویاء نقل کرده بماقبل دهند وجوبا

پدي عبارت سره هم څو شرطونو ته اشاره شویده

اول واو او یاء به په فعل متصرف کي وي او په غیر متصرف کي اعلال نه کیږي ترڅو دلالت وکړي په خپل اصالت باندي یا په متعلقاتو دفعل متصرف کي بیا هم نقل حرکت کیږي دمتعلقاتو دفعل نه مراد اسماء مشتقات دي

دوهم شرط: واو او یابه په فُعِلَ حقیقي او حکمي کي نه وي ځکه بیا نقل حرکت جایز دی یا ځکه که دا قید مستثنی نه کړي فُعِلَ کي دنقل حرکت نه سوی حذف او اشمام هم جایز وو که نقل واجب شي په فُعِلَ کي نو بیا خو حذف او اشمام عدم جایز شول

دریم شرط: واو او یاء به په تُفْعَلِیْنَ ناقصو کي نه وي ځکه بیا نقل حرکت جایز دی

قوله بشرطیکه ان واو ویاء بدل از همزه وضمه وکسره انها منقول از همزه وماقبل انها مفتوح والف نباشد

يدي عبارت سره هم څو شرطونو ته اشاره شويده

اول شرط: واو او يابه بدل دهمزي څخه نه وي مراد دابدال نه دادی چي واو او ياء به دجوازي قانون ماتحت بدل له همزی څخه نه وي اماكه دوجوبي قانون ماتحت بدل وو بيانقل حركت كولای شي لكه مثلا اكثره شروحاتو كي يوه صيغه ده (أُوْأُوْا) دا په اصل كي(أُوُأُوْءِءُوْا) په وزن د أُفْعُوعِلُوْا لكه أُحْدُوْدِبُوْا نو دجَاءٍ أُوَيْدِمُ وجوبي قانون باندي ثاني همزه په ياء بدله شوه أُوْأُوءِيُوْا شو وروسته ديقول يُوْسَرُ التقاء الساكنين قانون جاري شو(أُوْأُوْا) شو مقصد داچي ديقول دقانون لپاره داشرط چي واو او ياء به بدل دهمزي څخه نه وي قيد پكي دادی چي دجوازي قانون ماتحت اگر كه صاحب ارشاد الصرف مطلقا ذكر كړی دی

دوهم شرط: دادی پكي چي واو او ياء حركت به دهمزي نه منقول نه وي

ددي شرطونو سوی يوځه شرايط نور هم شته

يوشرط داهم دی چي واو او ياء به پداسي اسم كي نه وي چي وروسته له تعليل نه دا اسم ديو مشهور فعل هم وزن شي لكه تَحْوِيْلٌ چي نقل حركت وكړي التقاء الساكنين نه يو حذف كيږي او بيا ميعاد قانون جاري كيږي نو تَحِيْلٌ لكه تَبِيْعُ

يوشرط داهم دی چي واو او ياء به اسم مفعول ثلاثي مجرد اجوف يايی كي نه وي ځكه بيا نقل حركت جايز دی

يوشرط داهم دی چي واو او ياء ماقبل به مفتوح نه وي ځكه بيا په الف سره بدليږي يعني ابدال كيږي نقل بيا نه كيږي

يوشرط داهم دی چي واو او ياء ماقبل به لين زايده نه وي لكه مُقَيْوِلٌ ځمه بيا ابدال كيږي

(فعل په دوه قسمه دی)

فعل په دوه قسمه دی متصرف او غير متصرف

فعل متصرف : هغه فعل دی چي دهغه څخه نور شيان اشتقاقيږي لكه مضارع امر نهي اسم فاعل وغيره...

فعل غير متصرف: هغه فعل دی چي دهغه نه نور شيان نه اشتقاقيږي لكه فعل تعجب...

Maktaba Tul Ishaat.com

(متوسط يا در حكم متوسط)

متوسط يادرحكم متوسط: حكما متوسط ديته وايى چي اصلا دلام كلمي په مقابل كي وي خو مابعد يى ضمير دفاعل راغلى وي نو ضمير كالجزء وي نو ماقبل كالوسط وگرځيده لكه تَدْعِيْنَ (فوايد كريميه سلمه ص)

قانون: هر واو ويايى متوسط مفتوح كه در اصل سلامت نمانده باشد درفعل متصرف باشد يا درمتعلقات وى سوى كلمه اسم كه بر وزن اَفْعَلُ ماقبل حرف صحيح ساكن مظهر باشد فتحش را نقل كرده بماقبل داده ان را بالف بدل كنند وجوبا بشرطيكه ان كلمه ملحق وبمعنى لون وعيب وصيغه آله نباشد

اووم قـــــــــانـــــــــــون

ديدي قانون نوم دى د يُقَالُ،يُبَاعُ قانون،پدې قانون كې يو حكم او دبارلس(۱۳)شرطونه دي.
حـكـم:د واؤ او ياءحركت نقل كول،ما قبل ته يې ور كول او بيا واؤ او ياء په الف سره بدلول واجب دي.
اول‌شـرط: واؤ او ياء به په متواسط كې وي،اختزازمثال:يُدْعَوُ. يُرْمَىُ ُ
دوهـم‌شـرط: واؤ او ياء به مفتوح وي،اختزازيمثال:يَقُوْلُ،يَبِيْعُ
دريـم‌شـرط:واؤاوياء به په فعل متصرف يا د هغه په متعلقاتو كې وي،اختزازيمثال: مَا اَقْوِلْبِهِ،وَ اَبْيِعْبِهِ
څـلـورم‌شـرط: د واؤ او ياء څخه به مخكې حرف صحيح وي،اختزازيمثال:مَقَاوِلُ،مَبَايِعُ
پـنـځـم‌شـرط: د واؤ او ياء څخه به مخكې حرف صحيح ساكن وي،اختزازيمثال:قَوَلَ،بَيَعَ
شـپـږم‌شـرط: د واؤ او ياء ما قبل حرف صحيح به ساكن مظهر وي،اختزازيمثال:قَوَّلَ،بَيَّعَ
اووم‌شـرط: د واؤ او ياء كلمه به په اصل كې سالم نه وي،اختزازيمثال:يُعْوَرُ،يُصْيَدُ
اتـم‌شـرط: د واؤ او ياء كلمه د اسم اَفْعَلُ په وزن نه وي،اختزازيمثال:اَقْوَلُ،اَبْيَعُ
نـهـم‌شـرط: د واؤ او ياء كلمه به ملحق نه وي،اختزازيمثال:جَهْوَرَ،شَرْيَفَ
لـسـم‌شـرط: د واؤ او ياء كلمه به درنګ په معنى نه وي،اختزازيمثال:اِسْوَدَ،اِبْيَضَ
يـوولـسـم‌شـرط: د واؤ او ياء كلمه به د غيب په معنى نه وي،اختزازيمثال:اَعْوَرَ،اَعْيَنَ
دولـسـم‌شـرط: د واؤ او ياء كلمه به په اسم آله كې نه وي،اختزازيمثال:مِقْوَلٌوَمِقْوَلَةٌ

دريـالـسمشـرط: واؤ او ياء به د دوو ساكنينو په منځ كې نه وي،اختـرازيمثال:مِقْوَالٌ،مِبْيَاعٌ اتـفـاقــيمـثـال: د يُقْوَلُ او يُبْيَعُ څخه د يُقَالُ،يُبَاعُ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چي كله واو اوياء مفتوح راشي او ټول شرايط پكي پوره وي نو دواو او ياء حركت به ماقبل ته نقل كيږي او واو او ياء به په الف سره بدليږي

وجه: نقل حركت ځكه كيږي چي واو او ياء حرف علة ماقبل يى حرف صحيح ساكن دى نو حرف علة خپله ضعيف دى تحمل دحركت نشي كولاى او ماقبل ته نقل شو ځكه ماقبل يى حرف صحيح ساكن دى تحمل دحركاتو كولاى شي

دوهمه وجه: يا ځكه نقل حركت كيږي دحرف علة ماقبل نسبت حرف علة ته قوي دى ځكه حرف صحيح نسبت حرف علة ته قوي وي (مراح يوسل اته څلويښتمه ص)

قوله هر واو ويايي متوسط مفتوح كه در اصل سلامت نمانده باشد

په دغه عبارت سره دريو شرطونو ته اشاره شويده

اول شرط:داوو چي واو او يابه متوسط كي وي ځكه كچيږي په اخر كي واو او ياء راشي نقل دحركت نه كيږي كه ماقبل يى ساكن وو په خپل حال پريښودل شي او كه ماقبل يى مضموم يا مكسور وو نو حركت حذف كيږى لكه دَلْوٌ. ظَبْيٌ . يَدْعُوْ. يَرْمِيْ او كه ماقبل يى مفتوح وو په الف سره بدليږي نقل نه كيږي

دوهم شرط: يى دادى چي واو او ياء به په اصل كي سالم نه وي ځكه بيا خو هيڅ تغير نشي پكي راتللى

دريم شرط : دادى چي واو او ياء به مفتوح وي كه مضموم وي بيا صرف نقل حركت كيږي په الف سره نه بدليږي

قوله درفعل متصرف باشد يا درمتعلقات وى سوى كلمه اسم كه بر وزن اَفْعَلُ ماقبل حرف صحيح ساكن مظهر باشد فتحش را نقل كرده بماقبل داده ان را بالف بدل كنند وجوبا

پدي عبارت سره هم څو شرطونو ته اشاره شويده

Maktaba Tul Ishaat.com

اول شرط: واو او ياء به په فعل متصرف کي وي او په غير متصرف کي اعلال نه کيږي ترڅو دلالت وکړي په خپل اصالت باندي يا په متعلقاتو دفعل متصرف کي بيا هم نقل حرکت کيږي دمتعلقاتو دفعل نه مراد اسماء مشتقات دي

دوهم شرط: دواو او ياء کلمه به د اَفْعَلُ په وزن نه وي ځکه که بيا اعلال وکړي دواحد مذکر غايب فعل ماضي معلوم دباب افعال سره راځي لکه اَقَامَ

دريم شرط: دادی چي ماقبل به يی حرف صحيح ساکن وي ولي که حرف صحيح ساکن نه وو لکه تَقَاوَلَ نو دلته الف ساکن وضعي دی تحمل دحرکت نشي کولای

څلورم شرط: حرف صحيح ساکن به مظهر وي مدغم به نه وي ځکه بيا نقل حرکت ممکن ندی ځکه بيا خلاف دوضع لازميږي

ياځکه اعلال نه کيږي ترڅو اعلال په اعلال لازم نشي لکه قَوَّل اصل کي قَوْ وَلَ

<u>قوله بشرطيکه ان کلمه ملحق وبمعنی لون وعيب وصيغه آله نباشد</u>

پدي عبارت سره هم څو شرطونو ته اشاره شويده

اول شرط: دادی چي واو او يابه دملحق کلمی کي نه وي ځکه که بيا هم نقل حرکت وشي نو الحاق باطليږي

دوهم شرط: دادی چي دواو او ياء کلمه به د لون او رنګ په معنی سره نه وي لکه اَسْوَدَ ځکه که اعلال پکي وشي نو اَسَادَ به شي لکه اَقَامَ بيا التباس راځي يعني داسم التباس دافعالو سره راځي

دريم شرط: دادی چي واو او ياء کلمي به دعيب په معنی سره نه وي ځکه بيا التباس داسماءو له افعالو سره راځي

څلورم شرط: دادی چي واو او ياء به په اسم اله کي نه وي ځکه اسم اله صغری حمل ده په اسم اله کبری باندي يعني مِقْوَلٌ حمل دی په مِقْوَالٌ باندي او مِقْوّالٌ کي اعلال ندی شوی ځکه واو د دوه ساکنينو په مابين کي راغلی دی (فوايد کريمه. مراح. فصول اکبري.)

سوی دپورته شرطونو څخه يو څو نور شرطونه هم لري

اول: واو او ياء به مفتوح وي دوهم شرط: واو او يابه ددوه ساكنينو په منځ كي نه وي ځكه كه ددوه ساكنين مابين كي وو نقل حركت هم وشي او الف سره هم بدل شي لكه مِقْوَالٌ كي نو مِقَالٌ به شي پدي سره احجاف بيخ كندي دكلمي راځي

قانون: هر واوكه واقع شود بعد از الف فَاعِلٌ ودر اصل سلامت نمانده باشد يا اصل او نباشد ان واو وياء را به همزه بدل كنند وجوبا

اتـــــــــم قـــــــــانـــــــــــون

ديدي قانون نوم دى د قَائِلٌ او بَائِعٌ قانون،په دې قانون كې يو حكم او دوه شرطونه دي.
حـكـم: واؤ او ياء ، په همزه سره بدلو واجب دي.
اولشـرط: واؤ او ياء به د الف اسم فاعل څخه وروسته وي،اختر ازيمثال:مَقَاوِلُ،مَبَايِعُ
دوهمشـرط:د واؤاوياء كلمه به په اصل كې سالم نه وي او يا يې اصل ببخې وي نه،اختر ازيمثال : عَاوِرٌ،صَايِدٌ
اتـفـاقـيمـثـالدهغهچېاصليېوي: د قَاوِلٌ او بَايِعٌ څخه د قَائِلٌ او بَائِعٌ ويل واجب دي.
اتـفـاقـيمـثـالدهغهچېاصليېنهوي: د غَاوِطٌ او سَايِقٌ څخه د غَائِطٌ او سَائِقٌ ويل واجب دي.
فـــائـــــده:كلهكله واؤ او ياءد الف اسمفاعلڅخهوروستهغورځي،لكه؛د هَايِرٌ څخهدهَارٌ ويل واجب دي. ګګګ

خلاصه دقانون داده چي هرواو او ياء چي په اصل كي سالم نه وي يا اصل نلري وروسته دالف دفاعل څخه راشي نو په همزه سره به بدليږي

قوله هر واو كه واقع شود بعد از الف فَاعِلٌ ودر اصل سلامت نمانده باشد يا اصل او نباشد ان واو وياء را به همزه بدل كنند وجوبا

په دي عبارت سره حكم او شرايط د قانون ذكر كيږي

نو هرواو او ياء چي دالف داسم فاعل نه وروسته راشي خو اصل كي به يې تعليل شوى وي يابه اصل نلري نو په همزه سره به بدليږي لكه قَائِلٌ په اصل كي قَاوِلٌ وو نو واو راغى ماقبل يې مفتوح وو چي قاف كلمه ده نو په الف سره بدل شو (اګر كه منځ كي يې الف راغلى دى ليكن دا حاجز قويه ندى ځكه ساكن كالميت دى) نو دوه الفين جمع شول نو حذف

Maktaba Tul Ishaat.com

د يو داحدهما هم جايز نه وو ځکه که اول الف حذف شي نو قَالَ به شي دماضي سره به التباس راشي او که ثاني حذف شي بيا همدا التباس لازميږي نو ثاني الف ته يی حرکت ورکړو نو الف چي متحرک شي همزه تري جوړيږي نو قَائِلٌ شو

الف ثاني په همزه سره بدل شو اول الف بدل نه شو ځکه چي الف ثاني جزء دکلمي دی او په اصل کي هم متحرک وو او اول خو زايد وو او اصل کي هم ساکن وو نو تحريک المتحرک في الاصل اولی

ياځکه الف ثاني ته حرکت ورکړل شو چي دصحيحو عين کلمه هم متحرکه وه لکه نَاصِرٌ ...(مراح يوسل شپږ پنځوسمه ص)

ياځکه واو او ياءپه همزه بدل شول چي په همزه سره خفت زيات دی نسبت واو او ياء ته (زنجاني اته شپيتمه ص اوله ح)

فائده::

په همزه کي تبديل او تغير راوستلو ته تخفيف وايی او په حرف علت کي تغير راوستلو ته اعلال وايی او ديو حرف په بل کي الباث داخلولو ته ادغام وايی (علم الصيغه يوديرشمه ص)

فايده: کله کله واو او ياء چي وروسته دالف دفاعل څخه راغلي وي غورځيږي لکه هَايِرٌ څخه هَارٌ

<u>کله کله واو او ياء چي وروسته دالف دفاعل څخه راغلي وي غورځيږي لکه هَايِرٌ څخه هَارٌ</u>

هغه همزه چي دالف فاعل نه وروسته راغلي وي او مقلوبه عن الواو والياء ده کله کله غورځيږي ځکه کله چي واو او ياء په الف سره بدل شي نو التقاء الساکنين له وجهي يی حذف کوي ليکن دا حذف قاعده کليه يا اکثريه نده بلکي قاعده جزيه يا بعضيه ده اګر که په دي حذف سره التباس دماضي سره هم راځي ليکن دا حذف قياسي ندی (مراح يوسل اوه پنځوسمه ص اومه ح)

لکه دا قول دالله تعالی (بُنْيَانَهُ عَلَى شَفَا جُرُفٍ هَارٍ ای هَائِرٍ)

همدارنګه هَاعٍ ای هَائِعٌ لَاعٍ ای لائِعٌ ....

قانون: هر واو كه واقع شود درمقابله عين كلمه مصدر يا جمع ودر فعل واحد سلامت نمانده باشد يا درواحد ساكن ودر جمع قبل از الف باشد ماقبلش مكسور ان واو را بياء بدل كنند وجوبابشرطيكه لام كلمۀ وى معلل نه باشد

نـــــــــــهـــــمقـــــــــــانـــــــــون

ديديقانون نوم دى د قِيَالٌ او رِيَاضٌ قانون،پدې قانون كې يو حكم اود شرطونو لپاره يې درې ټولګي دي. داول‌او دوهم ټولګي(صنفونو)لپاره څلور،څلورشرطونه دي او ددريم ټولګي(صنف)لپاره شپږشرطونه دي.

حـكـم: واؤ په ياء سره بدلول واجب دى.

داول‌صنف‌اول‌شـرط: واؤ به د عين كلمې په مقابل كې وي،اختـرازي‌مثال:وَعْدٌ

داول‌صنف‌دوهـم‌شـرط: واؤ به په مصدر كې وي،قِوَالٌ

داول‌صنف‌دريـم‌شـرط: واؤ به په فعل كې حذف شوى وي،اختـرازي‌مثال:عِوَارٌ

داول‌صنف‌څـلـورم‌شـرط: د واؤ ما قبل به مكسور وي،اختـرازي‌مثال:سُوَالٌ

اتـفـاقـي‌مـثـال: د قِوَامٌ څخه د قِيَامٌ ويل واجب دي.

ددوهـم‌صنف‌اول‌شـرط: واؤ به د عين كلمې په مقابل كې وي،اختـرازي‌مثال:وَعْدٌ

ددوهـم‌صنف‌دوهـم‌شـرط: واؤ به په جمع كې وي،اختـرازي‌مثال:قِوَامٌ

ددوهـم‌صنف‌دريـم‌شـرط: واؤ به په واحد كې سالم نه وي،اختـرازي‌مثال:عِوَارٌ

ددوهـم‌صنف‌څـلـورم‌شـرط: د واؤ ما قبل به مكسور وي،اختـرازي‌مثال:قَوَلَةٌ

اتـفـاقـي‌مـثـال: د قِوَالٌ څخه د قِيَالٌ ويل واجب دي.

ددريـم‌صنف‌اول‌شـرط: واؤ به د عين كلمې په مقابل كې وي،اختـرازي‌مثال:وَعْدٌ

ددريـم‌صنف‌دوهـم‌شـرط: واؤ به په جمع كې وي،اختـرازي‌مثال:قِوَامٌ

ددريـم‌صنف‌دريـم‌شـرط: واؤ به په واحد كې ساكن وي،اختـرازي‌مثال:طِوَالٌ

ددريـم‌صنف‌څـلـورم‌شـرط: واؤ به په جمع كې د الف څخه مخكې وي،اختـرازي‌مثال: كِوَزَةٌ

ددريـم‌صنف‌پـنـځـم‌شـرط: د واؤ ما قبل به مكسور وي،اختـرازي‌مثال:اقْوَامٌ

ددريـم‌صنف‌شـپـږم‌شـرط: په لام كلمه كې به تعليل نه وي شوى،اختـرازي‌مثال:رِوَاءٌ

اتـفـاقـي‌مـثـال: د حِوَاضٌ او رِوَاضٌ څخه د حِيَاضٌ او رِيَاضٌ ويل واجب دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

خلاصه دقانون داده چي کله واو دعين کلمی مقابل کي راغی ماقبل مکسور په مصدر کي وو پدي شرط چي چي په فعل يعني ماضي کي حذف شوی وي نو واو به په ياء سره بدليږي وجوبا او که جمع وه او په واحد کي يی هم تغير شوی وو بياهم واو په ياء سره وجوبا بدليږي

او که چيري واو په جمع کي دالف نه مخکي وو او په واحد کي ساکن وو او په لام کلمه کي يی تغير هم نه وو شوی نو واو به بيا هم په ياء سره بدليږي وجوبا

دا دی دريو جماعتونو خلاصه وه

واو به ځکه په ياء سره بدليږي په دغه دريو مواضعو کي ترڅو خروج لازم نشي دکسري حقيقي څخه ضمي تقديري ته ځکه واو هم جوړ دی ددوه ضمو څخه نو لکه ضمه چي تقديرا موجوده وي

<u>قوله هر واو که واقع شود درمقابله عين کلمه مصدر</u>

په دغه عبارت سره اول ټولګی ته اشاره شويده چي چي واو په مصدر کي دعين کلمي مقابل کي راغی ماقبل مکسور وو او په واحد کي يی هم اعلال شوی وو سالم پاتي نه وو مصدر کي به واو په ياء سره بدليږي

يوشرط دمصدر لپاره داوو چي فعل کي به يی اعلال شوی وي ځکه اعلال دمصدر تابع وي دفعل ځکه که فعل کي اعلال ونه شي مصدر کي وشي زيادت دفرعي په اصل لازميږي (فوايد کريميه يوسل اته ديرشمه ص)

<u>يا جمع ودر فعل واحد سلامت نمانده باشد</u>

په دغه عبارت سره دوهم ټولګي ته اشاره شويده چي که جمع وه او په واحد کي يی هم تغير شوی وو بياهم واو په ياء سره وجوبا بدليږي

نو دجمعي لپاره يوشرط داشو چي په واحد کي به سالم نه وي ځکه که واحد کي سالم وو نو جمع کي به هم سالم وي ځکه بيا مزيت دفرع په اصل راځي يا هروخت فرع تابع داصل وي (فوايد کريميه يوسل اته ديرشمه ص)

يا درواحد ساكن ودر جمع قبل از الف باشد ماقبلش مكسور ان واو را بياء بدل كنند وجوبابشرطيكه لام كلمۀ وى معلل نه باشد

په دغه عبارت سره دريم ټولګي ته اشاره شويده چي که چيري واو په جمع کي دالف نه مخکي وو او په واحد کي ساکن وو او په لام کلمه کي يی تغير هم نه وو شوی نو واو به بيا هم په ياء سره بدليږي وجوبا

يوشرط ورته داوو چي په لام کلمه کي به يی اعلال نه وي شوی احترازي مثال يی رِوَآءٌ دی اصل کي رِوَاوٌ وو واو په همزه سره بدل شو رِوَاءٌ شو نو اوس په عين کلمي کي اعلال نشو کولای ځکه جمع بين الاعلالين راځي (بارشاد الصرف اته پنځوسمه ص څلورمه ح)

اتفاي مثالونه يی دادي

دمصدر مثال دقِوَامًا څخه قِيَامًا دفعل يی قَامَ دی دجمع مثال لکه قِوَالٌ څخه قِيَامٌ واحد يی قَامَ او همدارنګه حِوَاضٌ څخه حِيَاضٌ جمع دحَوْضٌ

قانون: هر واو وياء که جمع شوند دريک کلمه ياحکم وی سوی اسم بروزن اَفْعَلُ اول ايشان ساکن لازم غير باشد ان واو را ياء کرده دريادغام می کنند وجوبا سوی واو عين کلمه بعد از ياى تصغير که در مکبر متحرک باشد چراکه آن واو را بيا بدل کنند جوازا. (عبيد)

لســـــــــــــم قـــــــــانـــــــــــون

ديدي قانون نوم دی د قُوَيِّلٌ،قُوَيِّلَةٌ قانون،پدې قانون کې دوه حکمونه اودهر حکم لپاره شپږ،شپږ شرطونه دي.

اول حـکـم: واؤ په ياء بدلول او بيا ياء په ياء کې ادغامول واجب دي.

اول شـرط: واؤ او ياء به په يوه کلمه کې جمع وي هغه که حقيقتًا يوه کلمه وي اوکه حکمًا،اختر ازي مثال: اَبُوْيَعْقُوْب

دوهـم شـرط: د واؤ او ياء کلمه به د اسم اَفْعَلُ په وزن نه وي،اختر ازي مثال:اَيْوَمٌ

دريـم شـرط: د واؤ او ياء نه به مخکې ساکن وي،اختر ازي مثال:قُوَيْلی

څـلـورم شـرط: د حرف ساکن سکون به لازمي وي،اختر ازي مثال:قَوْیَ

پـنـځـم شـرط: واؤ او ياء به د څه نه بدل نه وي،اختر ازي مثال:بُوَيْعُ

Maktaba Tul Ishaat.com

شپږم شرط: واؤ او یاء به د لاندې دریو صفتونو واله نه وي،هغه دري صفتونه دا دي:
۱: واؤ به د عین کلمې په مقابل کې کیدل. ۲: واؤ او یاء به د یایئ تصغیر څخه وروسته کیدل.
۳: د واؤ او یاء به په مکبر کې سالم کیدل. اختر ازي مثال:مُقَيْوِلٌ،مُقَيْوِلَةٌ
اتفاقي مثال: د قُوَيْوِلٌ او قُوَيْوِلَةٌ څخه د قُوَيِّلٌ ، قُوَيِّلَةٌ ویل واجب دي.
دوهم حکم: واؤ په یاء بدلول او یاء په یاء کې ادغامول جائز دي.
اول شرط:واؤ او یاء به په یوه کلمه کې جمع وي هغه که حقیقتًا یوه کلمه وي اوکه حکمًا،اختر ازي مثال: اَبُوْيَعْقُوْب
دوهم شرط: د واؤ او یاء کلمه به د اسم اَفْعَلُ په وزن نه وي،اختر ازي مثال:اَيْوَمٌ دریم شرط: د واؤ او یاء نه به مخکې ساکن وي،اختر ازي مثال:قُوَيْلی
څلورم شرط: د حرف ساکن سکون به لازمي وي،اختر ازي مثال:قَوْی
پنځم شرط: واؤ او یاء به د څه شي نه بدل نه وي،اختر ازي مثال:بُوَيْعُ
شپږم شرط: واؤ مذکور به د لاندې دریو صفتونو څخه وي:یعنی
۱: واؤ به د عین کلمې په مقابل کې وي. ۲: واؤ او یاء به د یایئ تصغیر څخه وروسته وي.
۳: واؤ او یاء به په مکبر کې سالموي. اختر ازي مثال:قُوَيْوِلٌ،قُوَيْوِلَةٌ
اتفاقي مثال: د مُقَيْوِلٌ او مُقَيْوِلَةٌ څخه د مُقَيِّلٌ او مُقَيِّلَةٌ ویل جائز دي.

خلاصه دقانون داده چي کله واو او یاء راشي په یوه کلمه یا په حکم دیوه کلمه کي او کلمه په وزن دَاَفْعَلُ نه وي او لمړی به ساکن په سکون لازي سره وي او عوض دڅه شي هم نه وي او دا دری صفات هم پکي موجود نه وي اول: واو به دعین کلمي مقابل کي وي دوهم: واو او یاء به دیاء تصغیر نه وروسته وي دریم: واو او یاء به په واحد کي متحرک یاسالم وي

نو وجوبا واو یاء کیږي او په یاء کي مدغم کیږي

او کله چي واو او یاء راشي په یوه کلمه یا په حکم دیوه کلمه کي او کلمه په وزن دَاَفْعَلُ نه وي او لمړی به ساکن په سکون لازي سره وي او عوض دڅه شي هم نه وي او دا دری صفات هم پکي موجود وي اول: واو به دعین کلمي مقابل کي به وي دوهم: واو او یاء به دیاء تصغیر نه وروسته وي دریم: واو او یاء به په واحد کي متحرک یاسالم وي

نو دلته جوازا واو یاء کیږي او په یاء کي مدغم کیږي

قوله هر واو وياء كه جمع شوند دريک كلمه ياحكم وى سوى اسم بروزن اَفْعَلُ اول ايشان ساكن لازم غير باشد ان واو را ياء كرده دريادغام مى كنند وجوبا

په دغه عبارت سره اول حكم ته اشاره شويده ادغام ځكه واجب دى چې واو او ياء راغلل دواړه له يوه جنس څخه دي چې جنسيت يى په علتيت كي دى نو واو ياء شو ياء په ياء كي مدغم شوله ترڅو كلمه كي خفت راشي

يا بايد داسي ووايو چې واو او ياء راغلل اول يى ساكن وو مانع داعلال نه وو موجود سره دسكون داول نه نو ادغام وشو تخفيفا او دا وجه داولي وجهي په نسبت بنه وجه ده ځكه اجتماع د حرفين من جنس واحد ډيرو ځايونو كي راغلي ده خو اعلال ندى شوى لكه عَصَایَ وغيره

دوهمه خبره دا چې كله واو او ياء سره جمع شي اول ساكن هم وي نو هميشه به واو په ياء بدليږي كه واو متقدم وي يا متأخر ځكه اصل مقصود داعلال نه تخفيف دى او تخفيف په ياء كي وي (مراح يو سل اته شپيتمه ص)

ياځكه ياء واو نه شوله چې دمدغم فيه همدا تقاضى وه چې زما مدغم د زما له جنس څخه وي (حواله مذكوره)

سوى واو عين كلمه بعد از پاى تصغير كه در مكبر متحرک باشد چراكه آن واو را بيا بدل كنند جوازا

پدي سره دوهم حكم ته اشاره شويده لكه مُقَيْوِلَة ټول شرايط دجوازي قانون پكي موجود دي نو ادغام وشو ترڅو كلمه كي تخفيف راشي څه ناڅه

قانون: هر حرف علت كه بباعثى بيفتد بوقت دورشدن آن باز آيد وجوبا

يولسم قانون

ديدي قانون نوم دى د قُوْلَنَّ قانون،په دي قانون كي يو حكم او يو شرط دى.
حكم: د حذف شوي حرف علت را واپس كول واجب دي.
شرط: د حرف علت د حذف كولو سبب ختم شوى وي،اختزازيمثال:قُلْنَ
اتفاقيمثال: د قُلْ څخه د قُوْلَنَّ ويل واجب دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

خلاصه دقانون داده چي كله هر هغه حرف علت چي دحذف كيدلو باعث او سبب يى ختم شي نو بيرته يى رامعاد كول واجب دي

لكه قُوْلنَّ اصل كي قُلْ وو دنون تاكيد پيوسته كيدلو نه وروسته نون ثقيله دا تقاضى كوي چي ماقبل زما د متحرک وي ځكه التقاء الساكنين بيا لازميږي نو لام كلمي ته حركت وركړل شو واو بيرته را معاد شو

همدارنګه لَمْ يَقُلْ كي هم دنون تاكيد پيوسته كيدلو نه وروسته واو را معاد كيږى نو لَمْ يَقُولَنَّ ويل شي هكذا هلم جرا

يايى هم پري قياس كړه

تمت بعون الملک العلام
داجوفو قوانين سره د مكمل تفصيل نه پاى ته ورسيدل
ليكوال العبدالاحقر عبيدالله عبيد الماتريدي گلشاخيل
استاذ: استاذ ضياء المدارس فضليه اورگون حضرت مولانا حميدالله نورى بارک الله في عمره
تاريخ
محرم// ١٥ ١٤٤٠----------١٩ ١٣٩٧/٧---------11 /2018/10

قانون: هر واو ویای که واقع شود بعد از الف زائده برطرف یا در حکم طرف آن را به همزه بدل کنند وجوبا

اول قـــــــــــــــانـــــــــــــــون

ديدې قانون نوم دی د دُعَاءٌ او مِرْمَاءٌ قانون،په دې قانون کې یو حکم او دوه شرطونه دي.
حـکـم: واؤ او یاء په همزه سره بدلول واجب دي.
اولشـرط: واؤ او یاء به د الف زائده څخه وروسته وي،اختـرازيمثال:ثَاىٌ،رَاىٌ
دوهـمشـرط: واؤ او یاء به حقیقتًا یا حکمًا په آخر کې وي،اختـرازيمثال:شِقَاوَةٌ،هِدَايَةٌ
اتـفـاًقــيمـثـال: د دَعَاوٌ څخه د دُعَاءٌ او د مِرْمَاىٌ څخه د مِرْمَاءٌ ویل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چې کله واو او یاء دلام کلمي په مقابل کي دالف زائده نه وروسته راشي نو دا به په همزه سره بدلیږي

قوله هر واو ویای که واقع شود بعد از الف زائده برطرف یا در حکم طرف آن را به همزه بدل کنند وجوبا

واو او یاء چې دلام کلمي په مقابل کي راشي نو په همزه سره به بدلیږي ځکه واو او یاء چې په طرف کي راشي نو دا موجب دثقل وي او حرکات چې هم وي پري نور هم ثقل ګرځي

ځکه عموما دوه صورتونه دي چې موجب دثقل کرځي

اول صورت: کله چې واو او یاء دالف زائده څخه وروسته راشي

دوهم صورت؛ کله چې دواو او یاء ماقبل واو ساکنه راشي نو په دغه صورت کي هم دا موجب دثقل ګرځي

ولي دا دوه صورتونه موجب دثقل وي نو جواب دادی چې دا الف زایده په حکم دعدم کي دی نو دا داسي شو لکه واو او یاء چې وروسته دحرف متحرکه څخه واقع شوي وي (علم الصیغه یوځلوینتمه ص)

Maktaba Tul Ishaat.com

يا واو او ياء راغلل په طرف کي دماقبل انفتاح له وجهي واو او ياء په الف سره بدل شول اجتماع دالفينو راغله حذف ممکن نه وو ځکه دماضي سره التباس راتله نو الف ثاني ته يی حرکت ورکړو نو همزه تري جوړه شوه (مراح يوسلو شپږ پنځوسمه ص)

او الف حاجز قوييه ندی ځکه يی اعتبار هم ندی ورکړی نو ماقبل مفتوح شو

قانون: هرواو وی که واقع شود مقابله لام کلمه وحرکت ماقبل او مکسور باشد آن را بيا بدل کنند

دوهـــــــم قـــــــــانـــــــــــــون

ديدې قانون نوم دی د دُعِیَ قانون،په دې قانون کې يو حکم او دوه شرطونه دي.
حـکـم: واؤ په ياء سره بدلول واجب دي.
اولشـرط: واؤ به د لام کلمې په مقابل کې وي،اختررازيمثال:وُعِدَ
دوهـمشـرط: د واؤ ما قبل به مکسور وي،اختررازيمثال:دَعَوَ
اتـفـاقــيمـثـال: د دُعِوَ څخه د دُعِیَ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چي هر واو دلام کلمې مقابل کي راشي ماقبل يی مکسور وي نو په ياء سره به بدليږي

قوله هر واو وی که واقع شود مقابله لام کلمه وحرکت ماقبل او مکسور باشد آن را بيا بدل کنند

اوله وجه دابدال:واو ماقبل مکسور چي دلام کلمي په مقابل کي راشي نو په ياء سره به بدليږي ځکه چي دواو ماقبل مکسور دی هغه تقاضی کوي چي ماقبل د زما له جنس څخه شي لکه دَاعِوَةٌ. دُعِیَ او داسي نور

دوهمه وجه دابدال : يی داده چي دلته په واو باندي فتحه ده (دُعِیَ) او فتحه ضعيفه ده او ماقبل (دُعِوَ) دواو کسره ده او کسره قوي ده نو ضعيف دقوي په مقابل کي راغله او کله چي ضعيف د قوي په مقابل کي راشي نو ضعيف داسي دی لکه معدوم نو واو داسي شو لکه

حكما چي ساكن وي نو لكه څرنګه چي واو ساكن حقيقة ماقبل مكسور وي په ياء حقيقةسره بدليږي نو داسي به واو ساكنهذحكما هم په ياء سره بدليږي(مراح يوسل اوه څلويښتمه ص)

فايده: اسماء جامده وو كي اعلال نه كيږي ځكه ضعيف دي او دتغير او تبديل نه په امان دي لكه دِوَلَ خو كه چيري دفعل په وزن وو بيا اعلال پكي كيدلى شي لكه دَوَرَ په وزن د فَعَلَ (مراح)

قانون: هر يايى كه واقع شود در اخر فعل وفتح غير اعرابى وماقبلش مكسور باشد كسره ماقبلش به فتح بدل كرده جوازا ويارا با الف بدل كنند وجوبا بر لغت بنى طى

دريـــــــــــمقـــــــــــانـــــــــــون

ديدې قانون نوم دى د دُعَا قانون،په دې قانون كې يو حكم او څلور شرطونه دي.
حـكـم: د ياء ما قبل كسره په فتحه سره بدلول جائز او بيا په الف سره بدلول واجب دي.
اولشـرط: ياء به د فعل په آخر كې وي،اختزايىمثال:رَامِيَةٌ
دوهـمشـرط: په ياء به فتحه وي(ياء به مفتوح وي)،اختزايىمثال:يَرْمِىُ
دريـمشـرط: فتحه به غيراعرابي وي،اختزايىمثال:لَنْيَّرْمِىَ
څـلـورمشـرط: د ياء ما قبل به مكسور وي،اختزايىمثال:رَمَىَ
اتـفـاقــيمـثـال: د دُعِىَ څخه د دُعَىَ ويل جائز او بيا دُعَا ويل واجب دي

خلاصه دقانون داده چي هره ياء چي واقع شي دفعل په اخر كي او مفتوحه وي او فتحه يى اعرابي نه وي او ماقبل يى هم مكسور وو نو ماقبل دياء به په فتحه بدليږي جوازا او ياء به دماقبل انفتاح له وجهي په الف سره بدليږي وجوبا

قوله هر يايى كه واقع شود در اخر فعل وفتح غير اعرابى وماقبلش مكسور باشد كسره ماقبلش به فتح بدل كرده جوازا ويارا با الف بدل كنند وجوبا بر لغت بنى طيهر

Maktaba Tul Ishaat.com

پدي قانون کي دعلماءوو بيلابيل اقوال دي شارح شافيه شيخ رضي وايى چي دا قانون صرف تر فعل پوري خاص ندى (لکه چي صاحب ارشاد الصرف ورته اشاره کړيده) بلکي په اسم کي هم جوازا راتلاى شي لکه دنَاصِيَةٌ څخه دنَاصَاةٌ ويل جايز دي (تنوير اردو شرح ارشاد الصرف دوه سوه دوه ديرشمه ص)

خو په (صرف بهترال کتاب يوسلو اويايمه ص) کي راغلي دي چي په دغه قانون کي دبيلابيلو علماء اقوال دي

اول قول: بعضي وايى چي دا قانون صرف دثلاثي مجردو دماضي لپاره دى لهذا د قَاضِي څخه قَاضَا ويل ندى جايز عندهم

دوهم قول: بعضي وايى چي داقانون په دوه ځايونو کي جاري کيږي اول په ثلاثي مجرد ماضي کي دوهم په هغه اسم کي چي دفّاعِلةٌ په وزن سره راغلى وي لکه دَاعِيَةٌ څخه دَاعَاةٌ او بَاقِيَةٌ څخه بَاقَاةٌ ويل

دريم قول دادى چي دا قانون صرف په جمع دمفاعل کي جاري کيږي لکه دصَحَارِىْ څخه صَحَارَى دمَهَابَىُ څخه مَهَابَى ويل

نو خلاصه به ييرداشي چي دا قانون په ماضي ثلاثي مجردو کي قياسا جاري کيږي او په هغه اسم چي په وزن د مفاعل راغلي وي غير قياسا قليلا جاري کيږي (معارف الصرف شرح ارشاد الصرف دوه سوه درويشتمه ص)

وجه دابدال دکسري په فتحي سره داده چي ياء باندي فتحه ده ماقبل يى مخالف دى نو دفتحي دمناسبت له وجهى يى ماقبل د فتحي ته هم فتحه وركړه(فصول اكبرى اوه پنځوسمه ص)

قانون: هر واو ويايى مضموم يا مكسور كه واقع شود بمقابله لام كلمه بعد از ضمه وكسره حركت آنرا حذف مى كنند وجوبا بشرطيكه درميان كسره وواو وضمه وياء نه باشد

څـــــــلـــورم قـــــــــانـــــــــون

ديدې قانون نوم دى د يَدْعُوْ،يَرْمِىْ قانون،په د قانون کې يو حکم او شپږ شرطونه دي.
حـکـم: د واؤ او ياء حرکت حذف کول واجب دي.

اولشـرط: واؤ او ياء به مضموم يا مكسور وي،اختزازيمثال:لَنْيَّدْعُوَ،لَنْيَّرْمِيَ
دوهـمشـرط: واؤ او ياء به د لام كلمې په مقابل كې وي،اختزازيمثال:يَقْوُلُ،يَبْيِعُ
دريـمشـرط: د واؤ او ياء ما قبل به مضموم يا مكسور وي،اختزازيمثال:يُدْعَوُ،يُرْمَىُ
څـلـورمشـرط: واؤ به د ضمه او ياء تر منځ او ياء د كسره او واؤ تر منځ نه وي ،
اختزازيمثال: تَدْعُوِيْنَ،تَرْمِيُوْنَ
پـنـځـمشـرط: واؤ او ياء به بدل له همزې څخه نه وي،په جوازي قانون كې،اختزازيمثال:
كُفُوٌ، يَسْتَهْزِىُ
شـپـږمشـرط: د واؤ او ياء حركت به د همزې نه نه وي نقل شوى،اختزازيمثال:يَسُوُ،يَجِىُ
اتـفـاقـيمـثـال: د يّدْعُوُ،يَرْمِىُ څخه د يَدْعُوْ او يَرْمِىْ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده هرواو مضمومه يامكسوره ماقبل يى هم مضموم يامكسور چې دلام كلمې په مقابل كې راشي بدل له همزي هم نه وو حركت يى هم منقول له همزي نه وو پدي شرط چې واو او ياء به دكسري او واو يا دضمي او ياء ترمنځ نه وى نو دواو او ياء حركت به حذف كيږي

قوله هر واو ويايي مضموم يا مكسور كه واقع شود بمقابله لام كلمه بعد از ضمه وكسره حركت آنرا حذف مى كنند وجوبا

وجه دحذف يى داده چې واو او ياء حرف علت ضعيفه دي نو چى مضموم او مكسور هم شي نو ثقل په ثقل لازميږي نو ددفع دثقل نه دواو او ياء حركت حذف كيږي

يوشرط داوو چې واو او يابه مضموم يامكسور وي ځكه كه مفتوح وو بيا حذف نه كيږي په خپل حال پريښودل شي دخفت له وجهي او كه ماقبل يى مفتوح وو بيا به هم په خپل حال پريښودل شي ځكه چې بيا هم خفت شته او بل داچې په طرف كي به وي ځكه كه وسط كي واى نو نقل حركت حذف حركت دواړه جايز وو

بشرطيكه درميان كسره وواو وضمه وياء نه باشد

يو شرط ورته دا دى چې واو او ياء به د دضمي او ياء ترمنځ نه وي ددي مثال لكه (تَدْعُوِيْنَ.)او د كسري او واو ترمنځ چې واقع وي ددي مثال لكه (تَرْمِيُوْنَ)

Maktaba Tul Ishaat.com

دا ځکه که داسي واقع شي بيا به د اجوفو قيل جوازي قانون پکي جاري کيږي هغه هم نقل حرکت سره نه حذف حرکت (ارشاد الصرف يوشپيتمه ص لسمه ح)

قانون: هر واو كه واقع شود سيوم جا چون صَائِدٌ شد وحركت ماقبلش مخالف شود آن را بياء بدل كنند وجوبا

پـــــــنـــــــځـــــمقـــــــانـــــــــون

ديدې قانون نوم دی د يُدْعی قانون،په دې قانون کې يو حکم او څلور شرطونه دي.
حـکـم: واؤ په ياء سره بدلول واجب دي.
اولشـرط:واؤ بهد دريم ځایځخه ترقيګړیوي(څلورمځایتهبهتللیوي)،اختر ازيمثال:دَعَوْنَ
دوهمشـرط: واؤ به په اصل کې په دريم ځای کې وي،اختر ازيمثال:اِسْتَوْفی
دريـمشـرط: د واؤ ما قبل به مضوم نه وي،اختر ازيمثال:يَدْعُوْ
څـلـورمشـرط: د واؤ ما قبل به مدّه زائده نه وي،اختر ازيمثال:مَدْعُوْوٌ
اتـفـاقــيمـثـال: د يُدْعَوُ څخه د يُدْعَیُ او بيا يُدْعی ويل واجب دي

خلاصه دقانون داده واو کله دکلمي په اخر کي واقع شي يعني يعني دريم ځای کي خو ددريم ځای څخه يی ترقي کړي وي څلورم پنځم او يا صاعدا ځای ته ترقي وکړي او حرکت ماقبل يی مضموم هم نه وو نو واو به په ياء سره بدليږي

ځکه چی لام کلمه يا اخر دکلمي محل دتغير او تبديل دی او په زيادت دحروفو سره کلمه کي ثقل لازميږي او په ياء سره ځکه بدليږي چي ياء نسبت واو ته خفيفه ده (فوايد کريميه يو سلو څلور څلويښتمه ص. / علم الصيغه څلويښتمه ص اتمه ح)

يو شرط: ورته داوو چي واو به اصل کي دريم ځای کي بيا به يی ترقي څلوررم پنځم ځای ته کړيوي پدي سره احتراز راغی د هغه واو نه چي په اول او دوهم اوځای کي واقع وي او بيا ترقي وکړي څلورم يا پنځم ځای ته نو بيا په ياء سره نه بدليږي لکه اِسْتَوْقَدَ .. اصل کي وَقَدَ وو

قانون: هر واو لازم غير بدل از همزهدكه واقع شود در اخر اسم متمكن ماقبلش مضموم باشد يا واو ومده زائده باشد در جمع آن را بيا بدل كنند وجوبا ودرمفرد مانع از وجوب اعلال است آن واو مده زائده مگر وقتيكه ماقبلش ديگر واو متحرک باشد

شـــــــــپـــږم قـــــــــانـــــــــــون

ديدې قانون نوم دی د دِعِیٌّ اول قانون،په دې قانون کې يو حكم او څلور شرطونه دي.
حـكـم: واؤ په ياء سره بدلول واجب دي.
اولشـرط: واؤ به لازمي وي،اختزازيمثال:ضَارِبُوْا
دوهـمشـرط: واؤ به بدل له همزې څخه نه وي،اختزازيمثال:كُفُوٌ
دريـمشـرط: واؤ به د اسم متمكن په آخر كې وي،اختزازيمثال:هُوَ
څـلـورمشـرط: د واؤ ما قبل به مضموم وي يا د واؤ ما قبل مدّه زائده به په جمع كې وي ، اختزازي مثال:مَدْعُوْوٌ
اتـفـاقـيمـثـال: د تَبَنُوٌ څخه د تَبَنُّیٌّ او د دُعُوْوٌ څخه د دُعُوْیٌ او بيا دُعُیٌّ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چې كله واو مضمومه لازمي غير مبدل ازهمزه په اسم متمكن كې راغی ماقبل يی يا مضموم وو يا دواو ماقبل بل واو مده زائده راشي نو دا واو به په ياء سره بدليږي

دا ځكه چې كله واو دلام كلمي مقابل كې راشي نو لام كلمه محل دتغير او تبديل وي او ياء نسبت سره واو ته اخفه ده (زنجانی اتيايمه ص څلورمه ح)

نو لهذا په دُعُوْوٌ كې اخري واو په ياء سره بدل شو دُعُوْیٌ تري جوړ شو

وروسته دقُوَيِّلٌ قانون جاري شو واو ياء شو ياء په ياء كې مدغمه شوه دُعُیٌّ شو

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله دراخر اسم متمكن

داسم نه احتراز راغی له فعل نه ځکه چي کله واو دفعل په اخر کي راشي نو ساکن کيږي لکه يَدْعُوْ نو اوس که بدل شي نو يَدْعُىْ به شي ياء دا تقاضی کوي چي ماقبل زما دمکسور شي نو يَدْعِىْ به شي نو بيا التباس د يَرْمِىْ سره راځي (زرادي)

بل شرط دا وو چي د واو ماقبل به مضموم وي ولي که مکسور وو يا مفتوح نو په ياء او الف سره بدليږي

فائده:

اول: که چيري واو مده زائده په مفرد کي وي او ماقبل دواو مده زائده نه بل واو نه وي نو اخري واو په ياء سره بدلول جايز دی لکه مَدْعُوْوٌ څخه مَدْعُوْىٌ

دوهم: که چيري واو مده زائده په مفرد کي وي او ماقبل د واو مده زائده بل واو وي وي نو اخري واو په ياء سره بدلول واجب دي لکه مَقْوُوْوٌ څخه مَقْوُوْىٌ

قانون: هر ياء مشدد يا مخفف که واقع شود در اخر اسم متمکن ماقبلش اگر يک حرف مضموم باشد ضمه ان را بکسره بدل کنند وجوبا واگر دوباشند چون دُعُىٌّ ضمه متصل را وجوبا غير متصل را جوازا

اووم قـــــــــــانـــــــــــــون

ديدې قانون نوم دی د دِعِىٌّ دوهم قانون،په دې قانون کې دوه حکمونه او د هر حکم لپاره دوه،دوه شرطونه دي.

اولحـکـم: د ياء ما قبل ضمه په کسره سره بدلول واجب دي.

اولشـرط: ياء به د اسم متمکن په آخر کې وي،اختزازيمثال:هِىَ

دوهمشـرط: د ياء څخه مخکې به يو حرف مضمومه وي،اختزازيمثال:دُعُىٌّ

اتـفـاقـيمـثـال: د تَبَنُّىٌّ څخه تَبَنِّىٌ او د تَبَنِّىٌ څخه د تَبَنٍ ويل واجب دي.

دوهمحـکـم: د ياء ما قبل متصلې ضمې په کسرې سره بدلول واجب او ضمه غير متصله په کسره سره بدلول جائز دي.

اولشـرط: ياء به د اسم متمكن په آخر كې وي،اختـرازيمثال:هِيَ
دوهـمشـرط: د ياء څخه مخكې به يوه څخه زيات حروف زائده مضمومه وي،اختـرازي مثال: تَبَنُّىٌ
اتـفـاقــيمـثـال: د دُعُىٌ څخه د دُعِيٌ ويل واجب او د دِعِيٌّ ويل جائز دي.

خلاصه دقانون داده چي كله ياء داسم متمكن په اخر كي راشي ماقبل به يى خالي نه وي يابه يى ماقبل يوه ضمه وي يا به زياتي وي كه يوه وي نو په كسري سره يى بدلول واجب دي او كه ضمي ديوي څخه زياتي وي نو متصله ضمه په كسره سره بدلول واجب او غير متصل بدلول جايز دي

او دل ياء هم عامه ده كه مشدده وي او كه غير مشدده وي

ضمه متصله په كسره سره بدلول جايز او غير متصله په كسره سره بدلول جايز

داځكه چي ياء په طرف كي راغله ماقبل يى مضموم وو نو دا به مكسور كيږي لپاره دمناسبت دياء ځكه ياء دا تقاضى كوي چي ماقبل زما دى له زما له جنس څخه وي نو اعلال د تَبَنٍّ داسي وشو چي په اصل كي تَبَنُوٌ وو وو د دُعُىٌ اول قانون له وجهي واو په ياء بدل شو نو تَبَنُىٌ شو نو ضمه متصله دهمدي قانون په بناء په ياء سره بدل شو نو تَبَنِّىٌ شو وروسته ديدعو يرمى قانون جاري شو نو تَبَنِّيْنْ شو التقاء الساكنين له وجهى ياء حذف سوه او تنوين په نون جاري شو نو تَبَنٍّ شو

فائده:

كله چي التقاء الساكنين دنون تنوين په واو. ياء. الف. وكي ديوه ترمنځ راشي نو واو. ياء. الف به حذف كيږي او نون تنوين به نه حذف كيږي ځكه نون تنوين اصل كي نون ساكن دى نون ساكن حرف صحيح دى نو دحرف صحيح او حرف علت ترمنځ چي كله التقاء الساكنين راشي نو حرف علة به حذف كيږي (زنجانى نهه اويايمه ص شپږمه ح)

قانون: هر حرف علت كه واقع شود دراخر فعل مضارع معلوم وقت دخول جوازم يابناء كردن امر حاضر حذف كرده شود وجوبا.

Maktaba Tul Ishaat.com

اتـــــــــــم قـــــــــانـــــــــــون

ديدي قانون نوم دى د لَمْيَدْعُ او لَمْيُدْعَ قانون،په دې قانون کې يو حکم او دوه شرطونه دي.
حـکـم: د حرف علت حذف کول واجب دي.
اول‌شـرط: حرف علت به د مضارع په آخر کې وي،اختـرازي‌مثال:دَعَوَ،رَمَىَ
دوهـم‌شـرط: په مضارع معلوم باندې حروف جوازم داخل وي يا د امر جوړولو اراده دې وي،اختـرازي‌مثال:يَدْعُوْ،يُدْعى،تَدْعوْ (چې اراده دى نه وي).
اتـفـاقـي‌مـثـال: د يَدْعُوْ،يُدْعى څخه د لَمْيَدْعُ،لَمْيُدْعَ او د تَدْعُوْ څخه د اُدْعُ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده دفعل مضارع په اخر کې چې حرف علت ساکن راشي نو دجوازمو په دخول سره به هغه حذف کيږي

وجه دحذف: يى داده چې دفتحي کسري او ضمي د الف . ياء. او واو سره شدت مناسبت لري نو کله چى دفعل مضارع اخر کې حرکت نه وو نو هرهغه څه چې مناسب دحرکت وو هغه حذف شو چې حرف دى

وجه دحذف دحرف : داده چې ترڅو حذف دحرف دال شي په عمل عامل جازمه باندي (زنجاني څلور اويايمه ص اوله ح)

(فائده : فتحه . کسره. ضمه. دالف. ياء.واو. سره شدت مناسبت لري)

په حذف د حرف علت کې داخبره وشوه چې حرکات ثلاثه دحروف ثلاثه سره شدت مناسبت لري نو مناسبت يى دادى

اول: په تغير کې لکه څرنګه چې په دخول دعواملو سره حرکاتو کې تغير تبديل راځي داسي په حروفو کې هم راځي

دوهم: کله کله حروف دحرکاتو يا حرکات دحروف قايمقام ګرځي يعنى يو دبل لکه اُدْعُنَّ کې ضمه دال ده په حذف دواو اِرْمِنَّ کې کسره دال ده په حذف دياء باندي.(زنجاني څلور اويايمه ص اوله ح)

قانون: در التقاء الساكنين على غير حده اگر ساكن اول غير مده واو جمع باشد ان را حركت ضمه مى دهند وجوبا واگر ساكن اول مده يايى واحده باشد ان را حركت كسره مى دهند وجوبا

نـــــــــهـــم قـــــــــانـــــــــــون

ديدې قانون نوم دى د لِتُدْعَوُنَّ،لِتُدْعَيِنَّ قانون،په دې قانون دوه حكمونه او د هر حكم لپاره دوه،دوه شرطونه دي.

اولحـكـم: واؤ ته حركت ضمه ور كول واجب دي.

اولشـرط: التقاء ساكنين به على غير حدهِ وي،اختـرازيمثال:اِحْمَارَّ

دوهـمشـرط: اول ساكن واؤ غير مدّه په جمع كې وي،اختـرازيمثال:لَوِاسْتَطَعْنَا

اتـفـاقـيمـثـال: د لِتُدْعَوْنَّ څخه د لِتُدْعَوُنَّ ويل واجب دي.

دوهـمحـكـم: ياء ته حركت كسره ور كول واجب دي.

اولشـرط: التقاء ساكنين به على غير حدهِ وي،اختـرازيمثال:اِحْمَارَّ

دوهـمشـرط: اول ساكن ياء غير مدّه په واحد كې وي،اختـرازيمثال:ضَارِبَيِالْقَوْمِ

اتـفـاقـيمـثـال: د لِتُدْعَيْنَّ څخه د لِتُدْعَيِنَّ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده كله چې كله واو او ياء ساكنين على غير حده راشي واو په جمع كي غير مده هم وو او ياء په واحده كي غير مده وه نو اوس به واو ته حركت ضمه او ياء ته به حركت كسره وركول كيږي

قوله ان راحركت كسره مى دهند وجوبا

واو ته به حركت ضمه وركول كيږي ځكه مورِ يوشرط ورته دا ذكر كړو چې ماقبل به يى مده نه وي يعنى مفتوح به وي نو دغه صورت كي به واو او ياء نه حذف كيږي او واو ته به ضمه ياء ته به كسره وركول كيږي

اوله وجه: كه چيري واو او ياء مده واى نو حركت ضمه او كسره نه وركول كيدله ځكه ماقبل ضمه او كسره دال وه په حذف د واو او ياء باندي خو اوس چې مده نده نو كه واو او

Maktaba Tul Ishaat.com

ياء حذف شي نو قرينه نشته په حذف دواو او ياء باندي نو خپله واو او ياء راوړل شول (زنجاني څلوښتمه ص دوهمه ح)

دوهمه خبره: داچي واو ياته به حركت ورمول كيږي ځكه بيا التقاء الساكنين على غير حده راځي

دريمه: خبره يادا چي واو ته به ضمه او ياء ته به كسره وركول كيږي اگر كه واو حرف علت دى تحمل دحركت نشي كولاى ليكن دماقبل دانفتاح له وجهي ثقل ختم شو چ(مراح يوسلو څلور اتيايمه ص)

قانون: واو لام فُعْلَى اسمى ياء ميشود وجوبا وياء لام فَعْلَىٰ واو ميشود وجوبا

لـــــــــســـــم قـــــــــانـــــــــون

ديدې قانون نوم دى د فَتْوى او تَقْوى قانون،په دې قانون كې دوه حكمونه او د هر حكم لپاره درى درى شرطونه دي.
اولحـكـم: واؤ په ياء سره بدلول واجب دي.
اولشـرط: واؤ به د لام كلمې په ما مقابل كې وي،احترازيمثال:قَوْلَى
دوهـمشـرط: كلمه به د فُعْلَى په وزن وي،احترازيمثال:دَعْوَى

دريم شرط: فُعْلَى اسمي به وي احترازي مثال لكه غُزْوَى
اتـفـاقـيمـثـال: د دُنْوى څخه د دُنْيَا او د دُعْوى څخه د دُعْيَا ويل واجب دي.غُزْوَى

فايده: دُنْوَى دفُعْلَى حقيقي مثال دى دُعْوَى دفُعْلَى حكمي مثال دى
دوهـمحـكـم: ياء په واؤ سره بدلول واجب دي.
اولشـرط: واؤ به د لام كلمې په ما مقابل كې وي،احترازيمثال:بَيْضَا
دوهـمشـرط: كلمه به دفَعْلَى په وزن وي احترازي مثال لكه رَمَى

دريم شرط: فَعْلَى اسمي به وي احترازي مثال لكه هُدَى
اتـفـاقـيمـثـال: د فَتْىَ څخه د فَتْوى او د تَقْىَ څخه د تَقْوى ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده كله چي واو د فُعْلَى اسمي لام كلمي مقابل كي راشي نو په ياء سره به بدليري او كله چي ياء په فَعْلَى اسمى لام كلمي مقابل كي راشي نو په واو سره وجوبا بدليري

وجه دابدال يى داده چي كله واو او ياء په فعلى صفتي كي راغلي نو په خپل حال پريښودل شي نو په فُعْلَى صفتي كي به ځكه بدليري چي فرق يى راشي دى فُعْلَى صفتي سره خو عكس ونه شو چي فعلى صفتي كي ابدال وشيذفعلى اسمي په خپل حال پريښودل شي ځكه صفت ثقيل دى په نسبت سره اسم ته (فصول اكبري)

(دفُعْلَى او فَعْلَى تفصيلي جدول.) عبيد.

وزن	اسمي ام صفتي واوي ام يايى	حكم	مثال
فُعْلَى	اسمي واوي	سلمت	خُزْوَى اسم للموضع
فُعْلَى	اسمي يايى	سلمت	فُتْيَى
فُعْلَى	صفتي واوي	قلبت ياءا	دُنْيَا. عُلْوَى.
فُعْلَى	صفتي يايى	سلمت	وُلْيَى
فَعْلَى	اسمي واوي	سلمت	دَعْوَى
فَعْلَى	اسمي يايى	ابدلت واوا	فَتْوَى تَقْوَى. بَقْوَى
فَعْلَى	صفتي واوي	سلمت	نَشْوَى
فَعْلَى	صفتي يايى	سلمت	صَدْيَا. خَزْيَا

فائده: فُعْلَى صفتي يايى بايد په خپل حال پريښودل شي اما په قُصْوَى چي اصل كي قُصْيَا ويلى شوى واى نو دا شاذ دى قياسا او فصيح دى استعمالا (جامع الدروس العروبية دوه سوه څلور شپيتمه ص) جدول كونكى العبدالاحقر عبيد الله عبيدالماتريدي گلشاخيل)

فائده: فُعْلَى تفضيلي په حكم دفُعْلَى اسمي كي ده (ارشاد الصرف دوه پنځوسمه ص)

Maktaba Tul Ishaat.com

قانون: هر همزه كه واقع شود بعد از الف مفاعل قبل ياء در مفرد ودر مفرد قبل ازياء بود ان را بياء بدل كنند وجوبا مگر ان همزه كه واو واقع شده بود در مفرد بعد الف چهارم جا چراكه ان همزه را درجمع بواو مفتوحه بدل كنند

يـــــــوولـــــــــســـم قـــــــانـــــــون

ديدې قانون نوم دى د رَخَايَا او اَدَاوَا قانون،په دې قانون كې دوه حكمونه،د اول حكم لپاره دري شرطونه او د دوهم حكم لپاره څلور شرطونه دي،

اول حكم: همزه په يايي مفتوحه بدلول واجب دي.

اول شـرط: همزه به د الف مفاعل څخه وروسته وي،اختـرازيمثال: قَائِلٌ

دوهـم شـرط: همزه به د ياء څخه مخكې وي،اختـرازيمثال: شَرَائِفُ

دريـم شـرط: همزه به په مفرد كې تر ياء څخه مخكې نه وي،اختـرازيمثال: جَوَائِىُ اتـفـاقـي مـثال: د رَحَائِىُ څخه د رَحَايَىُ او بيا رَحَايَا او د خَطَائِىُ څخه د خَطَايَىُ او بيا د خَطَايَا ويل واجب دي.

دوهـم حـكـم: همزه په واؤ مفتوحه سره بدلول واجب دي.

اول شـرط: همزه به د الف مفاعل څخه وروسته وي،اختـرازيمثال: قَائِلٌ

دوهـم شـرط: همزه به د ياء څخه وروسته وي،اختـرازيمثال: شَرَائِفُ

دريـم شـرط: همزه به په مفرد كې د ياء څخه مخكې نه وي،اختـرازيمثال: جَوَائِىُ

څـلـورم شـرط: همزه به په داسې جمع كې وي چې د هغه په مفرد كې به واؤ په څلورم ځاى كې به د الف څخه وروسته وي،اختـرازيمثال: رَحَائِىُ

اتـفـاقـي مـثال: د اَدَائِىُ څخه د اَدَاوَىُ او بيا د اَدَاوَا ويل واجب دي.

قوله هر همزه كه واقع شود بعد از الف مفاعل قبل ياء در مفرد ودر مفرد قبل ازياء بود ان را بياء بدل كنند وجوبا

په اول حكم كي كله چي همزه دالف مفاعل نه وروسته راشي او همزه هم دياء څخه مخكي وه په داسي حال كي چي په مفرد كي دالف نه مخته وه نو دا همزه به په ياء سره بدليږي لكه رَخَائِىُ اص كي رَخَايِىُ ده دشرايف په قانون سره رَخَائِىُ شو

وجه دابدال يى داده چي دلته اجتماع ددوه ثقيلينو راغلي ده يوه همزه مكسوره ده بله ياهم په طرف كي راغلي ده نو دا موجب دثقل وه نو همزه به تخفيفه په ياء مفتوحه سره بدليږي په واو مفتوحه بدله نشوه ياء ورته انتخاب شوه ځكه چي ياء نسبت واته خفيفه ده

يابله وجه يى داده چي همزه او ياء دواړه قريب المخرج دي (علم الصيغه دوه ديرشمه ص اومه ح)

(د رَخَايَا په تعليل كي اختلاف)

په رَخَايَا كي دوه مذهبه دي يو مذهب سيبويه دى دوهم مذهب خليل دى

امام سيبويه وايى: چي د رَخَايَا مفرد رَخِيْوَةٌ وو دجمع اقصى فائده جاري شوه نو رَخَايِوُ شو دشرائف قانون جاري شو نو رَخَائِوُ شو وروسته د دُعِىَ قانون جاري شو نو رَخَائِىُ شو اوس همزه مكسوره او ياء مطرفه يوځاى شول همزه په ياء مفتوحه بدله شوه رَخَايَىُ شو دقال قانون جاري شو رَخَايَا شو

امام خليل رح بيا زيات طوالت كوي هغه وايى چي رَخَايَا اصل كى رَخِيْوَة وو جمع اقصى فايده جاري شوه رَخَايِوُ شو دشرائف قانون جاري شو نو رَخَائِوُ شو بيا دُعِىَ قانون جاري شو رَخَائِىُ شو وروسته قلب مكاني وشو همزه دياء او ياء دهمزي ځاى ته قلب شوه نو رَخَايِئُ شو بيا ياء دالف مفاعل نه وروسته راغله نو رَخَاءِءُ شو همزه ثاني دسُولَ يَسْتَهْزِىُ په قانون په ياء سره بدل شو رَخَائِىُ شو اوس همزه مكسوره او ياء مطرفه يو ځاى شول همزه په ياء مفتوحه سره بدله شوه رَخَايَىُ شو بيا قال باع قانون جاري شو رَخَايَا شو (عبيد)

<u>قوله مگر ان همزه كه واو واقع شده بود در مفرد بعد الف چهارم جا چراكه ان همزه را درجمع بواو مفتوحه بدل كنند م</u>

په دي عبارت سره دوهم حكم ته اشاره شويده

په دوهم حكم كي دادي چي كله همزه په داسي جمع كي وي چي په مفرد كي يى همدا همزه په څلورم ځاى دالف مفاعل نه وروسته وي (لكه اَدَائِوُ)نو دا همزه به په واو مفتوحه سره بدليږي ځكه چي مناسبت يى راشي دمفرد سره هغه مناسبت يى دادى چي اَدَاوَى مفرد اَدَاوَةٌ

Maktaba Tul Ishaat.com

وو دجمع اقصى دفايدي له وجهي اَدَائِوُ شو بيا د دعى قانون جاري شو اَدَائِىُ شو اوس همزه راغله شرايط يى پوره وو نو په واو مفتوحه سره بدل شو اَدَاوَىُ شو قال باع قانون جاري شو اَدَاوَا شو

نو په واو مفتوحه سره به ځكه بدليږي چي مفرد كي هم واو ؤ نو اجتماع د ياء او همزي مكسوره راغله دابدال نه ماسوى بله لاره نه وه نو په واو مفتوحه سره بدل شو ځكه مفرد كي هم واو و ترڅو يى مناسبت دمفرد سره راشي (فصول اكبرى شپږپنځوسمه ص) مع بعض زيادات

قانون:_ هر جاكه سه ياء دريک كلمه جمع شوند باين طور كه اول مدغم درثانى وثالث مقابله لام كلمه آن ثالث راحذف كنند نسيا منسيا بشرطيكه در فعل وجارمجراى فعل نه باشد همچنين اگر دو ياء جمع شوند حذف يكى جايز است چون سَيِّدٌ كه اورا سَيْدٌ خواندن جايز است

دولـــــــسـم قـــــــانـــــــــون

ديدې قانون نوم دى د رُخَىٌّ ، رُخَيَّةٌ قانون،په دې قانون كې يو حكم او درې شرطونه دي.
حـكـم: د دريمې ياء حذف كول واجب دي.
اول شـرط: درې ياء ګانې به په يوه كلمه كې جمع وي،اختزازيمثال: يُوَيدُ
دوهـم شـرط: اول ياء به په دوهم ياء كې مدغم وي او دريم ياء به د لام كلمې په مقابل كې وي،اختزازيمثال: مُقَيِّلٌ
دريـم شـرط: ياء به په تصغير كې وي،اختزازيمثال: حَيَّيَ
اتـفـاقــي مثال: د رُخَيَىٌ او رُخَىْ َيَةٌ څخه د رُحَىٌّ او رُحَيَّةٌ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چي كله درى ياګاني په يوه كلمه كي راشي ددي دريو ياء ګانو څخه اوله ياء په ثاني كي مدغمه وه او دريمه ياء دلام كلمي مقابل كي وه او ياء په كلمه مصغره كي وه نو يوه ياء به حذف كيږي

وجه دحذف : يى داده چي اجتماع دى دريو ياګانو متصله وو په يوه كلمه كي دا ډير اثقل وي نو ځكه به يوه تخفيفه حذف كيږي وجوبا

خو كه بالفرض دوه ياء ګاني راغلي په يوه كلمه كي نو بيا ديوي حذف كول جايز دي لكه سَيِّدٌ او مَيِّتٌ څخه سَيْدٌ . مَيْتٌ ويل جايز دي

دا په اصل كي سَيْوِدٌ او مَيْوِتٌ وو قويل په قانون سره سَيِّدٌ مَيِّتٌ شو

اګر كه په وزن كي يى اختلاف شته بعضي وايى چي په وزن دفَعِيْلٌ وو بعضي وايى په وزن د فَيْعِلٌ وو (علم الصيغه نهه ديرشمه ص نهمه ح)

فائده: حذف نسيا منسيا:

ديته وايى چي يو شى نه كتابتًا وي او نوي منويًا (په نيت كي) وي

قانون: هر واو ویائی که واقع شود قبل از تاء تانیث بازیادت فَعْلَان ماقبلش واو مضموم باشد ضمه ماقبلش را بکسره بدل کنند وجوبا واگر غیر واو باشدان یاء را بواو بدل کنند و واو برحال خود باشد.

ديـــــــارلـــــــســـم قـــــــانـــــــــون

ديدي قانون نو دى د قَوِيَتْ او طَوِيَتْ قانون،په دي قانون كي دوه حكمونه او د هر حكم لپاره دوه،دوه شرطونه دي.

اول حـكـم: د واؤ او ياء ما قبل ضمه په كسره سره بدلول واجب دي.

اول شـرط: واؤ او ياء به د تاء تانيث او يا زيادتي فُعْلَان څخه مخكې وي،اختزازي مثال: رَخُوَ،نَهُيَ

دوهـم شـرط: د واؤ او ياء ما قبل واؤ به مضموم وي،اختزازيمثال: رَخُوَتْ،نَهُيَتْ

اتـفـاقـي مثال: د قَوُوَتْ او قَوُوَانِ څخه د قَوِوَتْ،قَوِيَانِ او بيا قَوِيَتْ او قَوِيَانِ او د طَوُيَتْ او طَوُيَانِ څخه د طَوِيَتْ او طَوِيَانِ ويل واجب دي.

دوهـم حكم: ياء په واؤ بدلول او واؤ په خپل حال پريښودل واجب دي. اول شـرط: واؤ او ياء به د تاء تانيث او يا زيادتي فُعْلَان څخه مخكې وي،اختزازي مثال: رَخُوَ،نَهُيَ

Maktaba Tul Ishaat.com

دوهم شرط: د واؤ او ياء ما قبل واؤ به مضموم نه وي،اختازيمثال: قَوُوَتْ،رَخُوَت اتفاقي مثال: د رَخُوَتْ،رَخُوَانِ څخه د رَخُوَتْ،رَخُوَانِ او د نَهُيَتْ،نَهُيَانِ څخه د نَهُوَتْ او نَهُوَانِ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چي كه چيري واو او ياء راشي مخكي د دتاء تانيث اوزيادت فَعْلَان څخه نو كه چيري يى ماقبل بل واو وو او مضموم هم وو نو ددغه واو ماقبل ضمه به په كسره سره بدليري او كه دواو څخه ماقبل بل واو مضمومه نه وو ياءبه په واو سره بدليري

لكه داول حكم مثال قَوُوَتْ قَوُوَانِ وو نو واو او ياء راغلل اول مثال كي واو دتاء تانيث نه مقدم دى دوهم مثال كي واو ثاني د الف او لام مزيدتين نه مخكي راغلى دي نو د واو ماقبل ضمه په كسره سره بدله شوه قَوِوَتْ. او قَوِوَانَ شو د دُعِى قانون سره قَوِيَتْ . قَوِيَانِ شو

ځكه دوه واوين راغلل حرف علت ثقيل دي ماقبل يى هم مضموم وو نو دا ثقل على ثقل وو ځكه يى ماقبل په كسره سره بدل شو

دوهم حكم مثال رَخُوَتْ. رَخُوَانِ نَهُوَتْ . نَهُوَانِ دى اصل كي نَهُيَتْ نَهُيَانِ وو بيا واو او ياء راغلل او مخكي دتاء تانيث او زيادت فعلان نه هم راغلي دي نو ماقبل يى بل واو مضمومه نه وو نو واو په خپل حال پريښودل شو او ياء هم دماقبل ضمي له وجهي په واو سره بدله شوه

فائده:

دزيادت فَعْلَان څخه مراد دادى چي واو او ياء به دلام كلمي نه مخكي يا پخپله لام كلمي كي وي خو دلام نه وروسته به نه وي لكه قَوُوَانِ په وزن دفَعُلَانِ. نَهُوَانِ په وزن دفَعُلَانِ الخ

قانون: هر يائی كه واقع شود در اخر فعل وماقبل او مضموم باشد واو شود

څـــــوارلـــــســـم قـــــانـــــــــــون

ديدې قانون نوم دی د رَمُوَ قانون،په دې قانون کې يو حكم او دوه شرطونه دي.
حـكـم: ياء په واؤ سره بدلول واجب دي.
اول شـرط: ياء به د فعل په آخر کې وي،اختزازي مثال: رَمْیٌ
دوهـم شـرط: د ياء ما قبل به مضموم وي،اختزازي مثال: رَمَیَ
اتـفـاقـي مثال: د رَمُیَ څخه د رَمُوَ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چې كله ياء په اخر دكلمي كې راشي ماقبل يی مضموم وي نو دا ياء به په واو سره بدليږي له وجهي داستدعاء د ضمي نه ځكه ياء حرف علت په طرف كې راغله ماقبل يی مضموم وو نو په واو سره بدله شوه

دناقصو څوارلس قوانين بعون الملک العلام الذي لانظير له ولا مثل له ولا مثال سره پای ته ورسيدل

كاتب: طالب العلم العبدالاحقر عبيدالله عبيد الماتريدي گلشاخيل

استاذ: شيخ في الصرف حضرت مولانا حميد الله نوري اطال الله عمره

تاريخ:

٢٨...../٧/١٤٠٠/٢/ ١٠ ..... ١٣٩٧/10/20

بعد الزوال ٠٠: يوم السبت/ شنبه/ سيندې / ٣

Maktaba Tul Ishaat.com

قانون هر همزه ساكن مظهر كه ماقبلش متحرک باشد همزه وديگر كلمه سوى همزه بدل كنند جوازا بشرطيكه باعث تحريک موجود نباشد

اول قـــــــــانـــــــــــون

ديدي قانون نوم دى يَامَنُ،يُوْمِنُ قانون،په دې قانون کې يو حكم او پنځه شرطونه دي.
حـكـم: همزه د ما قبل حركت موافق په حرف علت سره بدلول جائز دي.
اول شـرط: همزه به ساكنه وي،اختزازيمثال: سَئَلَ
دوهـم شـرط: همزه به مظهره وي،اختزازيمثال:سَئَّلَ
دريـم شـرط: د همزې ما قبل به متحرک وي،اختزازيمثال: يَسْئَلُ
څـلـورم شـرط: كه د همزې ما قبل بله همزه وي نو په جدا كلمو كې به وي، اختزازيمثال: اَئْمَنَ
پـنـځـم شـرط: همزې ته به د حركت ور كولو سبب موجود نه وي،اختزازيمثال: يَئْمَمُ
اتـفـاقـــيمثال: د يَأْمَنُ،يُؤْمِنُ څخه د يَامَنُ،يُوْمِنُ ويل جائز دي.

خلاصه دقانون داده چي كله همزه ساكنه مظهره راشي ماقبل يى متحرک وو خو پدي شرط چي همزي ته دحركت وركولو باعث نه وو موجود نو دغه همزه به دماقبل حركت موافق په حرف علت سره بدليږي جوازا

ځكه دهمزي ماقبل دا تقاضى كوي چي مابعد دى زما له جنس څخه شي (مراح يو سلو دولسمه ص)

وجه دابدال: همزه ولي په حرف علت سره بدليږي؟ نو ځكه چي همزه ضعيفه ده ځكه ساكنه ده او ماقبل يى قوى دى ځكه چي متحرک دى نو اوس قوي دا تقاضى كوي چي ضعيف دزما له جنس څخه شي

دوهمه خبره: دا قانون جوازي دى ځكه چي كه وكتل شي چي همزه حرف صحيح دى قبول دحركات ثلاثه كولاى شي نو تقاضى دابدال وجوبا كوي او كه ديته وكتلاى شي چي همزه

داقصی دحلق څخه ده او دفم (خولي) دمخرج څخه لري ده او اداء کول او رايستل يی مشکل دي نو بيا واجبه داده چي بدل نشي نو په يو نظر يی ابدال واجب په بل نظر يی عدم ابدال واجب وو نو دواړو خواوته عمل ممکن نه وو عمل په ثالث وشو چي جواز دی (فوائد کريميه اوه دريشمه ص)

قوله وديګر کلمه سوی همزه الخ

يو شرط داوو چي که ماقبل يی بله همزه وه نو په جدا کلمو کي به وي ځکه که په يوه کلمه کي وي بيا ابدال واجب دی

لکه اِلَی الْهُدَاتِنَا په اصل کي اِلَی الهُدَأْتِنَا وو همدارنګه الذِيْتُمِنَ اصل کي الذِئْتُمِنَ وو

همدارنګه يَقُوْلُوْذَنْ لِیْ چي په اصل کي يَقُوْلُ أْذَنْ لِیْ وو (العبدالاحقرعبيدالماتريدي

قانون هر همزه ساکن مظهر که ماقبلش ديگر همزه متحرک باشد ازان کلمه ان همزه ساکن را بوفق حرکت ماقبل به حرف علت بدل کنند وجوبا بشرطيکه باعث تحريک موجود نباشد اگر همزه وصلی باشد در درج کلام افتد وهمزه ثانی بصورت خود عود ميگردد وجوبا مگر کُلْ وخُذْ ومُرْ شاذ اند

دوهـــــــم قـــــــانـــــــــون

ديدې قانون نوم دی د آمَنَ،اِيْمَانٌ قانون،په دې قانون کې دوه حکمونه،د اول حکم لپاره پنځه شرطونه او د دوهم حکم لپاره دوه شرطونه دي.

اول حـکـم: همزه د ما قبل حرکت موافق په حرف علت سره بدلول واجب دي.

اول شـرط: همزه به ساکنه وي،اختزازيمثال: سَئَلَ

دوهـم شـرط: همزه به مظهره وي،اختزازيمثال:سَئَّلَ

دريـم شـرط: د همزې ما قبل به متحرک وي،اختزازيمثال: يَسْئَلُ

څـلـورم شـرط: دواړه همزې به په يوه کلمه کې وي،اختزازيمثال: يَقْرَئُنْزِرْ

پـنـځـم شـرط: همزې ته به د حرکت ور کولو سبب موجود نه وي،اختزازيمثال: اَئْمَمُ

اتـفـاقـيمثال: د اَئْمَنَ،اِئْمَانٌ څخه د آمَنَ،اِيْمَانٌ ويل واجب دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

دوهم حـكـم:اوله همزه حذف كول او دوهمه همزه خپل اصلي حالت ته راوړل واجب دي.
اول شـرط: اول همزه به همزه وصليه وي،اختزازيمثال: اَئْمَنَ
دوهم شـرط: همزه وصليه به د كلمې په منځ كې وي،اختزازيمثال: اُوْتُمِنَ
اتـفـاقــيمثال:د وَاُوْتُمِنَ څخه د وَئْتُمِنَ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چي كله همزه ساكنه مظهره راشي ماقبل يى متحرک وو خو پدي شرط چي همزي ته دحركت وركولو باعث نه وو موجود نو دغه همزه به دماقبل حركت موافق په حرف علت سره بدليږي وجوبا چي په يوه كلمه كي وي

ځكه دهمزي ماقبل دا تقاضى كوي چي مابعد دى زما له جنس څخه شي

اوكه چيري همزه قطعي باندي همزه وصلي داخله شوله او همزه وصلي دكلمي په مابين كي راغله نو دا همزه وصلي به غورځيږي او اصلي به پخپل حال وي

قوله ان همزه را بوفق حركت ماقبل بحرف علت بدل كنند وجوبا

وجه دابدال يى داده چي اصل په كلمه كي دتخفيف راوړلو درى طريقي دي اول: بين بين دوهم حذف دريم قلب نو بين بين پكي ممكن ندى ځكه بين بين په هغه صورت كي كيږي چي دواړه متحركين وي حذف هم نشو كولاى ځكه بيا دال په نشته چي وروسته دحذف نه دلالت وكړي په حذف باندي نو قلب وشو (زنجاني نهه اتيايمه ص اوله ح)

دوهمه خبره داچي دقلب حكم وجوبي دى ځكه چي په يوه كلمه كي اجتماع دهمزتينو جواز نلري بلكي واجب ده چي تخفيف پكي وشي ځكه كله چي په يوه كلمهذكي همزتين جمع شي نو عرب پكي يوه تخفيفا حذف كوي

او يوه كلمه كي دوه همزي ځكه ثقل پيداكوي چي ثاني همزه باندي تلفظ عسير او مشكل دى (مراح يوسل اولسمه ص اتمه ح)

قوله كُلْ ومُرْ وخُذْ شاذ اند

كُلْ او خُذْ او مُرْ په اصل كي اُءْكُلْ. اُءْمُرْ . اُءْخُذْ وو ليكن بياهم دلته همزه ساكنه دماقبل حركت موافق په حرف علت سره بدله نه شوه ځكه دا شاذ دى

او حذف يی دكثرت استعمال له وجهی دی

نو دحذف طريقه يی داسي وشوه چي أُعْكُلْ. أُعْمُرْ . أُعْخُذْ كي نقل مكاني وشو د همزه ثاني له عين كلمي سره نو أُكْئُلْ. أُمْئُرْ. أُخْئُذْ. شو وروسته د يسل قانون جاري شو كُلْ . خُذْ. او مُرْ شو (عبيد)

(دبين بين پيژندنه)

بين بين په دوه قسمه دی قريب او بعيد

بين بين قريب: هغه ته وايی چي همزه وويل شي په مابين دخيل مخرج او دحرف علت دمخرج ترمنځ لكه سَاَلَ. سَئِمَ . لَؤُمَ داسي ووايی چي نه همزه اداء شي او نه هم حرف علت

بين بين بعيد: هغه ته وايی چي همزه وويل شی په مابين دمخرج دحرف علت او په مابين دهغه حركت چي دحرف علت ماقبل دی لكه سَاَلَ. سَئِمَ . لَؤُمَ .....(علم الصيغه دری ديرشمه ص)

قانون هر همزه منفرده كه ماقبلش مضموم يا مكسور در ديگر كلمه ماسوی ههمزه مطلقا همزه مفتوحه را وفق حركت ماقبل بحرف علت بدل كنند جوازا

دريـــــــم قـــــــــانـــــــــون

ديدي قانون نوم دی د جُوَنٌ،مِيَرٌ قانون،په دي‌قانون كي يو حكم او دري شرطونه دي.
حـكـم: همزۀ مفتوحه د خپل ما قبل حركت موافق په حرف علت بدلول جائز دي.
اول شـرط: د همزې ما قبل به مضموم يا مكسور وي،اختزازي‌مثال: سَئَلَ
دوهـم شـرط: همزه به مفتوحه وي،اختزازي‌مثال: سُئِلَ
دريـم شـرط: كه چيرې له همزې څخه مخكې بله همزه وي نو په جدا كلمه كې به وي ، اختزازي‌مثال: أُئَيْدِمٌ
اتـفـاقـــي‌مثال: د جُؤَنٌ،مِئَرٌ څخه د جَوَنٌ،مِيَرٌ ويل جائز دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

خلاصه دقانون داده چي کله همزه مفتوحه راشي ماقبل يی مضموم او يا مکسور وي داهمزه به دماقبل حرکت موافق په حرف علت سره بدليږي جوازا

وجه دابدال: يی داده چي فتحه او سکون دواړه داسي دي لکه شيئ واحده ځکه په طبعيت کي سره يو وو ځکه دواړو کي لينت او نرمي ده نو همزه چي ساکنه وه دماقبل حرکت موافق بدليدله نو مفتوحه به هم دماقبل حرکت موافق په حرف هلت سره بدليږي (مراح يوسل ديارلسمه ص اوله ح)

قانون : هر دو همزه مفتوحه اگر جمع شوند در يک کلمه اگر يکي ازيشان مکسور باشد ثانی را بيا بدل کنند وجوبا سوای اَئِمَّةٌ که درين جا جايز است واگر هيچ يکي مکسور نه باشد ثانی را بواو بدل کنند وجوبا مگر اُکْرِمَ شاذ است

څـــــلـــورم قـــــــــانـــــــــون

ديدې قانون نوم دی د جَاءٍ،اُوَيْدِمُ قانون،په دې قانون کې دوه حکمونه او د هر حکم لپاره دوه،دوه شرطونه دي.

اول حـکـم: دوهمه همزه په ياء سره بدلول واجب دي.

اول شـرط: دوه همزې متحرکې به په يوه کلمه کې وي،اختـرازيمثال: يَقْرَءُ اَبُوْکَ

دوهـم شـرط: په دواړو همزو کې به يوه همزه مکسوره وي،اختـرازيمثال: اُئَيْدِمُ

اتـفـاقـيمثال: د جَاءِءٌ څخه د جَائِیٌ ، د جَائِیٌ څخه د جَائِيْنْ او د جَائِيْنْ څخه د جَاءٍ ويل واجب دي.

دوهـم حـکـم: دوهمه همزه په واؤ سره بدلول واجب دي.

اول شـرط: دوه همزې متحرکې به په يوه کلمه کې وي،اختـرازيمثال: يَقْرَءُ اَبُوْکَ

دوهـم شـرط: په دواړو همزو کې به کومه همزه به مکسوره نه وي،اختـرازيمثال: جَاءِءٌ

اتـفـاقـيمثال: د اُئَيْدِمُ څخه د اُوَيْدِمُ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چي دوه همزي متحركي راشي يوه پكي مكسوره وي نو دوهمه به په ياء سره بدليږي او كه كومه يوه پكي مكسوره نه وه نو نو بيا به دوهمه همزه همزه په واو سره بدليږي

قوله يكى ازيشان مكسور باشد ثانى را بيا بدل كنند

اول حكم كي به همزه ثاني په ياء سره بدليږي ځكه ماقبل يى مكسور دى كسره دا تقاضى كوي چي ماقبل د زما له جنس څخه شي

(په قانون د جَاءٍ كي دوه مذهبه دي)

جَاءٍ كي دوه مذهبه دي اول مذهب دامام سيبويه دوهم مذهب د امام خليل دى

مذهب سيبويه: امام سيبويه رح وايى چي جَاءٍ په اصل كي جَايِئٌ وو دقائل او بائع قانون جاري شو نو جَاءِءٌ شو اوس دوه همزي متحركي راغلي نو ثاني همزه متحركه ماقبل مكسور په ياء سره بدله شوه نو جَاءٍ وروسته د يدعو يرمى قانون جاري شو نو جَاءِيْنْ شو التقاء الساكنين قانون جاري شو جَاءٍ شو

مذهب امام خليل: امام خليل وايى چي جَاءٍ په اصل كي جَايِئٌ وو دياء او همزي ترمنځ قلب مكاني وشو نو جَاءِىٌ شو وروسته يدعو يرمى قانون جاري شو نو جَاءٍ شو

(د دواړو مذهبونو وجه دترجيح داعلال)

امام سيبويه وايى چي قلب به نه كيږي بلكي ياء به په همزي سره بدليږي ځكه اصل په قواعدو كي اعمال دى نه اهمال نو دقائل قاعده جاري شوه

امام خليل وايى چي دلته به قلب كيږي ځكه كه قلب ونه شي همزه اولى په همزي سره بدله شي نو اجتماع د همزتينو راځي او اجتماع د همزتينو په يوه كلمه كي مستكره وه نو ځكه به قلب كيږي

قلب دامام خليل رح خلاف القياس ليكن شايع او كثير الاستعمال دى په كلام دعربو كي

قوله واگر هيچ يكى مكسور نه باشد ثانى را بواو بدل كنند وجوبا

دوهم حكم دادى چي كله په دوه همزتينو كي كومه مكسوره نه وه نو ثاني به په واو بدليږي لكه أُءَيْدِمُ څخه أُوَيْدِمُ ويل دا لپاره د مناسبت دضمي نه ځكه ضمه دا تقاضى كوي چي ماقبل دى زماله جنس څخه شي چې واو دى (زنجانى . مراح. فوائد كريميه)

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله سوى ائِمَّةٌ كه درين جايز است

په اَئِمَّةٌ كي اگر كه دوه همزي جمع شوي دي يوه پكي مكسوره ده بايد وجوبا ثاني په ياء سره بدله شوي واى ليكن دلته جايز ده چي ابدال دهمزي ثانى په ياء وشي دا ځكه چي اَئِمَّةٌ په اصل كي اَءْمِمَةٌ وو كه ته وايى چي دا خو دقانون ماتحت نده ځكه چي همزتين متحركين ندي يوه پكي ساكنه ده نو مورِ وايو چي اَءْمِمَةٌ كي دوه ميمين سره جمع شول او ادغام كي دا قاعده ده چي لمړى به ساكن كيږي نو دميم حركت ماقبل ته نقل شو اَءِمَّةٌ شو اوس دوه همزتين راغلي يوه پكي مكسوره وه نو ثاني په ياء سره جوازا بدله شوه نو اَيِمَّةٌ يى ويلى شي

كه ته وايى چي اَيِمَّةٌ كي ياء راغله ماقبل يى مفتوح وو بايد په الف سره بدله شي چي آمَّةٌ شي ليكن په الف سره بدله نه شوه ځكه چي دقال باع قانون يوشرط داهم وو چي دواو او ياء حركت به اصلي وي اما دلته عارضي دى دميم نه منقول دى

ياځكه په الف سره بدل نه شو چي دلته بيا التقاء الساكنين على غير حده راځي (مراح يوسلو اتلسمه ص اوله. دوهمه. دريمه. ح)

قوله مكر أُكْرِمَ شاذ است

أُكْرِمَ چي په اصل كي أُاَكْرِمُ وو دلته همزه ثاني په واو سره بدله نشوه اگر كه قاعده ورته متوجي ده ليكن دا شاذ ده والشاذ كاالنادر والنادر كالمعدوم والمعدوم ليس بشيئ

قانون هر همزه كه ماقبلش ساكن مظهر قابل حركت باشد سوى ياء تصغير ونون انفعال وواو ويايى مده زائده دريک كلمه حركت ان را نقل كرده بماقبل داده جوازا همزه راحذف كنند وجوبا مكر اِمْرَأةٌ شاذ است .

پـــــنـــــځـــــم قـــــانـــــــون

ديدې قانون نوم دى د يَسَلُ قانون،په دې قانون كې يو حكم او اووه(۷) شرطونه دي.
حـكـم: د همزې حركت ما قبل ته نقل كول جائز او بيا د همزې حذف كول واجب دي.
اول شـرط: همزه به متحرک وياختترازيمثال: يَأْمَنُ

دوهم شرط: د همزې ما قبل به ساكن وي،اختزازيمثال: سَئَلَ
دريم شرط: د همزې ما قبل به قابل د حركت وي،اختزازيمثال: سَائِلٌ
څلورم شرط: همزه به د ياء تصغير څخه وروسته نه وي،اختزازيمثال: أُفَيْئِيٌ
پنځم شرط: همزه به مظهره وي،اختزازيمثال: سَئَّلَ
شپږم شرط: همزه به د نون اِنْفِعَال څخه وروسته نه وي،اختزازيمثال: اِنْئَطَرَ
اووم شرط: همزه به د واؤ او يا يائى مدّه زائده نه وروسته په يوه كلمه كې نه وي،
اختزازيمثال: مَقْرُوْءَةٌ،خَطِيْئَةٌ
اتفاقيمثال: د يَسْئَلُ څخه د يَسَلُ ويل جائز دي.

خلاصه دقانون داده چې كله همزه متحركه راشي ماقبل يى ساكن قابل حركت وي دياء تصغير او نون انفعال نه هم وروسته او مظهره وي پدي شرط چې د واو او مده زائده په مابين كي هم نه وي دهمزي حركت به ماقبل ته نقل كيږي همزه به حذف كيږي

وجه دحذف: يى داده چې په كلمه كي تخفيف راشي او تخفيف پكي دكثرت الاستعمال له وجهي دى (زنجانى دوه ن

يمه ص دوهمه ح)

بله خبره: داچي داقانون عام دى كه چيري همزه اصلي وي يا زايده وه بيا به هم نقل حركت كيږي دهمزي اصلي مثال لكه يَسْئَلُ او دهمزي زائده مثال لكه قَدَ فْلَحَ چې په اصل كي قَدْ اَفْلَحَ وو

همدارنګه دا قانون عام دى كه په يوه كلمه كي وي كه يا په دوه كلمو كي وي

ديوي كلمي مثال لكه يَسَلُ ددوه كلمو مثال لكه يَرْمِيَخَاهُ چې په اصل كي يَرْمِىْ اَخَاهُ وو (علم الصيغه دوه ديرشمه ص نهمه ح) العبدالاحقر عبيدالله عبيد الماتريدي گلشاخيل

سه شنبه بعد الزوال)

۱۳۹۷/عقرب/..../ ۲:۰۰

Maktaba Tul Ishaat.com

قانون هر همزه كه واقع شود بعد از يايى تصغير وواو ويايى مده زائده دريک كلمه ان همزه را جنس ماقبل كرده جوازا وادغام ميكنند وجوبا

شـــــپـــږم قـــــــانـــــــــون

ديدې قانون نوم دى د خَطِيَّةٌ،مَقْرُوَّةٌ قانون،په دې قانون كې يو حكم او دوه شرطونه دي.
حـكـم: همزه د ما قبل د جنس څخه ګرځول جائز او جنس په جنس كې ادغامول واجب دي.
اول شـرط: همزه به د ياء تصغير څخه وروسته وي،اختزازيمثال: اِنْئَطَرَ
اتـفـاقـيمثال: د أُفَيْئِىٌ څخه د أُفَيْيِىٌ ويل جائز او أُفَيِّىٌ ويل واجب دي.
دوهـم شـرط: همزه به د واؤ او ياء مدّه زائده نه وروسته واقع وي،اختزازيمثال: اِنْئَطَرَ
اتـفـاقـيمثال: د خَطِيْئَةٌ،مَقْرُوْءَةٌ څخه د خَطِيْيَةٌ،مَقْرُوْوَةٌ ويل جائز او خَطِيَّةٌ،مَقْرُوَّةٌ ويل واجب دي

خلاصه دقانون داده چې كله همزه دمده زائده يا دياء تصغير څخه وروسته راشي نو دا همزه به دماقبل له جنس څخه ګرځول كيږي او جنس به په جنس كې مدغم كيږي

قوله ان همزه راجنس ماقبل كرده الخ

همزه به دماقبل حركت موافق بدليږي ځكه چې نقل دحركت نشو كولاى چې دهمزې حركت ماقبل ته نقل كړو ځكه ماقبل يى هم حرف علت ضعيفه دى بيا تحميل په ضعيف باندې راځي او كه ماقبل يى ياء تصغير وه بيا هم نقل نشو كولاى ځكه چې بيا حمل دحركت په حرف علت ضعيفه باندې راځي ځكه واو او ياء او ياء تصغير نه حقيقة اصل دي او نه حكما لهذا دا درى واړه ضعيف دي نو نقل نشي كيدلى

نو ټول شرايط موجود وو همزه دماقبل له جنس څخه وګرځيده جنس په جنس كې مدغم شو اګر كه په خَطِيْئَةٌ او مقْرُوْءَةٌ كې ماقبل دهمزې ياء او واو ساكنه دي ليكن حرف ساكن حاجز قويه مانع ندى نو لكه ماقبل چې يى مكسور يا مضموم وي ځكه ساكن كالميت وي

مثال دهغه همزه چې دياء تصغير نه وروسته وي لكه أُفَيْئِسٌ څخه أُفَيِّسٌ ويل

او خَطِيْئَةٌ او مَقْرُوْءَةٌ د واو او ياء مده زايده مثالونه دي نو همزه واو او ياء شول بيا ادغام شول خَطِيَّةٌ او مَقْرُوَّةٌ شو

(الفائدة العظيمة)

هرهغه همزه چي ماقبل يی ساکن وي په دوه قسمه دی يابه يی ماقبل قابل دحرکت وي يا نه

چي ماقبل يی قابل دحرکت وي لکه حرف صحيح ساکن چون يَسْئَلُ

او هغه همزه چي ماقبل يی قابل دحرکت نه وي څلور دي اول مده زائده دوهم ياء تصغير دريم نون انفعال څلورم الف چي هميشه ساکن وضعي دی نو داتول دساکن اباصل په نامه سره هم يادیږي او هم حقيقة ساکن الاصل دي (علم الصيغه دوه ديرشمه ص پنځمه ح)

قانون هر همزه که جمع شوند درکلمه غير موضوع علی التضعيف اول ساکن ثانی متحرک باشد انرا بيا بدل کنند وجوبا

اووم قـــــــــانـــــــــون

ديدي قانون نوم دی د قِرَئْىٌ قانون،په دي قانون کي يو حکم او دوه شرطونه دي.
حـکـم: دوهمه همزه په ياء سره بدلول واجب دي.
اول شـرط: دوي همزي به په يوه کلمه غير موضوع علی التضعيف کي وي،اختزازي مثال: سّئَّلَ
دوهـم شـرط: اول همزه به ساکن او دوهمه به متحرک وي،اختزازيمثال: اَئْمَنَ
اتـفـاقــيمثال: د قِرَءْءٌ څخه د قِرَئْىٌ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چي کله دوه همزي په يوه کلمه کي راشي پدي شرط چي په کلمه غير موضوع علی التضعيف کي وي نو اخري همزه به په ياء سره بدليږي

Maktaba Tul Ishaat.com

وجه دابدال: يى داده چي ترڅو اجتماع ددوه همزتينو رانشي ځكه اجتماع دهمزتينو په كلام دعربو كي مستكره دي

فائده:

كلمه موضوع على التضعيف: هغه كلمه ده چي په اصل وضع كي همزه مشدده نه وي ياهغه كلمه ده چي همزه پكي مكرره مدغمه راغلي وي لكه سَئَّلَ او يَتَسَئَّلُ او داسي نور(ارشاد الصرف پنځه اويايمه ص لسمه ح)

قانون هر همزه متحركه منفرده راكه ماقبلش نيز متحرک باشد بان حركت بوفق حركت ماقبل بحرف علت بدل كنند جوازا نزد بعض

اتـــــــم قـــــــانـــــــــون

ديدې قانون نوم دى د سَالَ قانون،په دې قانون كې يو حكم او درې شرطونه دي.
حـكـم: همزه د خپل ما قبل حركت موافق په حرف علت سره بدلول جائز دي.
اول شـرط: يوازي همزه به متحرک وي،اختزازيمثال: أُئَيْدِمٌ
دوهـم شـرط: د همزې ما قبل به هم متحرک وي،اختزازيمثال: يَسْئَلُ
دريـم شـرط: همزه او د همزې ما قبل به موافق وي،اختزازيمثال: سُئِلَ
اتـفـاقـيمثال: د سَئَلَ،كُفُؤٌ او مُسْتَهْزَئِيْنَ څخه د سَالَ،كُفُوٌ او مُسْتَهْزِيِيْنَ ويل جائزدي.

خلاصه دقانون داده كله همزه متحركه راشي ماقبل يى هم متحرک وي پدي شرط چي دهمزي حركت به دماقبل حركت سره موافق وي نو داهمزه به دماقبل حركت موافق په حرف علت سره دتخفيف له وجهى حذف كيږي عندالاخفش ترڅو كلمه كي تخفيف راشي(زنجانى نويمه ص اومه ح)

لكه دسَئَلَ څخه سَالَ. مُسْتَهْزِئِيْنَ څخه مُسْتَهْزِيِيْنَ ويل او داسي نور

قانون هر همزه منفرده مكسور كه ماقبلش حركت مضموم باشد بعد از كسره بواو ويابدل كرده شود جوازا نزد اخفش

نـــــــهـــم قـــــــانـــــــون

ديدې قانون نوم دى د سُولَ قانون،په دې قانون کې دوه حکمونه او د هر حکم لپاره دوه،دوه شرطونه دي.

اول حـكـم: همزه په واؤ سره بدلول جائز دي.

اول شـرط: يوازي همزه به مكسور وي،اختزازيمثال: سَئَلَ

دوهـم شـرط: د همزې ما قبل به مضموم وي،اختزازيمثال: سَئِمَ

اتـفـاقـيمثال: د سُئِلَ څخه د سُولَ ويل جائز دي.

دوهـم حـكـم: همزه په ياء سره بدلول جائز دي.

اول شـرط: يوازي همزه به مضموم وي،اختزازيمثال: سُئِلَ

دوهـم شـرط: د همزې ما قبل به مكسور وي،اختزازيمثال: يَقْرَءُ

اتـفـاقـيمثال: د مُسْتَهْزِءٌ څخه د مُسْتَهْزِئٌ ويل جائز دي

خلاصه دقانون داده چې كه چيري همزه مضمومه ماقبل مكسور راشي په ياء سره به بدلسږي او كه همزه مكسوره راغله ماقبل يى مضموم وو نو په واو سره به بدليږي دا هم عندالاخفش ترڅو كلمه كى خفت راشي ځكه دماقبل حركت موافق حرف بدلول سبب دخفت دى

قانون هر همزه وصلى مفتوح كه داخل شود برآن همزه استفهام بالف بدل كرده شود وجوبا بمع باقى داشتن التقاء الساكنين

لـــــــســـــم قـــــــانـــــــون

ديدې قانون نوم دى د آلْحَسَنْ،آلْئَنْ قانون،په دې قانون کې يو حكم او دوه شرطونه دي.

حـكـم: همزه په الف سره بدلول او التقاء ساكنين پخپل حال پريښودل واجب دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

اول شـرط: همزۀ وصليه به مفتوح وي،اختزازيمثال: اِكْتَسَبَ
دوهـم شـرط:همزۀ استفهاميه به په همزه وصليه باندي داخله وي،اختزازيمثال: جَاءَ الْحَسَنُ
اتـفـاقــيمثال: د ءَاَلْحَسَنْ او ءَاَلْئَنْ څخه د آلْحَسَنْ او آلْئَنْ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چي کله همزه وصلي باندي همزه داستفهام داخله شي نو همزه وصلی به په الف سره بدليږي اګر که التقاء الساکنين لازميږي ليکن التقاء الساکنين به پخپل حال پريښودل شي

وجه دابدال: همزه وصلی به په الف سره دتخفيف له وجهي حذف کيږي

او التقاء الساکنين اګر که علی غير حده ده لکه آلْحَسَنْ ليکن که چيري حذف وشي نو اَلْحَسَنْ کيږي نو پته به نه لګيږي چي دا همزه داخبار ده که همزه داستفهام داخبار

په اَلْآنَ وقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ کي همزه د استفهام ده اصل کي اَءَلْآنَ وقد عصَيْتّ وو او په وَالْآنُ خَفَّفَ اللهُ کي همزه داخبار ده اصل کي اَلْآنُ خَفَّفَ اللهُ منکُمْ وو (ارشاد الصرف دوه اويايمه ص نولسمه ح)

قانون هرکلمه که در آن زياده از دو همزه جمع شوند تخفيف کرده ميشود دوم وچهارم جا باقی بر حال باشد

يولسم قانون

ددي قانون نوم دی د ءَوَءْیَءٌ قانون پدي قانون کي يوحکم يوشرط دی

حکم: په دوهم او څلروم ځای کي تخفيف کول جايز دي

شرط: يوه کلمه کي به له دوه څخه زياتي همزي يوځای شوي وي احترازي مثال اَءْمَنَ اتفاقي مثال د ءَءَءْءَءٌ څخه د ءَوَءْیَءٌ ويل جايز دي

خلاصه دقانون داده که چيرې په يوه کلمه کې د دوو څخه زياتې همزې راغلي وي نو په دوهم او څلورم ځای کې تخفيف کول او باقي په خپل حال پريښودل جائز دي.

يو فرضي مثال يى د ءَءْءَءٌ څخه د ءَوْىَءٌ ويل دي نو دلته پنځه همزي راغلي په وزن د سَفَرْجَلٌ نو په بيلابيلو طريقو پکي تخفيف کولاى شي

اوله طريقه دتخفيف: يى داده چي دوهمه همزه په واو څلورمه همزه په ياء بدله کړه نو ءَوَىْىَءٌ شو

يا ءَءْءَءٌ دى د جاء اُويدم قانون جاري کړه نو ءَوَىْءءٌ شو وروسته بيا دقِرَىْ قانون پري جاري کړه ځکه چي وروسته دهمزه ساکنه څخه همزه متحرکه راغله نو په ياء سره بدله شوه ءَوَىْىَءٌ شو

داخو په هغه صورت کي چي پنځه همزي وي خو که درى همزي وي نو صرف دجاءٍ اويدم په قانون سره تخفيف کيږي لکه ءَءَءْ څخه ءَوَءْ ويل

د مهموزو الفاء والعين والام قوانين بعون الملک العلام سره پاى ته ورسيدل
مؤلف: طالب العلم: العبدالاحقر عبيدالله عبيد گلشاخيل
باالدرجة الثانية المدرسة ضياء المدارس فضليه اورګون
استاذ: ماهر فى الصرف والنحو حضرت مولانا حميدالله نوري
تاريخ
چهارشنبه ..... 2018/10/24..... ١٣٩٧/ قوس/٢

Maktaba Tul Ishaat.com

قانون: هرگاه دوحرف متجانسين اگر جمع شوند در اول كلمه ثلاثي مجرد يارباعي مجرد ادغام ممتنع است ودر اول كامه ثلاثي مزيد فيه جايز است مطلقا سوى فعل مضارع چراكه در فعل مضارع وقتى جايز است كه حاجت به همزه وصلى نيفتد

اول قـــــــانـــــــون

ديدې قانون نوم دى د مضاعف لومړى قانون،په دې قانون كې يو حكم او درې شرطونه دي.
حـكـم: په دوو حروفو متجانسينو كې ادغام كول جائز دي.
اول شـرط: دوه حروفو متجانسين به د كلمې په شروع كې وي،اختزازيمثال: مَدَدَ
دوهـم شـرط: دوه حروفه متجانسين به په ثلاثي مجرد او رباعي مجرد كې نه وي،
اختزازيمثال: دَدَنٌ ضَضْرَبٌ
دريـم شـرط: په فعل مضارع كې د ادغام كولو څخه وروسته به همزه وصلي ته ضرورت نه وي،اختزازيمثال: تَتَضَارَبُ
اتـفـاقـيمثال: د تَتَارَكَ څخه د اِتَّارَكَ او د فَتَتَضَارَبُ څخه د فَتَّضَارَبُ ويل جائز دي.

خلاصه دقانون داده كه چيرې دوه حرفه متجانسين راشي پدي شرط چي وروستهذدادغام نه به همزه وصلي ته ضرورت نه وي او دا دوه حرفه متجانسين به په ثلاثي او رباعي مجردو كي نه وي نو دادوه حرفه به پخپل معنځ كي ادغام كيږي جوازا

خو كه چيري په ثلاثي مجردو او رباعي مجردو كي وو بيا ادغام ممتنع دى

يوشرط دا وو ورته چي فعل مضارع كي به وروسته دادغام نه همزه وصلي ته ضرورت نه وي لكه تَتَضَارَبُ نو دي كي كه چيري ادغام وشي نو اِتّضَارَبُ به شي

كهذچيري همزه وصلي ته ضرورت وو نو بيا ادغام نه كيږي ادغام ممتنع دى ځكه فعل مضارع باندي همزه وصلي نشي داخليدلى (مراح يوسل نهمه ص پنځمه ح)

قانون : اگر دو متجانسين در اول كلمه نباشد واول ساكن ثانى متحركدباشد ادغام واجب است بوجود پنج شرايط اول اينكه ان دو متجانس دوهمزه در كلمه غير موضوع على التضعيف نباشد چنانچه قِرَءْءٌ كه در اصل قِرَءْءٌ بود دوم اينكه اول متجانس ها وقف نباشد چنانچه اَغَرَّهْ هِلَالٌ سوم اينكه اول متجانس مده مبدل بابدال جايز نباشد چنانچه رِيْيَا كه در اصل رَئِيًا بود چهارم اينكه اول متجانس مده در اخر كلمه نباشد چنانچه في يَوْمٍ پنجم اينكه باعث التباس يک وزن قياسى بديگر وزن قياسى نباشد چون قُوْوِلَ وتُقُوْوِلَ كه ملتبس مى شود بقُوِّلَ تُقُوِّلَ

دوهـــــم قـــــانـــــون

ديدې قانون نوم دى د مضاعف دوهم قانون،پدې قانون كې يو حكم او اووه(۷) شرطونه دي.
حـكـم: په دوو حروفو متجانسينو كې ادغام كول واجب دي.
اول شـرط: دوه حروفو متجانسين به د كلمې په شروع كې نه وي،اختـرازيمثال: تَتَارَكَ
دوهـم شـرط:په دوو حروفو متجانسينو كې به لومړى ساكن او دوهم به متحرک وي،
اختـرازيمثال: اِمْتَدِدْ
دريـم شـرط: دوه حروفه متجانسين به په كلمه غير موضوع على التضغيف كې نه وي،
اختـرازيمثال: قِرَءْءٌ
څـلـورم شـرط: په دوو حروفو متجانسينو كې به لومړى متجانس هاء د وقف نه وي،
اختـرازيمثال: اَغَرَهْ هِلَالٌ
پـنـځـم شـرط:په دوو حروفو متجانسينو كې به لومړى متجانس مدّه د جوازي قانون ما تخت بدل له همزې څخه نه وي،اختـرازيمثال: رِيْيَا چې په اصل كې رِئْيَا وو.
شـپـږم شـرط: په دوو حروفو متجانسينو كې به لومړى متجانس مدّه د كلمې په آخر كې نه وي،اختـرازيمثال: فِيْ يَوْمٍ
اووم شـرط: وروسته د ادغام كولو څخه به يو وزن قياسي د بل وزن قياسي سره ملتبس نه وي،اختـرازيمثال: قُوْوِلَ،تُقُوْوِلَ چې د قُوِّلَ،تُقُوِّلَ سره ملتبس دى.
اتـفـاقـيمثال: د مَدْدٌ او فَرْرٌ څخه د مَدٌّ او فَرٌّ ويل واجب دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

خلاصه دقانون داده که چيرې دوه متجانسين راشي او پورته اوه شرطونه پکي پوره وی نو يو په بل کي به مدغم کيږي وجوبا

قوله ادغام واجب است

وجه دادغام يی داده چي شرايط ټول پوره دي نو اوس به مماثلين يو بل کي ادغام کيږي

ياځکه کله چي مماثلين يو ځای شي نو په دريو طريقو پکي تخفيف کيده حذف. اعلال. ادغام دلته صرف ادغام کيده حذف او اعلال ممکن نه و نو دتخفيف له وجهي ادغام وشو (مراح دوه پنځوسمه ص /دوهمه ح)

قوله اگر دو متجانسين در اول کلمه نباشد

يو شرط ورته دادی چي دوه حرفه متجانسين به دکلمي په شروع کي نه وي ځکه بيا ادغام جوازي وو دتخفيف له وجهي

قوله واول ساکن ثانی متحرک باشد

بل شرط دادی ورته چي اول به ساکن ثاني به متحرک وي ځکه که چيري اول متحرک ثاني ساکن وو نو بيا ادغام ممتنع دی ځکه اصلا ادغام لپاره دتخفيف وي او په سکون د ثاني سره خفت حاصل دی (زنجانی دوه پنځوسمه ص دوهمه ح)

قوله اينکه ان دو متجانس دوهمزه در کلمه غير موضوع علی التضعيف نباشد

بل شرط يی دادی چي دوه همزي به غير مشددنه وي (غير موضوع علی التضعيف کي به نه وي) بلکي په موضوع علی التضعيف کي به وي احترازي مثال يی قِرَءْیٌ دی اصل کي قِرَءْءٌ وو دوه همزي راغلي غير موضوع علی التضعيف دي يعني مشددي ندي نو دلته ادغام جوازي دی

قوله واينکه اول متجانس هاء وقف نباشد

بل شرط يی دادی چي اول متجانس به هاء دوقف نه وي لکه اَغَرَّهْ هِلَالٌ . او مَالِيَهْ هَلَکَ سُلْطَانِيَهْ ځکه چي هاء دوقف دانفصال تقاضی کويذاو ادغام داتصال تقاضی کوي نو ددواړو ترمنځ منافات وو (مجموعه پنج ګنج يو اويايمه ص څلورمه ح)

قوله سوم اينکه اول مده مبدل ابدال جايز نباشد

بل شرط دادی چي اول متجانس به مده دجوازي قانون ماتحت بدل شوی نه وي لکه رِيْيَا چي په اصل کي رِئْيَا وو

قوله واينکه اول متجانسين مده در اخر کلمه نباشد

بل شرط يی دادی چي اول متجانس به مده کلمي په اخر کي نه وي لکه فِي يَوْمٍ ځکه ادغام لپاره تخفيف وي او دلته خودبخوده تخفيف شته

يا ځکه ادغام نه پکي کيږي چي عرب په داسي يوه کلمه کی چي اول يی ساکن مده وي ادغام مستکره ګڼي ځکه که ادغام وشي هغه صفت د مديت (مده والي) زايليږي او حال داچي پدغه محل کي مده والی فايده دتخفيف ورکوي (مراح پنځه نويمه ص دوهمه ح)

قانون: واگر دو متجانس هر دو متحرک باشد ادغام واجب است بوجود نو شرايط اول اينکه اول متجانس مدغم فيه نباشد چنانچهذحَبَّبَ دوم اينکه کسی از متجانس زائده برای الحاق نباشد چنانچه جلبب وشملل سوم اينکه اول متجانس تای افتعال نباشد چون اِقْتَتَل چهارم اينکه ان متجانس دو واو درباب افعِلَّال نباشد چون اِرْعَوَی که در اصل اِرْعَوَوَ بود پنجم اينکه کسی از متجانس مقتضی اعلال نباشد چون قَوِیَ که در اصل قَوِوَ بود ششم اينکه حرکت ثاي عارضه نباشد چون اُرْدُدِالْقَوْمَ هفتم اينکه ان متجانس در دو کلمه نباشد چون مَکَّنَنِیْ واگر در دو کلمه باشد پس اگر ماقبل متحرک يا لين غير مدغم باشد ادغام جايز ورنه ممتنع است هشتم اينکه ان متجانس دو ياء نباشد چون حَيِیَ ورُمْيَيَانِ نهم اينکه ان متجانس در اسم در يکي ازين پنج اوزان نباشد چون فَعَلٌ. فِعِلٌ. فُعُلٌ. فَعِلٌ. فُعَلٌ. چون سَبَبٌ. رِدِدٌ. سُرُرٌ. عِلَلٌ. دُرَرٌ

دريـــــــم قـــــــانـــــــون

ديدي قانون نوم دی د مضاعف دريم قانون،پدي قانون کي يو حکم او لس(۱۰)شرطونه دي.
حـکـم: په دوو حروفو متجانسينو کي ادغام کول واجب دي.
اول شـرط: دوه حروفه متجانسين به د کلمي په شروع کي نه وي،اختـرازيمثال: تَتَارَکَ
دوهـم شـرط: په دوو حروفو متجانسينو کي به لومړی متجانس مدغم فيه نه وي،

Maktaba Tul Ishaat.com

اختر ازي مثال: حَبَّبَ
دريم شرط: په دوو حروفو متجانسينو کې به کوم يو زائد لپاره د الحاق نه وي،
اختر ازي مثال: جَلْبَبَ،شَمْلَلَ
څلورم شرط: په دوو حروفو متجانسينو کې به لومړی متجانس تاء د باب اَفْتِعَال نه وي ،
اختر ازي مثال: اَقْتَتَلَ
پنځم شرط: په دوو حروفو متجانسينو کې به دوه واؤونه د باب اِفْعَلَّال نه وي،
اختر ازي مثال: اِرْعَوَوَ
شپږم شرط:په دوو حروفو متجانسينو کې به کوم يو تقاضا د تعليل نه کوي،اختر ازي مثال: قَوِوَ
اووم شرط: په دوو حروفو متجانسينو کې به د دوهم متجانس حرکت به عارضي نه وي،اختر ازي مثال: اُرْدُدِالْقَوْمَ
اتم شرط: دوه حرفه متجانسين به په يوه کلمه کې وي،اختر ازي مثال: مَكَّنَنِيْ
نهم شرط: دوه حرفه متجانسين به دوه ياءګانې به نه وي،اختر ازي مثال: حَيِيَ، رُقْيَيَانِ
لسم شرط: د دوو حروفو متجانسينو اسم به د لاندې پنځه اوزانونو څخه په يوه وزن نه وي هغه پنځه اوزان دادي (سَبَبٌ،رِدِدٌ،دُرَرٌ،عِلَلٌ،سُرُرٌ) ،اختر ازي مثال: د مَدَدَ او فَرَرَ څخه د مَدَّ او فَرَّ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده چي کله دوه حرفه متجانسين راشي په يوه کلمه کي ټول شرطونه پکي پوره نو يو په بل کي يو په بل کي به مدغم کيږي وجوبا

وجه دادغام: يی داده چي په ادغام سره نطق يسير او اسان کيږي په خلاف د غير ادغام سره ځکه غير ادغام سره دفعة پوځل سره نطق کول عسير وي

يا بله وجه يی داده چي زمانه دحرکت په مدغم سره اقله وي په نسبت سره زماني دغير مدغم ته او اقله زمانه په حرکت کي دا اخفه وي په نسبت سره طويلي زماني ته (زنجانی پنځوسمه ص شپږمه ح)

<u>اول اينکه اول متجانس مدغم فيه نباشد چنانچه ذحَبَّبَ</u>

يو شرط يی دادی چي اول مدغم به مدغم فيه نه وي ځکه ادغام په ادغام دا موجب دثقل وي ياځکه ادغام نه کيږي چي بيا انفکاک د ادغام اول راځي

دوم اینکه کسی از متجانس زائده برای الحاق نباشد چنانچه جلبب وشملل

بل شرط دادی چي یو دمتجانسینو به زاید لپاره دالحاق نه وي ځکه که په ملحقه کلمه کي ادغام وشي فایده دالحاق باطلیږي

سوم اینکه اول متجانس تای افتعال نباشد چون اِقْتَتَل

بل شرط دادی چي اول متجانس به تاء دافتعال نه وي ځکه که تاء دافتعال وي بیا ادغام جایز وو فک ادغام هم جایز وو

چهارم اینکه ان متجانس دو واو درباب افعِلَّال نباشد چون اِرْعَوَی که در اصل اِرْعَوَوَ بود

بل شرط یی دادی چي دوه متجانسین به دوه واونه دباب افعلالرنه وي َځاکه هلته بیا اعلال کیږي ادغام نه کیږي

پنجم اینکه کسی از متجانس مقتضی اعلال نباشد چون قَوِیَ که در اصل قَوِوَ بود

بل شرط دادی چي دوه متجانسینو کي به کوم یو تقاضی د تعلیل نه کوي َځکه بیا تعلیل مقدم دی په ادغام باندي ځکه کله چي په یوه کلمه کي تعلیل او ادغام معارض شي نو ترجیح به تعلیل ته ورکول کیږي ځکه تعلیل کي دادغام په نسبت خفت زیات وي

ششم اینکه حرکت ثانی عارضه نباشد چون اُرْدُدِالْقَوْمَ

بل شرط دادی چي دثانی متجانس حرکت به عارضي نه وي َځکه چي عارضي په حکم دسکون کي وي او دادغام لپاره شرط دادی چي ثانی به متحرک وي ساکن به نه وي ځکه بیا ادغام ممتنع دی لحصول الخفة

هفتم اینکه ان متجانس در دو کلمه نباشد چون مَکَّنِیْ واگر در دو کلمه باشد پس اگر ماقبل متحرک یا لین غیر مدغم باشد ادغام جایز ورنه ممتنع است

بل شرط دادی چي دوه متجانسین به په یوه کلمي کي وي ځکه که په دوه کلمو کي وي نو بیا به خالي نه وي یابه یی ماقبل متحرک یا لین غیر مدغم وي که متحرک وو ادغام جایز دی او که ماقبل یی لین غیر مدغم وو بیا هم جایزدی جایزاوکه ماقبل یی لین مدغم وو بیا ممتنع دی

چي متجانسین په دوه کلمو کي او ماقبل یی متحرک وي لکه لَا تَأْمَنَّا ځخه دلَا تَأْمَنَّا ویل جایز دي

Maktaba Tul Ishaat.com

او مثال دهغه متجانسينو چي په دوه کلمو کي وي او ماقبل يی لين غير مدغم وي لکه قَوْمُ مَالِک

هشتم اينکه ان متجانس دو ياء نباشد چون حَيِیَ ورُمْيَيَانِ

بل شرط دادی چي دوه متجانسين به دوه ياګاني نه وي

نهم اينکه ان متجانس در اسم در يکي ازين پنج اوزان نباشد چون فَعَلٌ. فِعِلٌ. فُعُلٌ. فَعِلٌ. فُعَلٌ. چون سَبَبٌ. رِدِدٌ. سُرُرٌ. عِلَلٌ. دُرَرٌ

بل شرط يی دادی چي دوه متجانسين به دلاندي پنځه اوزانو څخه نه وي ځکه که چيري په. سَبَبٌ. رِدِدٌ. سُرُرٌ. عِلَلٌ. دُرَر کي اعلال وشي نو سَبٌّ. رِدٌّ. عَلٌّ. دُرٌّ به شي نو اوس به پته نه لګيږي چي سُرٌّ جمع د سُرُوْر ده او که دسَرِيْر ده همدارنګه سَبٌّ دسبب په معنی دی که د کنځلو په معنی سره

قانون : سوی مصدر حرف مدغمش را بيا بدل کنند وجوبا چون دِيْنَارٌ وشِيْرَازٌ که در اصل دِنَّارٌ و شِرَّازٌ بود

څـــــلـورم قـــــــانـــــــون

ديدي قانون نوم دی د مضاعف څلورم قانون،په دي قانون کې يو حکم او يو شرط دی.
حـکـم: حرف مشدده په ياء سره بدلول واجب دي.
شـرط: پرته د مصدر څخه به اسم په وزن د فِعَّالٌ راغلی وي،اختترازيمثال: کِذَّابٌ
اتـفـاقــيمثال: د شِرَّازٌ څخه د شِيْرَازٌ او د دِنَّارٌ څخه د دِيْنَارٌ ويل واجب دي.

خلاصه دقانون داده کله چي حرف مشدد راشي پداسي اسم کي چي دفِعَّالٌ په وزن راغلی وي فِعَّالٌ وزن دمصدر نه وي نو حرف مشدد به په ياء سره بدليږي دا ځکه که چيري په خپل حال پريښودل شي نو داسم (چي اسم مصدر دی) بيا التباس راځي داسم مصدر سره نو حرف مشدد به ددفع دالتباس نه دمصدر سره په ياء سره بدليږي (فوايد کريميه يوسل دوه اويايمه ص)

تـــــــــــــــمت قواعد المضاعف بعون الملک العلام

(چند فوائد نافعه)

اوله فائده:

اَخْيَلْتُ. اَغْنَمْتُ اَغْيَلْتُ. اَطْيَبْتُ اَحْوَشْتُ اَطْوَلْتُ. اَخْوَلْتُ. كي ديقال قانون نه جاري كيږي ځكه دا شاذ دى (زنجانى شپږشپيتمه ص پنځمه ح)

دوهمه فائده:

اِسْتَحْوَذَ. اِسْتَوْصَبَ. اِسْتَنوَقَ كي هم ديقال قانون نه جاري ځكه دا شاذ دي (زنجانى اوه شپيتمه ص)

څلورمه فائده: َ
په حِوَالٌ كي د حياض رياض قانون نه جاري كيږي ځكه شاذ دى (زنجانى)

پنځمه فائده:

داجوف واوي څخه اسم مفعول د مَفْعُوْل په وزن او داجوف يايى څخه اسم مفعول د مَفِيْلٌ په وزن سره راځي ليكن مَشِيْبٌ. دشَوْبٌ څخه اجوف واوي دمَفِيْلٌ په وزن او مَهُوبٌ د هَيَبَ څخه داجوف يايى څخه دمَفْعُوْلٌ په وزن سره راځي شاذا او خلاف القياس (زنجانى شپږ اتيايمه ص)

شپږمه فائده:

كله چې په يوه كلمه كي ادغام او اعلال معارض شى اعلال ه به ترجيح وركول كيږي ځكه ادغام په نسبت اعلال كي خفت زيات دى (ارشادالصرف)

اوومه فائده:

په سماعى طور سره همزه بدل دعين څخه هم راځي لكه اُبَابٌ اصل كي عُبَابٌ وږ داجتماع الماء په معنى سره (مراح)

اتمه فائده:

تاء كله په سين سره هم بدليږي لكه اِتْتَخَذَ څخه اِسْتَخَذَ

Maktaba Tul Ishaat.com

نهمه فائده:

تاء كله كله په واو سره هم بدليږي لكه تُخْمَةٌ څخه وُخْمَةٌ

لسمه فائده:

كله كله تاء بدل دياء څخه هم راځي لكه ثِنْتَانِ اصل كي ثِنْيَانِ وو

يولسمه فائده:

كله كله سين په تاء سره هم بدليږي لكه سِتٌّ اصل كي اصل كي سِدْسٌ وو سين په تاء بدل شو سِدْتٌ شو وعدْتَّ قانون جاري شو سِتٌّ شو

دولسمه فائده:

كله كله صاد په تاء سره هم بدليږي لكه لَصْتٌّ اصل كي لَصٌّ وو َځكه دواړه قريب المخرج دي

ديارلسمه فائده:

كله كله لام په نون سره هم بدليږي لكه لَـَعَنَّ اصل كي لَعَلَّ وو ځكه بدليدلى شي چي لام او نون په مهجوريت كي سره يو دي

څوارلسمه فائده:

كله كله ياء په جيم سره هم بدليږي لكه اَبُوعَلِجٍ اصل كي اَبِوْعَلِيٍّ و ځكه بدليږي چي ترڅو ياء تحركات مختلفه د وقوع نه محفوظه شي ياء عامه ده كه مشدده وي ياغير مشدده

پنځلسمه فائده:

كله كله تاءپه دال سره هم بدليږي لكه فَزْدٌ. اِجْتَدَمَعُوا. اصل كي فُزْتٌ . اِجْتَمَعُوْا وو ځكه دواړه قريب المخرج دي (مراح)

شپاړلسمه فائده:

كله كله همزه په هاء سره هم بدليږي لكه هَرِقْتُ اصل كي اَرِقْتُ ووځكه همزه حرف شديده مستثقل دى او هاء مهموسه دى دواړه قريب المخرج دي (مراح)

اولسمه فائده:

كله كله عين په ياءسره هم بدليري لكه صَفَادِئْ اصل كي صَفَادِعٌ وو دصَفْدَعٌ جمع ده دا ځكه بدليري چې عى ثقيل وو او ماقبل ييى مكسور وو ععو ياء سره بدل شو ځكه ياء كي ثقل نشته كه ماقبل يى مكسور شي (مراح)

اتلسمه فائده:

كله كله باءپه ياءسره هم بدليري لكه اَلثَّعَالِئْ اصل كي الثَّعَالِبُ وو (مراح)

نولسمه فائده:

كله كله واو په ميم سره خلاف القياس هم بدليري لكه فَمٍ اصل كي فَوْهٌ وو

شلمه فائده:

كله كله سين په ياء سره هم بدليري لكه السَّادِئْ اصل كي السَّادِسُ وو

يويشتمه فائده:

كله كله ميم په نون سره هم بدليري لكه عَنْبرٍ اصل كي عَمْبَرٍ وو

دوه ويشتمه فائده:

كله كله سين په زاء سره هم بدليري لكه يَزْدِلُ اصل كي يَسْدِلُ وو

درويشتمه فائده

كله كله باء په ميم سره هم بدليري لكه مَازِلْتُ رَاتِمًا اصل كي مَازِلْتُ رَاتِبًا ووځكه مخرج كي سره يو وو

څلور ويشتمه فائده:

حذف په دوه قسمه دى اول حذف موجب دوهم حذف غير موجب

حذف موجب: مخكينى ټول حذفونه حذف موجبى وو

غيرموجب حذف: مثالونه دادي شَفَةٌ اصل كي شَفَهَةٌ وو فَمٌ اصل كي فَوْهٌ وو شَاةٌ اصل كي شَوْهَةٌ وو سَنَةٌ اصل كي سَنَوَةٌ وو دَمٌ اصل كي دَمْىٌ وو مِائَةٌ اصل كي مِأَىٌ وو اَبٌ اصل كي اَبَوٌ وو غَدٌ اصل كي غَدَوٌ وو اَخٌ اصل كي اَخَوْ وو اِبْنٌ اصل كي بَنَوٌ وو (مجموعه پنج گنج)

Maktaba Tul Ishaat.com

پنځه ويشتمه فائده:

حروف صفيره چي اواز ويستونکي وي صاد. سين. زاء دي

شپږويشتمه فائده:

اسم دخيل تعريف : اسم دخيل هغه اسم دی چي په لسان دعربو کي اصلا نه وي مګر دعربي ژبي سره پيوسته شوی وي لکه اَلْفِرْدَوْسُ دا رومي کلمه ده او عربی کي ورته الجَنّةُ وايی (مجموعه پنج ګنج)

اوويشتمه فائده:

اسم ظرف په اخر کی کله کله خلاف القياس تاء هم راتلای شي لکه مَغْفِرَة. مَقْبِرَةٌ. مَشْرِقَةٌ دا اکثرا دمبالغی لپاره راوړل شي يعنی ظرف کي مبالغه زياته وي او مَقْبُرَةٌ مَشْرُقَةٌ دا سي وزن داسم ظرف بيا شاذ دی (زنجانی)

اته ويشتمه فائده

اسم آله دمِفْعَل. مِفْعَلَةٌ . مِفْعَالٌ په وزن سره راځي اما مُدُقٌّ (آله د ويلو) مُنْخُلٌ. مُكْحُلَةٌ. مُحْرُضَةٌ په ضمه د ميم او عين سره شاذا راغلی دی (زنجانی)

اسم ظرف کله کله د مِفْعَالٌ په وزن سره هم راځي لکه مِيْلَادٌ (په معنی دپيدا کيدلو دوخت سره)

نه ويشتمه فايده:

اسم مرّة جوړول:

کله چي غواړي يوفعل يوځل ترسره کړي نو دجوړولو طريقه يی داده : چي فعل به خالی نه وي يابه ثلاثي مجردو څخه وي يابه دنورو بابونو څخه وي که دمجردو څخه وو بيا به خالي نه وي يابه يی اخر کي ابتدأ تاء وي يابه نه وي نو که چيري فعل دثلاثی مجردو څخه وي او اخر کی يی تاء نه وي نو دغه فعل ته به مصدر ويستل کيږي مصدر به د فَعْلَةٌ په وزن وي لکه ضَرَبْتُ ضَرْبَةً او که ثلاثی مجرد اخر کي يی تاء ابتدأ وي نو په خپل حال به پريښودل شي لکه دَرَيْتُ دَرْيَةٌ او که چيري بغير دثلاثی مجردو څخه وو نو بيابه حذف کيږي لکه خَرَجْتُ خَرْجَةً. دَخَلْتُ دَخْلَةً يعنی خَرَجْتُ خُرُوجًا . دَخَلْتُ دُخُولاً يی نشی ويلی او که فعل

غير ثلاثي مجرد وو اخر كي يى ابتدأ تاء وه نو توصيف به يى بيا په وَحْدَةٌ سره كيږي لكه رَحِمْتَهُ رَحْمَةً واحِدَةً .دَحْرَجْتَهُ دَحْرَجَةً واحِدَةٌ

او هغه مصدر چي په وزن دفِعْلَةٌ سره راشي نو دابه دنوع لپاره راځي لكه جَلَسْتُ جِلْسَةُ اى جِلْسَةُ القَارِئْ...(زنجانى سلمه ص)

ديرشمه فائده:

په اصالت دمصدر او فعل كي اختلاف:

دبصرينو او كوفييو په دي كي اختلاف دى چي اصل په اشتقاق كي يا مشتق منه فعل دى كه مصدر پ

مذهب بصريين: دوى وايى چي اصل په اشتقاق كي مصدر دى له څو وجهو نه اول دا مستقل بنفسه دى او احتياج نلرى فعل ته او فعل مستقل بنفسه ندى احتياج لري په معنى دلالت كولو كي اسم ته

مذهب كوفيين: دوى وايى اصل په اشتقاق كي فعل دى ځكه چي اعلال دمصدر موقوف وي تر فعل پوري او فعل ورته موقوف عليه دى په اعلال كي

ليكن دلته دبصرينو دليل په اصالت دمصدر دلالت كوي مطلقا او دكوفييو دليل دلالت كوي په اصالت دمصدر باندي په اعلال كي نو اصالت دفعل په اعلال كي له دي نه اصالت دفعل مطلقا نه ثابتيږي نو ځكه به مور ترجيح مذهب دبصرينو ته وركوو (شرح مائة عامل)

Maktaba Tul Ishaat.com

يويوشمير هغه صيغي چي ډيري مشکلي وي په اعلال کي نو ماهم دبيلابيلو شروحاتو څخه را جمع کړلي ترڅو دصيغو په نقل کي تري استفاده وشی (الاعبدالاحقر عبيدالماتريدي ګلشاخيل)

لَنِدَّغِمُ	نَدْتَغِمُ	ادَّکر اذکر ـتعلم اعلم نعلم
لِتُکْمِلُوْا	لِاَنْ تُکْمِلُوْا	نون اعرابی اصله لِاَنْ تُکْمِلُوْا والام فيه لام کی
لن فِصَامَ	اِنْفِصَامٌ	همزه وصلي لَاْنْ فِصامَ التقاء الساکنين
فَتُوُکِّلَ	تُوُکِّلَ	حلقی العين من فَتُومنُ فَتُوُ نحو من عَضُدٌ عَضْدٌ
لَنِتِّقْ	اِنْتَتِقْ	خصّم کظّم ـحکم الاول والثانی نحو قَتَّلَ قِتِّلَ
اَغِدِّقْ	اَغْتَدِقُ	خصم کظم التقاءالساکنين(الساکن اذاحرک الخ)
أُوْأُوْأُوْا	أُوْ أُوْءِءُوْا	جَاءٍ اويدم صار أُوْأُوْءِيُوْا يقول يوسر التقاءالساکنين فصار أُوْأُوْأُوْا
فَأْنْمُوْمِلْنَ	أَنْمُوْمِلْنَ	ماضی مجهول همزه وصلی ينبغی
اَصَّلِبُ	اَصْتَلِبُ	يکرم يصرف اطلم اظلم اَصْصَلِبُ فَعِلُ حلقی العين
تُوْنَ تُوْنَ	تُوْنَتُوْنَ تُفْعَلُوْنَ	علی اصله
فَعْدَةٌ	وعْدٌ	عدةٌثم وصل اليه فاءفصارفَعِدَةٌ ای فَعِلَ فصارفَعْدَةٌ حلقی العين
اِزّانَ	اِزْتَوَنَ	ادکر اذکر قال باع
مَتَنْتَفَنْتَفِیْ	اِنْتَفَی اِنْتَفِیْ	همزه وصلی قال باع ـهمزه وصلي قال باع
لَمُلَمْلِمْ	لَم اُلَمْلِمْ	يسل همزه وصلی
يُوْسُفِ	يَايُوْسُفُ اِوْفِیْ	منادی مرخمه فصار يَايُوْسُ اِوْفِیْ يعد امر حاضر لم يدع لم يُدْعَ ُ
أُوْفُوْفُوا	أُوْ فُوْفِيُوْا	يقول يوسر التقاء الساکنين
اِنَّ لِزَيْدًا	ان نَوْلِیْ	متجانسين يعد لم يدع لم يُدْعَ
وَدْبُدَبْدِبْ	أُدْبُبْ اِدِبْ	امر حاضر همزه وصلی ـ امر حاضر همزه وصلی
شَشٌّ	اِشْئَشٌّ	يسل متجانسين
شِهَبَارٌّ	شَهِیَ بَارِرٌ	حلقی العين من شَهِدَ شِهِدَ ـمضاعف دريم
وَشْلَلِشْلِلْ	اِشْلَلْ اِشْلِلْ	امرحاضرهمزه وصليه يسل همزه وصلی
قِيَاعَنِ الْفِیْ	اِوْقِيَاـاِعْوَنْ اِلْفِیْ	امرحاضر همزه وصليه نون اعرابيامرحاضر يقال التقاءيسلـ امرحاضر لم يدعُ لم يُدْعَ
دُغْدِغَ	دُغْدِغَ	ماضی مجهوله
نَبِّیُ زَيْدًا	نَبِّئُ	سُولَ
تَشَّشَّيْنَ	تَشْتَشِيْنَ	اسمع ـاشبه َـمتجانسين
مُمْبَثًّا	مُنْبَثًّا	ينبغی متجانسين

بَتَّجْدِيْ	بلْ تَوْجِدِىْ	يعد نون اعرابى حروف شمسي قمري
بَسَّتَّ	بَلْ سَوَدْتَ	حروف شمسى قمرى قال التقاء الساكنين قلن طلن وعدت
وُوِّ	اِوْوِيُوْا۔ اِوْوِىْ	امرحاضريعد يقول التقاءهمزه وصلى فصار۔ وُوْا ثم امرحاضريعدهمزه وصلى لم يدعُ لم يُدْعَ متجانسين فصار وُوِّ
بُدِوُّهِبَ	بُدِنَ وُهِبَ	ماضى مجهول يرملون ـماضى مجهول
هَمزّاهِدْ	هَمَزَا زَاهِدٌ	متجانسين
وَهْوَا	وَهُوَا	حلقى العين لان وَهُوَا نحو عَضُدَا فصار وَهْوَا
مَنْصَارٌ	نِصَارٌ	لما وصل اليه ميم فصار مَنِصَارٌ على وزن فَعِلَ حلقى العين
بَرَ	بَرِءَ	حلقى العين فصار بَرْءَ يسل صار بَرَ
اِلَّمْ	اِنْ اَلَمْ	يرملون يسل همزه وصلى
فَصُرْهُنَّ	اُصْبُوْرْ	يقول التقاءالساكنين همزه وصلى امرحاضر
مِيْمَ	مُومَ	قيل بيع
لِيُرَوْا	لِيُرْئَيُوْا	يسل قال باع التقاءالساكين نون نون اعرابى
اَلَمْ تَرَ	لَمْ تَرْئَىْ	يسل لم يَدْعُ لم يُدْعَ
لَكْ تِيِّهَ	كُتُوْىٌ	قويل قويلة دِعِىٌّ اضافت ثم وصل اليه الام فصار لَكْتِيِّهِ لَكْتِ نحو عَضُد حلقى العين فصار لَكْتِيِّهِ
فَدُكَّتَا	دُكِكَتَا	متجانسين مضاعف دريم
لَنَجِرَ	لَنْ اَوْجِرَ	يسل يعد
اِقْطَمَّحُتَ	اِقْطَنْ مَحُتَ	امرحاضر يرملون ماضى مجهوله
فَتَّاصُّوْا	تَوَاصَصُوْا	اسمع اشبهـ متجانسين
شٌ	اِوْ شِيُنْ	امرحاضرنون اعرابى يقول التقاء الساكنين همزه وصل
رِخ	رُخُوٌ	دِعِىٌّ اول دِعِىٌّ دوهم رِخِىٌّ يدعو يرمى التقاء الساكنين صار رِخ
مَقْضِىٌّ	مَقْضُوْوٌ	دِعِىٌّ اول قويل قويلة دِعِىٌّ دوهم
رَخَايَا	رَخَايِوُ	شرائف دُعِىَ رخايا خطايا قال باع
يَتَّقْهِ	يَوْتَقِىُ	اتقد اتسر لم يَدْعُ فصار يَتَّقِ ثم وصل اليه ضمير الهاء فصار يَتَّقِهِ اى عَلِمَ حلقى العين فصاريَتَّقْهِ
اَنَّ اَنَّ	اِنْنَنْنَ	نحو اِنْصَرَفْنَ متجانسين متجانسين

Maktaba Tul Ishaat.com